بسم الله الرحمن الرحيم

الله اکبر

ملی اسلامی محاذ

محاذ

Information Centre

دافغانستان ملی اسلامی محاذ

بسم الله الرحمن الرحیم

ام حسبتم أن تدخلوا الجنة ولما یأتکم
مثل الذین خلوا من قبلکم مستهم البأساء و
الضراء وزلزلوا حتی یقول الرسول والذین آمنوا
معه متی نصر الله الا ان نصر الله قریب

ترجمه: آیا پنداشتید ای مردمان که درآیید به بهشت حال آنکه هنوز پیش نیامده
است شمارا حالت آنانیکه گذشتند پیش از شما رسید بایشان
سختی و محنت وجنبانیده شدند تا آنکه می گفت پیامبر و
کسانیکه ایمان آوردند باوی که نصرت خدا چه
وقت است آگاه باشید که نصرت
خداوند نزدیک
است.

بسم الله الرحمن الرحيم

محاذ

در هر دو ماه یکبار نشر می شود.

سال دوم ـ شماره ـ اول ـ قوس ـ جدی ۱۳۶۶ هجری شمسی

مطالب عمده ای که درین شماره میخوانید

۱ : ـ سرمقاله

۲ : ـ د افغانستان د ملی اسلامی محاذ مشر پیر سید احمد گیلانی د شمالی وزیرستان په میرانشاه کی د مجاهدینو، مهاجرینو او انصارو سره کتنوری خبری وکړی.

۳ : ـ موږ باید په یوالی او اتحاد سره په یوه صف کی د دښمن مقابله وکړو.

٤ : ـ په افغانستان باندې د روسانو وحشیانه تیری په زیاته کر که او نفرت سره وغندل شو.

۵ : ـ قطع نامه اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان.

۶ : ـ د افغانستان د مجاهدینو د اسلامی اتحاد د رئیس جناب مولوی ـ یونس خالص مطبوعاتی کنفرانس.

۷ : ـ د روس د تیری د غندلو له امله د افغان مجاهدینو او د پاکستان د انصارو ورونو گډه غونډه.

۸ : ـ د افغانستان د ملی اسلامی محاذ مرستیال ډاکتر فاروق اعظم د وینا لنډیز.

۹ : ـ اساسات حکومت اسلامی.

۱۰ : ـ چه ومو لیدل نو وموننل.

۱۱ : ـ مسلمانان پایه گذاران اصلی نظام مالی، اداری و نظامی میباشد.

۱۲ : ـ مجاهدین افغانستان یگانه مانع قوی در مسیر ستراتیژی روس بوده و مجاهدین . . .

۱۳ : ـ په افغانستان کی د جهاد راتلونکی.

۱۵ : ـ د ډیری مودی خپگان ئی په خوښی بدل شو.

۱۶ : ـ له مجاهد قوماندان قاری عبداله سره مرکه.

۱۷ : ـ سلاح و آموزش آن.

۱۸ : ـ شهدای راه حق.

ادرس ما:

د افغانستان ملی اسلامی محاذ
فرهنگی ریاست
د نشراتو لوی مدیریت
پوست بکس ۵۴۲
کبابیان ـ پشاور ـ پاکستان

د وروستي برى په لور

د روان لمريز كال د جدي په شپږمه نيټه زموږ په ګران هيواد افغانستان باندې د روس د نظامي ځواك د وحشيانه تيري اتم كال پاى ته ورسيد. روسانو په دې اتو كالو كى په نظامي او سياسي ساحو كى زياتى هڅى وكړې چې د افغانستان د سربښندونكي او غيرتمن ملت بې دريغه مقاومت مات كړي خو بريالي نه شول د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت مقدس جهاد نه يوازې په ملي سويه بلكى په بين‌المللي سويه هم كمونيزم ته په نظرياتي لحاظ ماتى وركړه. په نظامي ساحه كى هم د افغانانو د بې شميره قربانيو په وزكولو سره د روسانو پوځي تفوق لكه څنګه چې روسي مارشالانو او جنرالانو خدس وهلى و د افغانانو د آزادۍ جذبه ماته نه كړاى شوه بلكې برعكس دغه تباه كوونكي او مخرب جنګ كه له يوې خوا د افغانستان د مسلمان ولس ته بې شميره بدبختۍ په ارمغان راوړې خو له بلى خوا ئې دغه په دين او آزادۍ مين ولس د پولادو په شان كلك او آبديده كړ. سره له دې چې په دغه جګړه كې روسانو د دې اتو كالو په اوږدو كې د خپلو سرو لښكرو د جنايتكارو پوځيانو پواسطه له اتومي وسلې پرته نور له هيڅ ډول مخربو او تباه كوونكو وسلو څخه دريغ ونه كړ خو بيا هم اوس په تدافعي حالت كې قرار لري او مجاهدين د زمريانو په شان د دوى په نظامي قرارګاو او پوځي پوستو او تأسيساتو خپلو ماتوونكو بريدونو ته دوام وركوي .

كله چې روسان په دې پوه شول چې د جنګ او جګړې له لارې افغانان نشي ماتولى او د افغانستان ايلول ورته محال ښكاره شول نو په دې هڅه كې شول چې دغه بايللى جنګ د سياسي سازشونو او خدعو له لارې تلافي كړي او په خپلو غوړو او پستو خبرو سره د هيواد، سيمې او نړۍ د خلكو پاملرنه له اصلي او بنيادي هدفونو څخه چې د روس د سرو لښكرو بې قيد او شرطه وتل د افغان مجاهدينو په خوښه په افغانستان كى د يو بشپړ آزاد، اسلامي او منتخب نظام جوړول دى، بلى خوا ته واړوي، نو ځكه ئې د تير كال د جدي په ۲۵ نيټه ئې يو طرفه ډزبندي اعلان كړه، د ملي پخلا توب او روغى جوړې پروګرام ئې وړاندې كړ، د كال په اوږدو كى ئې په بيلو بيلو نيرنګونو سره د تش په نامه اساسي او د مخالفو ګوندونو د قوانينو په تصويب لاس پورې كړ. د كى، جى، بى او خاد له كاركوونكو څخه ئې د «اسلامي ګوند» په نامه يو تش په نامه او ساختګى مخالف ګوند جوړ كړ. تش په نامه قلا بى لويه جرګه ئې جوړه كړه، د دولت نوم ئې بدل كړ او د ديموكراتيك كلمه ئې ورڅخه حذف كړه. نجيب او ګوندي انډيوالانو ئې په جوماتونو كى په لمونځونو پيل وكړ. د ائتلافى حكومت پيشنهاد ئې وړاندې كړ. خو دې ټولو چالونو او نيرنګونو د افغانستان د مجاهد او سرتير ولس په عزم او اراده كې يو فيصد بدلون هم را نه وستى شو. دا ځكه چې روس او د دوى ځنځيري غلامانو د افغانستان د مسلمانو پرګنو او د دوى د دين، ملي شؤناتو او ټولنيز عزت په وړاندې داسې جنايات سرته رسولي دي چې هغه په هيڅ ډول په نقاب او پرده كې نشي پټيدلاى. پاتى په (۴) مخ كى

دافغانستان د ملی اسلامی محاذ مشر پیر سید احمد گیلانی د شمالی وزیرستان په میرانشاه کې له مجاهدینو، مهاجرینو او انصارو سره گټوری خبری وکړی

د افغانستان د ملی اسلامی- محاذ لارښود پیر سید احمد گیلانی د ۱۳۶۶ کال د جدي په نهمه نیټه په داسې حال کې چې د سپرلۍ موټر ئې د یو گروپ موټر سپرو له خوا بدرگه کیدو د الله اکبر د ملکوتي نارو او «بریالي دې وي د حق د لارې مجاهدین» «مړه او نابود دې وي روسان او د هغوی غلامان» «بریالی دې وي اسلام» «او ژوندی دې وي د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت روحاني مشر پیرسید احمد گیلاني» د شعارونو په څپو کې د غرمې په دوو بجو د میرانشاه ښار ته ورسید او په هغه درنده غونډه کې ئې گډون وکړ چې د هغه ځای د زرگونو تنو مجاهدینو، مهاجرینو او انصارو په گډون د دوی د راتگ په مناسبت جوړه شوې وه.

د افغانستان د ملي اسلامي- محاذ مشر په دې درنده غونډه کې د خپلې جامعې وینا په ترڅ کې د افغانستان د روانو حالاتو په تیره بیا د قهرمانو مجاهدینو د سربښندنو او غورځنگونو په اړه اوږدې خبرې وکړې او د حاضرینو پام ئې د خوست د لښکر کوټ محاصرې ته راواړاوه وئې ویل: **د ځدرانو او د سیمې له قهرمانو مجاهدینو څخه زما هیله دا ده چې په پوره یووالي او د اسلام او وطن د پاکې مینې په عالي روحیه په دې حساسو او تاریخي شیبو کې پر ماتې خوړلي دښمن باندې خپل پولادي گوزارونه لا پیاوړي کړي تر څو شرمیدلی دښمن د خوست د لښکر کوټ د محاصرې په ماتولو بریالی نه شي.**

په دې غونډه کې پر نورو ویناوالو سربیره مولوی محمد رومان- دوړ او د وزیرو د قام یو تن مخور د میرانشاه د اتحاد قبایل جنرل- سکرتري خان مرجان هم پخپل وار د افغانستان له مجاهد ملت سره یوځل بیا خپل ملاتړ اعلان کړ او ژمنه ئې وکړه چې د شمالي وزیرستان مسلمان خلک به د خپلو نیکونو په قدم روان پاتې شي او د اسلام د خدمت په لار کې به د خپلو سرونو له قربانۍ څخه دریغ ونه کړي.

د افغانستان د ملي اسلامي- محاذ مشر پیر سید احمد گیلاني د غونډې له پای ته رسیدو وروسته د وزیرو د قام د مشر مرحوم (ملک- جهانگیر خان) فاتحې ته ورغی او د هغه مرحوم د کورنۍ غړیو ته ئې ډاډگیرنه ورکړه. او د هغه مرحوم روح ته ئې دوعا وکړه همدارنگه پیر سید احمد گیلاني د هغو شهداو کورونو ته هم ورغی او د هغوی روح ته ئې دوعا وکړه چې په دې وروستیو وختونو کې د جهاد په مقدسو سنگرونو کې شهیدان شوي وو.

د افغانستان د ملي اسلامي محاذ لارښود پیر سید احمد گیلاني د جدي په لسمه نیټه د ځدرانو او د سیمې د نورو خلکو د مجاهدینو له قوماندانانو سره وکتل او د خوست د لښکر کوټ د محاصرې د لا ټینگولو په اړه ئې لازم هدایتونه ورکړل او بیا ئې په هغه میلمستیا کې گډون وکړ چې د شمالي وزیرستان د مشرانو له خوا د دوی په ویاړ

ترتیب شوې وه، په دې میلمستیا کې پیر سید احمد ګیلاني د وزیرو مسیدو او دوړو له مشرانو او علماو سره ګټورې خبرې وکړې.

د افغانستان د ملي اسلامي محاذ د مشر پیر سید احمد ګیلاني د هدایت له مخې د مجاهدینو په سلګونو تنه تازه دمې لښکرې د ځوان مجاهد سید محمد ګیلاني او جنرال رحمت‌الله صافي په مشرۍ د جدي په یوولسمه نیټه د ځدرانو او خوست جبهاتو ته روانې شوې ترڅو په هغو جهادي سنګرونو کې د نورو مجاهدینو په ملګرتیا د خوست د لښکرګېټ د محاصرې کړۍ لا نوره هم ټینګه کړي او د کمونستو روسي لښکرو په طاغوتي ځالو باندې خپل ګوزارونه پیاوړي او ماتې خوړلي دښمن له غوښې ماتې سره مخامخ کړي.

د (۳) مخ پاتې

د وروستي بری ...

> مسلمان گرچه بی خیل و سپاهی است
> ضمیر او ضمیر پادشاهی است
> اگر او را مقامش باز بخشند
> جمال او جلال بی پناهی است
>
> اقبال

د دوی لاسوله او غابښونه د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت د خورو ورو پرګنو د پیلو پیلو صفونو او قشرونو په وینو سره دي.

همدا سبب وو چې سږکال د جدي په شپږمه ورځ په افغانستان باندې د روس د تیري او وحشیانه یرغل د غندنې مراسم په هیواد، سیمه او نړۍ کې د دې ښکارندوی وو چې دا مجاهد او سربښند و نکی ولس په هیڅ توګه او په هیڅ شکل سره د کابل د کمونستي لاسپوڅو سیاسي تسلط په ځان نشي منلای.

د کابل مسلمانو خلکو د خپلو شب نامو په ویشلو. او وسله والو بریدونو، مجاهدینو د خپل وسله وال مقاومت د لا ټینګښت او غښتلتیا، په پاکستان او ایران کې اوسیدونکو مجاهدینو او مهاجرینو د سترو او شاندارو غونډو په جوړولو سره خپله وروستۍ فیصله په دې توګه اعلام کړه چې ترڅو پورې له افغانستان څخه روسان بې قید او شرطه نه وي وتلي او په افغانستان کې یو ملي، اسلامي او د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت په خوښه آزاد او منتخب نظام منځ ته نه وي راغلی؛ موږ به خپل مقدس جهاد ته دوام ورکړو:

زموږ روحانی مشر او دافغانستان د ملي اسلامي محاذ رهبر پیر سید احمد ګیلاني په میرانشاه کی د مجاهدینو مهاجرینو او انصارو یوې درندې غونډې ته وویل :

موږ باید په یووالی او اتحاد سره په یو صف کې د دښمن مقابله وکړو

بسم الله الرحمن الرحیم
نحمده ونصلی علی رسوله الکریم وقائد المجاهدین و المهاجرین اما بعد :

زما ګرانو مجاهدینو ، مهاجرینو او انصارو ورونو السلام علیکم.
دا زما لپاره ډیر د خوشحالۍ ځای دی چی[illegible] هم وخت مساعد شو څو خپلو [illegible]ورو او په اسلام مینو

مجاهدینو، مهاجرینو او انصارووروڼو ته د جهاد په باره کی څو خبرې وکړم. لکه چی تاسی هم خبر یاست او پوره پوهیږی چی دښمن په دې وروستیو وختونو کی ډیر زور لګولی

دی څو د خپل دځان له پاره د ختمو بوزه جوړه کړي . دښمن ماتی خوړلی ده او د ماتی په حال کی دی څو له ناکامه هرې خواته او په هر څه

ټوري منګولی لګوي . څو له خپلو زړورو مجاهدو وروڼو څخه زما هیله داده چی په دې وروستی وخت کی د خپل مسئو لیت په وړاندې غافل پاتی نه شي او یوه شیبه هم کښېنی

څو دښمن ته د بري هیڅ ډول موقع په لاس ورنه شي .
تاسو ته پوره ښکاره ده چی په پکتیا کی له ډیر وخت څخه راهیسی

الحمدالله روسان مخ په ماتی دي دا لس کاله کیږي چي روسانو د ځدرانو په سیمه خپل زور ازمویلی دی خو بری یی نه دی موندلی او ستو کنلو څخه نه دي راوتني اوس یی په دې سیمه زور لګولی دی نو زما یوازینی هیله همدا ده چی زموږ میړني مجاهدین ددښمن دازور په ملاووهي او مات یی کړي. چی په دې اخر وخت هم بیرته مختورن وتښتي.

زه ستاسی د ټولو توجه او پاملرنه دې ټکي ته راګرځوم چی د جهاد په ټولو سنګرونو کی ټول مجاهدین په خپلو کی سره ورونه دي. موږ ټول تنظیمونه سره یو موټی او متحد یو. موږ باید په یووالي او اتحاد سره او په یو صف کی ددښمن مقابله وکړو. موږ باید دیو اوبل ترمنځه هیڅ توپیر اوفرق رانه ولو.

په سیاسي میدان کی هم الحمدالله بری زموږ په برخه دی له یوې خوا الحمدالله موږ ورځ په ورځ د یووالي او کامل اتحاد د ټینګید وپه لور روان یو. له بلی خوا په نړیوا له سویه هم ټولی دنیا زموږ دحقیقی او برحق جهاد ملاتړ کوي دی او کوی یی. زما له هغو مسلمانو افغانی ورونو څخه چی دوی په هیواد کی د دننه ددښمن په سیمه کی پراته دي، هیله داده چی نور ددښمن دتورو لاندې ژوند ونه کړي. او هر څیرې چی دي له خپلو مجاهدو ورونو سره یو ځای شي او په یو صف کی ور سره ودریږي. څو په دې اخرو وختو کی (خدای دې نه کړی) په بدرنګ او تور مخ ددښمن په صف کی حساب نه شي.

همدا اوس هم په خوست کی هغه مسلمانان چی د دښمن د تورو لاندې دي دښمن یی په زور سره د خپلو مجاهدو ورونو په مقابل کی ودروي.

موږ او زموږ مجاهد ورونه خو دحق په طرف ولاړ یو او د یو اسلامي نظام د راوستو له پاره جهاد کوو. هغه نظام چی په زور سره په موږ تپل کیږي او یا تطبیق کیږي هغه له منځه وړو.

په اخر کی زما له خپلو مجاهدو مهاجرو او انصارو ورونو څخه دا هیله ده چی په خپلو منځو کی داسی ژوند وکړي لکه په مدینه منوره کی د صدر اسلام په وخت کی به چی مهاجرو او انصارو په خپل منځ کی کاوه. زه له مهاجرینو څخه خواهش کوم چی له انصارو سره د خپلو ورونو په شان ګوزاره وکړي اوهیڅ وخت له دوی سره بده رویه ونه کړي خو چی انصار ورونه د مهاجرینو څخه په تنګ نه شي او (خدای مه کړه) کرکه یی په زړه کی پیدا نه شي.

همدارنګه له خپلو انصارو ورونو څخه هم دا امید لرم، تر هغه وخته پوري چی افغانستان آزاد شوی نه وي او تر هغه وخته پوري چی اسلامي نظام پکی راغلی نه وي دغه خپل مهاجر ورونه په خپله غیږ کی ونیسي.

دغه راز د خپل ورور ملک پاکستان او دهغه له ملت اوحکومت څخه او همدارنګه ددوی له مشرانو جمهور رئیس جنرال محمد ضیاوالحق صدراعظم محمد خان جونیجو او د حکومت له ټولو غړو څخه مننه کوم چی دوی د خپلی اسلامي جذبی له مخی ددیرو زیاتو مشکلاتو په زغملو سره موږ ته پناه راکړې ده اوسختی ورځی یی راسره تیري کړي دی او اوس یی هم تیروي. که وخت یی راغی او ضرورت پیدا شو نو موږ به هم همداسی توره او سیرانه ورسره کوو.

والسلام

په افغانستان باندې د روسانو وحشیانه تیری په زیاته کرکه او نفرت سره وغندل شو

په افغانستان باندې د روسانو وحشیانه تیری او ظالمانه یرغل سږکال د افغانستان د مجاهدینو د اسلامي اتحاد لهخوا د یو سترې او شاندارې غونډې په ترڅ کې چې دروان کال دجدي په شپږمه نیټه په پېښور کې جوړه شوې وه د افغانستان د اسلامي اتحاد ځینو مشرانو لکه مولوی محمد یونس خالص، پیرسیداحمدګیلاني، پروفیسور صبغت الله مجددي او مولوي محمدنبي محمدي په ګډون په سلګونو زرو مجاهدو او مهاجرو افغانانو او دپاکستان انصارو ورونو پکې ګډون کړی و؛ په زیاته کرکه او نفرت سره وغندل شو.

دغه غونډه د قرآن پاک د څو مبارکو آیتونو له لوستلو وروسته د محترم سیدنورالله عماد په افتتاحیه وینا پرانستل شوه او ورپسې د افغانستان دمجاهدینو داسلامي اتحاد د ریس مولوی محمد یونس خالص خپله ارزښتناکه وینا واوروله او د خپلې وینا په ترڅ کې یې د اتحاد په بیلو بیلو اړخونو او د افغانستان د مسلمان او مجاهد ولس په روان جهاد رڼا واچوله چې د هغې په یوه برخه کې یې داسې وویل:

«... موږ د اتحاد په باره کې بايد دوه خبرې څرګندې کړو: لومړی د اتحاد هدف او دوهم د اتحاد لارې چارې دي.

«لومړی هدف د مجاهدینو د صفونو (لیکو) توحید دی. دا هدف به هله ترسره کیږي چې د مجاهدینو او قوماندانانو لهپاره ځینې مشخصات او اوصاف تعین کړی شي. ددښمن عمال او جواسیس ونه کړای شي چې پهدغو صفونو کې ځای پیدا کړي.

«دوهم هدف دادی چې موږ د خپلو هغو مسلمانو او مجاهدو ورونوته چې هغه دهیواد په داخل کې په دایمي ډول د روسانو تریرغل لاندې دي او هغو ورونو ته چې په پاکستان، ایران اوپه هرځای کې چې

دي دا اطمینان ورکړو چې دا ټول
دافغانستان د مسلمان ملت غړي دي
او موږ او تاسو به همیشه په خپل
منځ کې دوروری په لاره قدم اخلو
موږ به هیچا ته اجازه ورنه کړو چې
دمجاهدینو او مهاجرینو ترمنځ او یا
دیو ځای اوبل ځای مهاجرینو ترمنځ
تفرقه او جلاوالی راولي او هغوی‌ته
جلاجلا فکر ورکړي او دا هیواد
او دا ټولنه ددغې تفرقې په اساس
تباه او برباد کړي .

« دریم هدف دادی چې زموږ
اتحاد به هڅه وکړي چې د علمای
کرام پواسطه د یو اسلامي حکومت
له پاره ذاتي طرح جوړه او په کار
واچوي چې زموږ خلک او نور
نړیوال په دې پوره داده شي چې
اسلامي حکومت د بشریت له پاره
د خیر وظیفه لري او هیڅکله هم
شر په‌لاره عمل نه کوي » .

دغه راز مولوی محمد یونس خالص
خلکوته داد ورکړ چې د روس دقطعي
ماتې‌شپې او ورځې‌رانږدې شوې دي
ځکه یې په هیواد کې دننه د جګړې
فشار زیات کړی دی . داتحاد رئیس
مولوی محمد یونس د خپلې وینا په
پای کې د هغه پریکړه لیک متن هم
ولوست چې دافغانستان د مجاهدینو
داسلامي اتحاد له‌خوا دجدې‌دشپږمې
ورځې له املې ترتیب او صادر شو .

په‌دغه لویه او شانداره غونډه
کې د جماعت اسلامي یو مشر
شیخ القرآن مولانا عبدالرحیم چترالي
د عربي نړۍ نامتو عالم او مبلغ
شخصیت محترم شیخ عبدالمجید
«زنداني» او دپاکستان دجمعیت‌العلما
اسلام یومشر ، دحقانیه نامتو مدرسې
مهتمم ، شیخ‌الحدیث او د پاکستان
د مشرانو جرګې سناتور مولانا
سمیع‌الحق یو په بل‌پسې د جهاد او
نصرت د فریضو او فضیلتونو په باره
کې لنډې وینا‌وې وکړې او دروس
د پوځې او تیري کوونکي قدرت په
وړاندې یې دافغانستان دمجاهد ملت
مقاومت ، میړانه او سربندنه وستایله .

زموږ خبریال په خپل رپوټ
کې لیکي چې دغونډې ځای داتحاد
په بیرغ او په تورو ، سپینو او شنو
ټوکرونو باندې ، چې د افغانستان د
مجاهد ملت د جهاد ، یووالي ، د
روسانو د تیري په خلاف او په
افغانستان کې دیو ملي اسلامي نظام
دجوړیدو په باره کې ؛ شعارونه پرې
لیکل شوي وو ښکلی کړی شوی و
او ددغونډې په‌اوږدو کې دمجاهدینو
له خوا له ولولو او جذباتو ډک
شعرونه او شعارونه لوستل کیدل او
په مناسبو وختو کې به د غونډې د
ګډون کوونکو لخوا دتکبیر ملکوتي
نارې پورته کیدې .

دغه‌ستره اوشانداره غونډه چې
دسهار په نهه نیمو بجو پیل شوې وه
د غرمې تر ۱۲ نیمو بجو پورې یې
دوام وکړ وروسته د اختتامیه دعا
په لوستلو سره پای ته ورسیده .

قوماندان به مجاهدین خود در مورد خطر احتمالي قواى روسي
دستور ميدهد

قطع نامه اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان به مناسبت تقبیح اشغال ظالمانه افغانستان توسط روسها

بسم الله الرحمن الرحیم

قاتلوهم یعذبهم الله بایدیکم و یخزهم و ینصرکم علیهم و یشف صدور قوم مومنین ط

مسئله افغانستان نتیجه مستقیم مداخله و تجاوز روسها است روسها با این تجاوز وحشیانه و بی شرمانه شان نه تنها استقلال سیاسی افغانستان را از بین برده اند، بلکه برخلاف موازین بین المللی در افغانستان حقوق بشری را پایمال نموده و بدین سان خطر بزرگی را متوجه امنیت منطقه و جهان ساخته اند.

جهاد جاری وطولانی افغانستان در مقابل اشغالگران روسی، قیام ظفرمند ملت غیور و مسلمان ماست که به خاطر دفاع از حریم مقدس عقیده و وطن آغاز شده و اینک با تمام ثبات و پایمردی تا سرحد پیروزی ادامه دارد. گرچه این جهاد خونین برای ملت مجاهد و مؤمن ما یک و نیم ملیون شهید و به ملیونها زخمی و معیوب، بیوه و یتیم به ارمغان داشته و زیاده تر از پنج ملیون نفر از کشور عزیز ما مهاجرت گزیده و ملیونها هموطن ما به مهاجرت داخلی دست زده اند، ولی با آنهم فضل و مرحمت خداوند بزرگ و ثبات و قربانی ملت مجاهد و قهرمان ما این قدرت وحشی و جهانخوار را به زانو درآورد و به همکاری ضمیر بیدار و وجدان جهانیان در ساحه بین المللی نیز شرمسار گردید.

در داخل افغانستان به اثر ضربات کوبنده مجاهدین راه حق روسها مجبور شدند تا موقف تعرضی خویش را از دست داده و حالت دفاعی اختیار نمایند.

درگذشته ها روسها به سنگرهای خونین مجاهدین حمله می نمودند ولی اکنون سنگرهای پوشالی روسها به آماج حملات دلیرانه مجاهدین مومن ما قرار می گیرد.

روسها اکنون در هرجا از ترس و وحشت مجاهدین خود شان خود را محاصره نموده و اطراف قرارگاه های نظامی شان را مین های حفاظتی گذاشته اند.

روسها در افغانستان از هیچ نوع وحشت و استعمال سلاح های ویرانگر دریغ ننموده اند ولی با وجود آن شرایط و وضع به نفع ملت مجاهد ما می گذرد و پیروزی محتوم مجاهدین قهرمان ما روشنتر می گردد.

در میدان سیاسی روسها به خاطر فریب مردم عروسک های دست نشانده شانرا نابود نمودند بیرق کثیف و سرخ کمونستی شان را تغیر داده و از حنجره های مزدوران کافر شان آواز اسلام را بلند کردند. همچنان اوربند یک طرفه، پروگرام وطرح آشتی ملی، تشکیل لویه جرگه قلابی و تصویب به اصطلاح قانون اساسی همه از جمله فریب کاری های است که روسها اخیراً در صحنه سیاسی به کار گرفته اند، ولی این سلسله تزویر و نیرنگ برای روسها جز شرمساری و رسوائی بیشتر به بار نیاورد.

در حالی که روسها با بیشتر از یک صدو پنجاه هزار عسکر مسلح خویش بر کشور عزیز ما حمله نموده اند و آنرا به خاک و خون کشیده و هنوزهم سلسله ویرانگری و تجاوز شان ادامه دارد در چنین حالی اوربند اصلاً معنی ندارد.

از نظر ما موافقه با اورپند در حقیقت به مثابه پذیرفتن روسها در افغانستان است .

طرح آشتی ملی از همان روز های اول با فضیحت و رسوائی هم‌نوا بود ، زیرا در افغانستان جنگ داخلی وجود ندارد که با تفاهم و آشتی فریقین مسئله حل گردد .

درین جا جنگ بین روس و افغانها است چند تن دست نشانده گان خلقی و پرچمی عساکر بی اراده و مزدوری بیش نیستند ، که صلاحیت هیچ نوع تصمیم گیری را ندارند فرضاً اگر مصالحه و آشتی ! مطرح باشد با روسها باید صورت گیرد در حالیکه روسها نه هموطن ما اند و نه سؤال مصالحه با آنها مطرح است !

همچنان که ارتش روس عملاً با ملت مظلوم افغانستان می جنگد تدویری به اصطلاح لویه جرگه و قانون اساسی اصلاً قابل قبول نبوده و در زیر ساتور روسها تنها تدویر جرگه ای ممکن است که روسها می خواهند ، و تنها قانونی به تصویب می رسد که به نفع روسها می باشد .

در وضعیتی که ارتش اشغالگر روسی در افغانستان موجود است ثلثی از نفوس کشور در مهاجرت به سر می برند و ۹۰ فیصد اراضی کشور نه تنها آزاد گردیده بلکه مستقیماً توسط مجاهدین اداره می شود و تمام امور مربوط به زنده گی مردم به شمول محاکم ، مدارس و شفاخانه ها توسط مجاهدین به پیش برده میشود براه انداختن تبلیغاتی بنام لویه جرگه و قانون اساسی تنها سبب افتضاح و رسوائی آنها خواهد بود . هکذا طرح پیشنهادی روسها برای تشکیل حکومت ائتلافی نمایانگر آخرین معیار رسوائی و بی حیائی روسها بوده است چگونه ممکن است تا ملت مؤمن ما با قاتلان خود که با همراهی تانک های روسی داخل افغانستان گردیده و در طی این جنگ طولانی ملت مظلوم ما را آواره و قتل عام نموده اند حکومت ائتلافی را تشکیل دهند !

خداوند (ج) و خون پاک شهدای عزیزما روسها را در ساحهٔ بین المللی نیز رسوا وشرمنده ساختند علی الرغم تلاش های که بخاطر مغشوش ساختن اذهان عامه جهانیان اجرامی نمودند مگرهنوز که وجدان بشری بخواب نرفته است نسبت به همه سال های گذشته اکثریت قاطع مجمع عمومی سازمان ملل متحد در مقابل روسها رای دادند .

مذکرات ژینو که جوانب اصلی قضیه‌درآن اشتراک ندارند قبلاً توسط مجاهدین بی نتیجه وضیاع تلقی شده اند . این مذاکرات بر خلاف منشور سازمان ملل متحد ومغایر با فیصله نامه ماه نومبر سال ۱۹۸۰ میلادی این سازمان در باره مسئله افغانستان به نفع روسها ادامهٔ دارد تا زمانیکه مطابق خواست و آرمان مجاهدین مومن ما فیصله بعمل نیاید و حق تعین سر نوشت تنها به ملت مجاهد ما تفویض نگردد اینگونه کنفرانس ها و مجالس نمیتوان به نتایج مثبت و مطلوب برسند . تا اکنون برای خروج نیروهای روسی هیچگونه اقدام عملی به مشاهده نرسیده به نظر ما برای چنین اقدام گام نخست این خواهد بود تا روسها مستقیماً برای مذاکره با مجاهدین حاضر شوند . اتحاد اسلامی مجاهدین افغانستان که یگانه نماینده و ممثل ملت مجاهدافغانستان می باشد اعلام میدارد که حاضر است تا پیشنهاد روسها برای مذاکرات مستقیم با مجاهدین را تحت غورو بر رسی دقیق خویش قرار دهند . مگر ما قاطعانه فیصله نموده ایم که جهاد مسلحانه ما تا هنگامی ادامه خواهد داشت که :

۱ - روسها بدون قید و شرط و بطور فوری از افغانستان خارج شوند .

۲ - استقلال سیاسی افغانستان ، تمامیت‌ارضی و تمام

حقوق مردم ما تامین گردد

۳ - نظام اصیل اسلامی در افغانستان استقرار یابد .

۴ - مردم ما بدون فشار و تهدید خارجی حق تعین سر نوشت شانرا کسب کنند .

۵ - طوریکه مجاهدین افغانستان با تنهائی جنگ بزرگی را در برابر ابر قدرت روس پیروز مندانه ادامه می دهند ۹۰ فیصد اراضی کشور را آزاد ساخته و در آن هزاران مدارس شفاخانه ها و محاکم عدلی را فعال ساخته اند پیوست با خروج نیرو های روسی حکومت آینده افغانستان را نیز مجاهدین تشکیل دهند

۶ - ما نه تنها در خاک کشور ما باقوای روسی مخالفیم و در مقابل آن جهاد میکنیم بلکه هر نوع قوای بیگانه تحت هر عنوانی که داخل خاک ما می گردد تجاوز بر خاک خود می شماریم . ملت مومن ما توانائی این را دارد که پس از خروج قوای روسی خود امنیت کشور را تامین کنند . ما در حالیکه از کشور های همسایه مخصوصاً پاکستان کشور های اسلامی و تمام جهان صلحدوست که در داعیه بر حق به ما یاری رسانده ابراز تشکر می کنیم از تمام جهان بشریت ، مدافعین و پیروان راه حق می طلبیم تا درعموم ساحات مادی و معنوی با ملت مظلوم ما همکاری و تعاون نموده وفشار ها ی سیاسی و اقتصادی خویش را بر روسها افزایش دهند تاهر چه زود تر وبدون قید وشرط قوای شا نرا از افغانستان خارج سازند .

نصر من الله و فتح قریب

دافغانستان دمجاهدینو داسلامی اتحاد درئیس جناب مولوی یونس خالص

مطبوعاتی کنفرانس

د افغا نستان داسلامی حزب امیر جناب‌مولوی‌یونس‌خالص‌چه‌دمجاهدینو دیو هیأت په مشر ی چه په هغه‌کی دافغانستان دملی اسلامی محاذ رهبر جناب سید احمد گیلانی د افغا نستان د نجات د ملی جبهی ر هبر جناب صبغت الله مجددی اودنورو تنظیمونو نمایندگانو برخه‌درلوده دملگروملتونو په عمو می غونډه کی د برخی اخیستلواو دامر یکی دمتحده ایالاتو دجمهور رئیس دلیدلواو کتلووروسته پیرته‌د دسمبرپه‌۵ نیته‌پیښور ته‌راستون او د اتحاد په مرکزی د فترکی یی یو مطبوعاتی کنفرانس ترتیب کړ د افغانی او نورو خارجی ژور نالستا نو پوښتنو ته یی‌ځوابو نه ورکړل چه په لاندی ډول ئی خپلو گرانو لوستونکو ته وړاندی کوو :

ښاغلی مولوی صاحب خالص د ژور نالستانو پو ښتنو ته د ځواب ورکولو نه‌مخکی یوه‌بیانیه ور کړه او وئی ویل چی :

تر څو روسان مجبور نشی په خپله خوښه به شاتلو ته حاضرنشی ځکه دوی په افغانستان کی دخپل خوښی حکومت جوړول غواړی‌او که‌چیری پدی کار کی بر یالی نشول نو د افغانستان انسانان حیوا نات او حتی مرغان به‌هم ژوندی پرینږ دی . او که دا کارپی هم‌ونشو کړای نوافغانستان به تو ته ټو ته کړی او بیلا بیلو ځایو نو کی به جلا ، جلا حکومتونه جوړ کړی ، خود روسانو دا ټولی آرزوگانی به یوه هم پوره نشی .

مولوی صاحب وویل‌چی:ځینی خلک وائی چی رو سان د افغانستان څخه په عزت‌او تل غواړی ، خوڅوک چه ابرواو عزت غواړی د هغه‌وظیفه ده چه دبل عزت او ابرو هم په نظر کی ولری ، روسانو د افغا نستان د ملت سپکاوی کړیدی ځکه دوی ، دا توقع‌کولی شی چه د افغانستان ملت به‌د دوی‌عزت او ابرو وساتی.

د ښاغلی مو لوی صاحب د خبرو وروسته ژور نا لستانو خپلی پوښتنی پیل کړی .

دافغا نستان د مجا هد ینو د اسلامی اتحاد و یندوی جناب مولوی

خالص دیو خبر نگار ددی پو ښتني په ځواب کی چه آیا څه به نه وی چه په دی مجلس کی د مجا هدینو داوو تنظیمونو مشرانوهم برخه درلودی وویل : داچه زه د عضوی په نماینده‌گی دلته ناست یم داپه خپله د واقعی اتحاد نماینده‌گی ده .

د مسلم د ورځپانی خبر یال پوښتنه وکړه چه مولوی صاحب تاسو په خپله وینا کی وویل چه د مشری دپاره وخت ندی‌تپا کل شوی‌آیادنورو تنظیمونو مشران ستاسو سره پدی خبری کی موافق دی .

ده په ځواب کی وویل چه که چیر ی دوی موافق نوی نو زه داسی خبره کولی شم!

بوبل خبرنگار پو ښتنه وکړه چه : ولی خان په خپل یو بیا ن کی ویلی دی چه تاسو په‌خپله یوه بیانیه

کی ویلی چه زمونږ جنګ د غرب د مفاداتو دتحفظ د پاره دی. آیا د غه خبره تاسو کړیده، ده په ځواب کی د یو لړ توضیحاتو وروسته وویل چه زه تر اوسه پوری ولی‌خان ته د یو پښتون په سترګه ګورم او یو پښتون باید داسی تصور ونکړی چه روسانو کوم کارونه کړیدی هغه منطقی اوسم دی.

• مولوی صاحب زیاته کړه چه زه هغه چاته یېخی حیرت وړی یم چه هغه په‌پاکستان کی خپل ځان غلام ګڼی او افغانستان چه دلکونو روسی قواو لخوا اشغال شوی هغه ته یو آزاد ملک ووائی نو زماګمان نه کیږی چه یو عاقل سړی به‌دا دول خبری وکړی. زمونږ افغانیت د ا خبره نه منی. که په مونږ باندی ولی خان دزی هم وکړی مونږ دا خبره نشو منلای چه دده په غاړه‌کی دی هندو پټکی واچوی او یا دده په غاړه کی دی روس پټکی واچوی مولږ دروسانو سره دحسابی په وخت کی دا حق لرو چه د داؤد، تره‌کی او امین دوینو پوښتنه وکړو ځکه‌چه دا زمونږ حق وچه جزا مو ورکړی وی. نه دروسانو.

خالص صاحب د یوی بلی پوښتنی په ځواب کی وویل چه نجیب یو عسکر دی او هغه هیڅکله داحق نلری چه ملی مصالحه اعلان وکړی او نه دا حق لری چه لویه‌جرګه راوبولی‌او دا یئتلا فی حکومت د جوړیدو بلنه ورکړی ځکه چه روس ورته ووائی چه ته نه ئی نو یبا به نوی.

زمونږ سره که روسان وغواړی خبری وکړی او دا پیشنهاد وکړی نو یبا به مو نږ په هغه باندی فکر وکړو، امکان‌لري چه‌مونږ هغوسره چه دوی‌ه څرنګه او په څه ترتیب دافغانستان څخه ووځی خبري وکړو خو د افغانستان د راتلو نکی نظام او اشخاصو په تعین کی مونږ حاضر نه یو چه د روس یا غربی مما لکو او یا دامریکا سره خبری وکړو اویا هغوی ته د مداخلی حق ورکړو.

مونږ یو اځی حاضر یو چه د روسانو سره ددوی د وتلو په برخه کی خبری وکړو اوبس ځکه چه هغه اوس زما په کور کی ناست دی زمونږ بچی راوژنی، زمونږ هستی او نیستی یی‌تو له وړی ده.

اوس والی زما سره خبری وکړه، زه څنګه د هغه سره خبری وکړم مونږ حاضر نه یو چه دده سره خبری وکړو.

جناب مولوی صاحب د دی پوښتنی په ځواب کی چه د ا تحاد په صفونو کی یو الی به یواځی په نظامی برخی کی یوالی سینځ‌ته‌راولی او که په سیاسی ساحه کی به هم؟ وویل چه صفونه په نظامی ساحه‌کی یوکیږی نه په سیاسی ساحه کی.

خالص صاحب دواحد قوماندی لاندی په نظامی ساحه کی د اساسی مشکلاتو په برخه کی وویل چه: اساسی مشکلات ترا و سه پوری د بیلو بیلو تنظیمونو جلا والی و، خو اوس چه تنظیمونه سره یوځای‌کیږی طبعاً دا اساسی مشکلات هم له منځه ځی. ځکه چه زمونږ تر مینځ اختلاف ایدیالوژیکی اختلاف ندی، مونږ تر اوسه پوری سره متحد وو او متحد به اوسو.

د خالص صاحب څخه یو خبریال پوښتنه وکړه‌چه آیا دروسانو وتل به د نظامی اضمحلال په نتیجه کی وی؟ ده ځواب ورکړچه: دا پوښتنه د روسانو څخه وکړی. د هغوی خوښه چه زورته کینی او که په خپله خوښه دافغانستان څخه‌وځی.

مولوی صاحب د دی پوښتنی په په ځواب کی چی آیا دروسانو دوتلو په وخت کی به مجاهدین د روسانو سره اُور بند وکړی‌اوکنه؟ ده په ځواب کی وویل: داچی

کله هغوی دخپلو قواو دوتلو اعلان وکړ بیا ورسره خبری کوو .

یوخبر نګار دمولوی صاحب څخه پوښتنه وکړه او وی ویل چی تاسو په خپلو خبروکی وو یل چی‌مو لیږپه افغانستان کی‌دامی‌یواسلامي‌حکومت جوړول غواړو چی د دنیا هیڅ ملک ته به مشکلات پیدا نکړی نو دا به څه ډول اسلامی حکو مت وی ؟

خالص‌صاحب په ځواب کی‌وویل : د اسلا می حکو مت لنډ تعبیر دا دی چی هلته به حق زور وی او زور به حق نوی ، او تا سی پو هیږی چی د حق او نا حق معیار قا نو ن دی . خو د انسان په لا س جوړشوی قانون‌نه‌بلکه دالله‌قانون دی دیو داسی‌قانون‌په‌لارکی‌قربانی‌ورکول د بشریت دخیر لاره ده ، او مونږ په دغه لار روان یو دیو خبرنګار ددی پوښتنی په ځواب کی چی : تاسی د امر یکی په دوره کی د ریګن سره ملاقات وکړ آیا ریګن ستاسو سره د روسانودپلانونو دشنډولو په‌برخه کی هم‌نظره دی او آیا هغه به‌نوره وسله لکه‌ستینګر او‌زائیل تاسی ته‌درکړی؟ داسی وویل :ستاسو پوښتنه سمه لده ځکه چی په ملل متحد کی مو نږ د بین‌المللی طاقت په مقا بل کی خبره کوله هغه میدان مویوړ . . . اصلی خبره داده چی یو سړی که څه هم د یو دولت نه اسلحه غواړی دا داسی یوه خبره ده چی د نیا ئی رواج لری . . . . مونږ ته چا په ملل متحد کی ځای ندی راکړی . مونږ تر او سه پوری دوی‌په‌رسمیت نه یوپیژندلی‌نو ځنګه کیدای شی‌چی‌د وسلی‌داخیستلو خبره مو ر یګن‌یا نوروسره کړی‌وی .

مولوی صاحب په راتلونکی وخت کی دپخوانی بادشاه ظاهرشاه درول په برخه کی دیوی پوښتنی په‌ځواب کی وویل چی : مونږ په افغانستان کی اسلامی وا قعی حکو مت غواړو او اسلامی وا قعی حکو مت همدادی چی د اسلام پا بند اشخاص د هغه په سر کی وی او اسلامی قانون‌تطبیق کړی که داپه ظاهر شاه‌کی موجود وی زمونږد سرستر ګی دی او که بل افغان کی هغه هم زمونږد سر ستر ګی دی ملت به په هغه باندی فکرکوی داسی اشخاص به مینځته را ولی چی هغوی په اسلام کی لوړ خلک وی اوپه اسلامی قانون کی تجربه شوی خلک وی او هغه ددی ملت ناموس وساتلی شی اوددی ملت دین وساتی.

دافغانستان څخه دروسی‌قواء دوتلو په برخه کی یو خبر نګار د ژینو په تیرو خبرو کی دپاکستان داتوو میاشتو دوخت یادونه وکړه اوپوښتنه ئی وکړه چی آیا د غه داتوومیا شتو پیشنهاد تاسوته دقبول وړدی‌اوکنه ؟

جناب مولوی صاحب وویل چی : په افغانستان کی دوه مشکله دی یو داچی‌دافغانستان‌دملت مشکل ، اوبل بین‌المللی مشکل، هغه‌مشکلات چی په بین‌المللی ساحه کی د ملتونو ترمنځ موجودوی‌اوهغه دولتونه چی‌دهغو په برخه‌کی څۀ تصامیم نیسی هغه که‌مونږ قبول کړواو یانه‌هغه ددوی‌خپل کار دی او په مونږ پوری تعلق نلری . خوهغه مشکل به‌چی‌د افغانستان ملت ته متوجه وی . هغه دروس اوافغانستان دملت‌خبره‌ده‌اوتر هغه‌وخته‌پوری‌چی د افغانستان‌ملت‌په کومه‌خبره‌نوی‌راضی شوی‌زمونږ‌مشکلات‌نشی‌حل کیدای .

د قضیی د حل په بر خه کی با ید مو نږ غو ښتل شوی وای حال دا چه زیدخله اړخونه د افغانستان د مسئلی د حل په خبرو کی ندی شامل او یواځی پاکستان او دکابل ګوډاګی حکومت سره خبری کوی . مونږ خپل سرنوشت نه دپاکستان په واک کی ورکولی شو اونه دروسانو په لاس او نه هم د غرب په لاس او دا زمونږ د طرف نه قاطعانه فیصله ده .

یو خبر نګار پوښتنه وکړه چه : د پاکستان او روس ترمینځ داطلاعاتو له مخې د څلور ملیونو ډالرو دامداد خبری کیږی . که چیری پاکستان دا امداد قبول کړی او د افغانسنان د مسئلی متعلق خپل موقف بدل کړی

نو د هغه به په تاسو څه اثر وی او ستاسو عکس العمل به څه وی .

مولوی صاحب په ځواب کی وویل چه : زه خو فکر نه‌کوم چه زمونږ په مسئلی باندی څه اثر وکړی او که بیائی څه اثر وکړو نو زه وایم چه مونږ جهاد د پاکستان په اشاره لدی پیل کړی نوزمونږ جهاد به هماغسی دوام ولری‌او استمرار به پیدا کوی .

د ښاغلی خالص صاحب نه د افغانستان دراتلونکی‌ائتلافی حکومت په برخه کی د ښاغلی ضیاءالحق د پیشنهاد په برخه کی پوښتنه وشوه او څرگنده شوه چه صدر ضیاءالحق ویلی وو چه په راتلونکی حکومت کی دی یوه برخه د افغانستان د اوسنی جنگ خلک ، یوه برخه مجاهدین‌او یوه برخه مهاجرین برخه ولری . روسان به ووځی او له هغه وروسته‌به‌یو حکومت را مینځته شی . آیا پدغه برخه‌کی ستاسو نظرڅه‌دی . آیا دا پیشنهاد تائیدوی او کنه ؟

ده وویل چه :

د دی پیشنهاد په برخه کی زمونږ نه پوښتنه نده شوی که چیری زمونږ نه پوښتنه وشوه‌بیابه مونږ دهو اونه ځواب ورکړو .

جناب‌مولوی صاحب نه‌دمطبوعاتی کنفرانس‌په‌آخره کی‌دا پوښتنه‌هم‌وشوه چه : په‌واشنگتن کی‌گوربه‌چف اوریگن سره ملاقات کوی‌آیاددی انتظار کیږی چه څه نتیجه به د دی ملاقات نه راووځي ؟ ستاسی توصیه دهغوی‌دپاره څه ده . او خالص صاحب ځواب ورکړ چه :

مونږ دا وایو چه‌که دوی غواړی چه په ټول جهان‌کی امنیت او صلحه راشی . دوی دلویو دولتونو د مسؤلینو په حیث باید د اسلام دپاره کاروکړی او اسلام‌دی مطالعه‌کړی زمونږ دوی ته‌دا توصیه ده .

یو خبر نگار پوښتنه وکړه مولو صاحب آیاتاسو داخبره مستقیمآ‌ریگن ته وکړه مولوی صاحب په ځواب کی وویل طبعآ

د روسی تیری د غندلو لـه امله د افغان مجاهدینو او د پاکستان د انصارو ورونو گډه غونډه

دروان کال د جدی په شپږمه نیټه په پیښور کی د پاکستان نشنل سنټر په تالار کی د افغان مجاهدینو او د پاکستان د انصارو ورونو په گډون یوه شانداره غونډه جوړه شوي وه چی په هغی کی د افغانستان د ملی اسلامـي محاذ مرستیال ډاکټر فاروق اعظم او د پاکستان د فدرالي حکومت د لوبو او ثقافت وزیر نثارمحمد خان ، ځینو نامتو عالمانو دپښتو ژبی شاعرانو او لیکوالانو یو زیات شمیر افغانـي مجاهـدینو مهاجرینو او دپاکستان انصارو ورونو گډون کړی و .

غونډه د ورځی په دوه بجو د قرآن پاک د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه چی د مازدیگر تر څلورو بجو پوري یی دوام وکړ .

په دغه غونډه کی دافغانستان د ملي اسلامي محاذ مرستیال ډاکټر فاروق اعظم ، د پاکستان د فدرالي حکومت د لوبو او ثقافت وزیر نثار محمد خان ، مولانا اشرف قریشی مولانایوسف قریشی ، دحزب اسلامي غړی عبد القدیر کریاب وینااوې وکړي او په خپلو خبرو کی یی په افغانستان باندې دروس تیری وغندلو دوې په گډه سره په خپلو ویناو کی د هغو خلکو غندنه هم وکړه کوم چی دروس د خوشحالولو په خاطر د افغانی مهاجرینو او د پاکستانی انصارو ورونو تر منځ خوابدي او کړکیچ پیدا کول غواړي .

په‌دغه غونډه کی‌مجاهد شاعر او محقق محمدعارف غروال او دانصارو ورونو څخه نا بینا شاعر عبدالستار عارف ختک له خوا له ولولو او احساساتو څخه ډک شعر و نه هم ولوستل شول .

د جدي په شپږمه نیټه د افغان مهاجرینو او پاکستان انصارو ورونو په ګډه غونډه کې

د افغانستان دملي اسلامي محاذ مرستیال ډاکتر فاروق اعظم

دوینا لنډیز

د جدي په شپږمه نیټه د افغان مهاجرینو او پاکستاني انصارو ورونو په ګډه غونډه کې د افغانستان دملي اسلامي محاذ مرستیال ډاکتر فاروق - اعظم د وینا لنډیز ، ګرانو ورونو السلام علیکم ورحمة الله و برکاة !

زه چې په دې ځای کې د مهاجرو او انصارو ورونو سره ګورم ، داسې فکر کوم لکه سړی چې د خپلو واقعي ورونو په منځ کې وي زه بیانیه نه ورکوم بلکې زه دې مهاجرو او انصارو او یا په بل عبارت خپلو واقعي ورونو ته د خپل زړه راز وایم . د افغانستان قضیه لکه چې تاسو ته معلومه ده د اوږدو نقشو نتیجه ده .

نن ورځ د افغانستان روان جنګ ستاسې په ورونو تحمیل شوی دی .

دا بې وزله ملت بې له وسله وال مقاومت څخه بله چاره نلري . له نیکه مرغه چې د اسلام سپاهیان په خپل مقاومت سره دې طاغوتانو ته دندان شکنه ځواب ورکوي .

* * *

په جهان د ننګیالو دي دا دوه کاره یا به وخوري ککرۍ یا به کامران شي بله لار نشته . د پښتنو نیکه خوشحال خان دا خبره درې سوه کاله مخکې کړې ده روسانو فکر کاوه چې دا کوچنی ملت ، په بین المللي ساحه کې داتجرید شوی خوار ملت به موږ ډېر ژر ونیسو . علامه اقبال لا پخوا افغان ولس ته ویل چې د روس اصلي مقصد د بحر هند نیول دي، خوتهدد هغه پلاره کې پروت یې . پنځوس کاله پخوا او آن سل کاله پخوا د پاکستان فرد په دې پوهیدلي او اوس هم پوهیږي چې د روس هدف یوازې د افغانستان نیول نه دي بلکې د بحر هند تودو اوبو ته ځان رسول دي . خو الله پاک ته بیا بل قسم منظوره وه چې د زماني دا دومره غټ فرعون او دا دومره غټ طاقت دې په دې کوچني قوم رانسکور کړي . خدای پاک په دې شلم قرن کې داسې یوه معجزه د داسې ضعیفو بندګانو په لاس ښکاره کړه چې د زماني یو لوی طاغوت دې لس کاله په افغا نستا ن کې وجنګوي او بیا دې هم کامیابي تر لاسه نه کړي . سبحان الله زما په یاد دي ، زموږ دجهاد په ابتدا کې به چې زموږ خلکو په غربي نړۍ کې د جهاد قصې کولې او موږ به اروپایانو او امریکا یانو ته ویل چې کمک راکړې ځکه چې موږ د روس سره جنګیږو . نو هغوی به حیران شول او زما په یاد دي چې دیولوی مملکت په وزارت خارجه کې ماته وویل شول چې ډاکتر صاحب له روس سره جنګ ډېر مشکل کار دی . خو ما ورته وویل چې ؛ یو ځل چې چا اراده وکړه نو که هغه په یوې ورې مرمۍ مړ شي او که په اتوم بم مړ شي هرده یې فرق نشته . زموږ قوم اراده کړې ده یا به روس ماتوي او یا به دوی محوه کیږي .

ډاکتر فاروق اعظم د خپلې وینا په یوې بلې برخې کې وویل :

موږ چې دلته مهاجرت کړی دی نو موږ بیګانه کورته نه یو راغلي . کومو کسانو چې رسول الله (ص) ته په

مدینه منوره کې ځای ورکړ او دهغه خدمت یې وکړ. هلته یوازې دعقیدې خبره وه. خو دا خلک خو موږ ته یو قدم نورهم راوړاندې دي هغهدا چې زموږ سره په وینه کې راشریک دي. موږ ددې خلکوڅخه توقع لرله. موږ ددې خلکو څخه توقع لرو چې زموږ سره به کومک کوي او زموږ حمایت به کوي. دا ملک د اسلام په نامه جوړ شوی دی. منشور یې اسلام دی. ددې ملک لهپاره یې شمیره قربانۍ ورکړل شوي دي. ددې ملک څخه دجوړیدومقصد لااله الاالله دی.

موږ هم د اسلام د پاره جنګیږو. په افغانستان کې چې کوم جنګ روان دی هغه د یوې ټوټې ځمکې، یو باغ او یو کور لهپاره نه دی. زموږ مقصد د اسلام سربلندي اود مبارکې عقیدې دفاع ده. نو په دې توګه زموږ او ستاسی هدف سره مشترکه دی. نو زه ځکه وایم چې زموږ حمایت په تاسو فرض دی اودا ستاسو وظیفه ده چې زموږ حمایت وکړی. کوم کسان چې دلته ناري وهي چې د افغانستان د قضیې په خاطر موږ تباه شوو. زموږ وطن خراب شو. داسی کسان په مدینه کې هم وو. درسول الله (ص) په وخت کې هم منافقانو ناري وهلې هغوی هم د مسلمانانو ترمنځ تفرقه غوښتله. هغه کسان چې د افغانستان د برحق جهاد پر خلاف ناري وهي هغه که پاکستاني وي اویا نورڅوک هغه منافق دي. هغه داسلام دښمنان دي. هغه د پاکستان دښمنان دي اوهغه دپاکستان داستحکام اوسالمیت دښمنان دي.

د افغانستان د ملي اسلامي محاذ مرستیال زیاته کړه چې:

کله چې روسانو په جګړه کې خپله غوښه ماتې ولیدله او په دې پوه شول چې خپل اهداف د جنګ له لارې لاس ته نه شي راوړلای نو د آشتي ملي، اور بند، لویې جرګې قانون اساسي او اور تزویر ونه او نقشې یې راواخیستلې. خو مجاهدینو په یوه لویه اجتماع کې دا اور بند ور رد کړ او ورته وویل چې دا ستا خدعه او نیرنګ دی. که تر هر څومره اور بند اعلان کړې زما له خوا څخه اور بل دی او نه دې اړیږدم.

د مصالحهٔ ملي په برخه کې یې ورته وویل چې زموږ د افغانانو ترمینځ خو جنګ نشته. او دا جنګ خو زموږ داخلي جنګ نه دی. مصالحه خو د دوو ورونو تر منځ کیږي. دا جنګ خو د افغان مجاهد او د روس د پوځ جنګ دی. روس خو زما وطندار نه دی. روس خو څه زما قوم او قبیل نه دی. چې زه له هغه سره مصالحه او آشتي وکړم. په دې وجه یې په همغه کنفرانس کې اعلان وکړ چې دا د روس پله خدعه او بل تزویر دی او هغه یې ور رد کړ.

روسانو په یو بل حرکت پیل وکړ هغه دا چې لویه جرګه جوړه کړي. دنیا ته داسی فکر وکړي چې د ملت نمایندګان راټولیږي او

ـدې موجوده حکومت ته قانوني جنبه
ـو شکل ور کوي . مجاهد ينو و رته
ـو ويل : په کوم مملکت کې چې
عملاً روس نا ست دی ، حکومت
عملاً د ده ګوډاګی ، غلام او په
حقيقت کې د ده عسکر حکومت وي.
ـنو په داسې شرايطو کې د لويې
جرګې جوړول بې له فضيحت اوخندا
څخه بل شی نه دي . لويې جرګې
ته به يوازې هغه خلک راځي چې
روسان يې غواړي او په جرګه کې
به هغه کسان کښيني چې د روسانوخوښ
وي او له دوی سره اړيکې لري .

همدا رنګه کوم قا نون چې د
روس په موجوديت کې ، د جنګ په
حالت کې جوړيږي ،هغه قانون صرف
او صرف د روس مفا دات تا ئيد وي .
هغه به د روس د مفاد له پاره جوړيږي .
نو پدې ډول مجا هدينو دا قا نون
اساسي ور ردکړ . دغه راز دوی د
خلکو غولولو له پاره اوس د اسلام
اسلام چيغې هم را پورته کړې . خو
د روس د خولې څخه او د روس له
حنجرې څخه د اسلام غږ څوک نه
شي قبلولی. هغه وخت زما با لکل
په ياد دی چې د پل څرخي په زندان
کې يې يو کس را و ستی او زموږ
سره يې کيناوه . د ده ګناه داوه چې
په خپل وزارت کې يې لمانځه ولاړ
و . دايې وليو او چار ماري يې کړ
يوازې په دې ګناه چې مسلمان دی
خو نن هماغه حا کم وا يې چې زه
مسلمان يم دا فريب دی . دا خدعه
ده . بل څه نه دي . نو ځکه مجا ـ
هدينو دا فريب ور رد کړ . روسان
د نړۍ ۶۳ هيوادونو ته ولاړل څو
هغوی دې ته وا دار کړي چې په
افغا نستان کې لش په نا مه د نوو
بدلونونو په منځ ته راوړو سره په
ملګروملتونو کې د افغان مجاهدينو په
طرفدارۍ له رايو ور کولو څخه ډډه
وکړي . خو روسانو له دې امتيا زاتو
او نړيوال طاقت سره سره و نه کړای
شول چې د مجا هدينو په طرفدارۍ
رايې کمې کړي. بلکې د پخوا په نسبت
مجا هدينو لازيا تې را يې يووړې .
زه يو ځل بيا وايم چې په دې ټولو
امتيازاتو کې زموږ انصار و رو نه
شامل دي .

ډاکټر فاروق اعظم د خپلې وينا
په پای کې وويل :

موږ ترهغې پورې چې څو روسان
بې له قيد او شرط نه وي و تلي ،
ترڅو چې دافغانستان سياسي استقلال
او د ځمکې تماميت او زموږ دخلکو
حقوق نه وي تأمين شوي او په
افغانستان کې اسلامي نظام نه وي
قا يم شوی ؛ خپل جهاد ته ا دا مه
ورکوو.

په پای کې په داسې حال کې چې
د افغانستان د جهاد له پاره دعا کوم
د پا کستان د سالميت او استحکا م
له پاره هم د عا کوم . انشاالله تعالى
چې ستاسې افغانان ورو نه به په نږ دې
وخت کې خپل آزاد ژوند تر لا سه
کړي او ملک به يې آزاديږي . ستاسې
ورونو په جنګ کې ډيره ښه
تجربه تر لاسه کړې ده . زما يقين
دی لکه څنګه چې په افغانستان کې
دانګريزانو شکست دانګريز دعظيمې
امپراتورۍ د شکست ابتداوه . داسې
به په افغانستان کې د روس شکست
د روس د امپرا تورۍ د شکست
ابتدا وي .

استبداد روسها مردم بی دفاع کشور را اکنون نيز به مهاجرت مجبور می سازند

د افغان مهاجرو او پاکستاني انصارو ورونو په گډه غونډه کې

د پاکستان د فدرالي کابینې دلوبو اوثقافت وزیر نثارمحمد خان د وینا لنډیز

د پاکستان د لوبو او ثقافت وزیر نثارمحمد خان په هغه غونډه کې چې د جدي په شپږمه نیټه د روسانو د خونړي تیرې د غندلو له امله د پاکستان په نشنل سنټر کې جوړه شوې وه د خپلې وینا په ترځ کې وویل :

پرون په چارسده کې جمهور رئیس جنرال محمد ضیاؤالحق زما میلمه و. ستاسې د مهاجرو ځینو مشرانو غوښتل چې دی ووینې .د غو مشرانو ویل چې موږ له ده سره ډیره مینه او علاقه لرو او هم غواړو چې صدر صاحب ته د وز لوبې (بزکشي) یوه لوبه اجرا کړو . ما دا خبره د مملکت صدر ته وکړه . هغوی وویل چې زما هم همدا خواهش و. ځکه ما غوښتل چې ده د دې لوبې په کتو سره له خپلو مجاهدو ورونو سره د مینې اظهار وکړم . په خپله زما دا مطلب وچې زه هلته دروس اجنټانو ته داوښیم چې موږ د مجاهدینو سره دومره مینه. لرو چې د هغې مثال نشته . د مملکت صدر هلته په خپل تقریر کې وویل ؛په راتلونکی کال کې یعنې په ۱۹۸۸ میلادي کال کې چې موږ د افغانستان د آزادۍ دکال په نامه یاد کړی دی دا د وز لوبې (بزکشي)لوبه به موږ انشاالله په افغانستان کې وگورو .



نثار احمد خان وویل :

د افغانستان جنګ موږ د افغانانو بر حق جهاد گڼو . دا جنګ اوجهاد یوازې ستاسې نه دی . هغه موږ ټولو نه اول د پاکستان جنګ گڼو او بیایې د ټول عالم اسلام جنګ گڼو .

زماخوږوورونو ! ولې په افغانستان کې دا کاروشو ؟ اوولې په پاکستان کې دا پریشانی منځ ته راغله ؟ د بهر څخه او دلیرې څخه د سوسیالیزم او کمونیزم آوازونه ډیر خواره وو . په افغانستان کې به له پاکستان څخه زیات د کمونیزم او سوشلیزم آوازونه وو . نو خدای (ج) پاک هغه ته عملي جامه ورکړه سوسیالیزم او کمونیزم یې راوست او پاکستان ته یې وښودله چې که تاسې د اسلام رسۍ پریږدی او کمونیزم غواړی نو دافغانستان حالت وگوری . دا هم شکر دی چې تاسې ته ثابته شوه او موږه ولیده . که اوس هم د پاکستان مسلمانان د دې څخه عبرت وانخلی نو د دوی څخه هم دا ورځ لیرې نه ده .

تاسو خو بیا هم دومره بهادر یاستې او دا توان مو درلود چې اته کاله لگیایې او د یو لوی طاقت سره جنگیږی . زما یقین نه دې چې

موږ اته ورځې هم جنګ وکړو.
نو ځکه زه دا وایم چې د افغانستان مجاهدین چې کوم جنګ کوي هغه زموږ د پاکستان د مسلمانانو جنګ دی. موږ د ستاسو سره وو اوس هم یو او په آینده کې به هم وو. تر هغه وخته پورې چې افغانستان آزاد شوی نه وي او بیا په هغه کې اسلامي حکومت قایم شوی نه وي.
نثارمحمد خان زیاته کړه:
تاسي په مایو ازمویښت وکړی او ما ته دعوت راکړی چې زه له تاسو سره سنګر ته ولاړ شم او هلته دی خدای زما د لاسه روسی قتل او زما د لاسه دی خدای هغه سړی هم قتل کړي چې په ظاهره ځان ته مسلمان وایي خو په واقعیت کې د مسلمان جړوړی له بیخه و باسي اود هغه ځا سره بر سر پیکاردي چې هغوی د اسلام په نوم را وتلي دي او په دې لاره کې جهاد کوي.
بله خبره چې زه یې باید دلته یاده کړم هغه دا ده چې تاسو به هیڅکله نه وي اوریدلي چې ما کله د افغانستان خلکو ته د مهاجرو خطاب کړی وي. دوی زموږ ددین او عقیدې ورونه دي. ما هغوی ته همیش مجاهدین ویلي دي. موږ دا په ډاګه وایو، هر چیر ته چې مسلمانان په تکلیف وي نو دازموږ فرض دی چې هغوی ته به موږ پناه ورکوو. او انشا الله تر څو پورې چې پاکستان موجودوي ـ خدای (ج) دې تر قیامته پورې لري، موږ به دخپلو مسلمانانو ورونو په مقابل کې دا فرض پوره کوو. دا به د ستاسو په مقابل کې هم پوره کوو او د نورو مسلمانانو په مقابل کې ابه یې هم پوره کوو.
زما په خیال که ډیري خبرې ویشي بیا هم مقصد یو دی. تاسو ته دا وایو چې وارمه خطا کوی. موږ ستاسو سره یو. تر هغه وخته درسره یو چې تاسو خپل جهاد د بری تر وروستي پړاوه و رسوی. مخکې ډاکټر صاحب د خوشحال خان شعر ووایه، زه هم یو شعر وایم اوخپله وینا په همدې شعر سره ختموم.

ته د دښمن سر و نه راوړه
زه بەدی توره په محفل کې ښکلوم

په افغانستان باندی د تیری کوونکو روسانو د یرغل اتمه کلیزه د جماعت اسلامی پاکستان لخوا وغندل شوه

د جدی شپږمه چې د دسمبر د اوه ویشتمی سره سمون خوري د پیښور ښار د مهابت خان په جومات کې د جماعت اسلامی پاکستان د امیر قاضی حسین احمد په مشرۍ د افغانستان د ورځې په نامه یوه درنه جلسه وشوه.
پدې جلسه کې یو ځل بیا جماعت اسلامی پاکستان او د پیښور ښاریانو خپله‌مرسته‌اوملاتړ دافغانستان‌د مجا ـ هدینو او مهاجرینو سره اعلان کړ.
قاضی حسین احمد د خپل وینا په ترڅ کې وویل چه اوسنی افغانستان د شهیدانو، مجاهدینو او مهاجرینو افغانستان دی.پدی درنه جلسه کی د صوبه سر حد د جما عت اسلا می ا میر مو لانا ګو هر الر حمن او ځنی نو رو عا لمانو او د جماعت اسلامی غړو هم ویناوی وکړی او او د روسانو دغه تیري یې وغانده.
د جلسي په‌پای کې ګڼون‌کوونکو د مهابت خان‌جومات ځخه تر چوک یادګاره پوري یوه لویه مظاهره وکړه چه په هغې‌کې یې د وحشي روسانو د تیری په‌ضد شعارونه‌ورکول کیدل.

د افغانستان د جهادي خبرونو مرکز له خوا
د محمد عرفان خټک د (باروت او ایمان) مخ کتنه

«د محمد عرفان خټک د «باروت او ایمان» د مخ کتنې په غونډه کې ډاکټر فاروق اعظم وینا کوي

د روان عیسوي کال د جنورې په ۲۴ نیټه د یکشنبې ورځ د ماسپښین په دوه نیمو بجو د پاکستان نیشنل سنټر پېښور کې دافغانستان دجهادي خبرونو مرکز له خوا یوه په زړه پورې درنه غونډه جوړه شوې وه چې په هغې کې د پښتون شاعر محمد عرفان خټک د کتاب « باروت اوایمان» مخ کتنه وشوه.

په دغه غونډه کې د پښتو ژبې او ادبیاتو مشهورشاعر او لیکوال دغزل پلار امیر حمزه شینواري د غونډې د مشر میلمه او پیاوړي محقق ډاکټر فاروق اعظم دغونډې د صدر په حیث برخه اخستې وه.

غونډه دقرآن عظیم الشان د مبارکو آیتونو په تلاوت سره پرا نستل شوه چې وروسته شمس الرحمان شمسي نعتیه کلام واوراوه.

وروسته بیا د افغانستان د جهادي خبرونو دمرکز په نمایندګۍ حبیب الله رفیع حاضرینو ته د هر کلي وینا واوروله په دغه غونډه کې د پښتو ژبې نامتو شاعرانو او محققینو لکه همیش خلیل، سعید رهبر، اعجاز احمد زاهد اوشکیل یوسفزي د موضوع په ارتباط وېناوې وکړې او محمد صدیق پسرلي، محمد حنیف غمخور حبیب الرحمان کسکر، امان الله نصرت اوشیرشاه ترخوي شعرونه واورول.

دغونډې په بهیر کې دووتنوانصارو ما شومانو سید ناصر علي شاه او سید قیصر علي شاه د افغانستان دجهاد په ارتباط یوه ترانه واوروله چې د لوستونکو ډېره خوښه شوه.

د غونډې په پای کې بناغلي ډاکټر فاروق اعظم د افغانستان دمجاهدینو او دپاکستان د انصارو ورونو د وررولۍ په اړیکو خبرې وکړې او ویې ویل چې دا دواړه مسلمان ولسونه دیوه باز د دوو وزرونو حیثیت لري چې د هریو په کمبود او نشتوالي سره هغه بل په یوازې توګه نشي الوتلای. ده د افغان مجاهدینو د قربانیو د یاد ولو په ترځ وویل چې انشاالله په نږدې ورځو کې به د افغانستان د آزادۍ شاهدان وو. نو موړې هیله څرګنده کړه چې دې ډول غونډو او محفلونو ته دوام ورکړی شي او امید دی چې راتلونکې غونډه دحمزه صاحب په درناوي جوړه شي.

ډاکټر فاروق اعظم د خپلې وینا په پای کې د محمد عرفان خټک ددغه نیک اوقابل قدر اقدام د تقدیر له پاره هغه ته درې زره کلداري او د دوو تنو ماشومانو د نوازش له پاره یې هغوی ته سل سل کلداري و بښلې.

د افغان مجاهدینو او د پاکستان د انصارو ورونو په یوه گډه غونډه کې د روس تیری وغندل شو

سر دې قربان شي د دې لویې قربانۍ په مینه

گوندې دا سر می شی قبول د لوی الله په درکې

پروت یم سنگر کی ځکه زه د سربازۍ په مینه

غرواله ! سر چې ورکوې د څه پروا مه کوه

سر ورکوی شی د راتلونکې زندگۍ په مینه

محمد عارف غروال

د ناموس او د ایمان وي

بیزار او گریزان وي

ی صابر د هر ځنگان وي

د حق د لارې پښتان وي

ونکی: غلام نبی «کوکب»

بلبل در چمن افساله دارد

دست از خون خینه دارد

شمن مرمی ها در سینه دارد

آبا غیرت مردانه دارد

شیر شرزه در دل کینه دارد

صد آرزو دیرینه دارد

از موج خون پیمانه دارد

تمندان

دارد

میر محمد صابر «انصاری»

شرمنده و رسوا شد لویه‌جرگه ات اخر



یکمـاه و دو روز پیشتر
امـر رسـید از سـر
نجیب سپار مسکو
لرزیده اخـر از تـو
دید ش چو گربه چو فش
بوتش کشـید بکفتش
بی عقـل و نا توانی
گاو مش نا جـوا نی
لویه جرگه باطل کن
یک چال‌لو حاصل کن
فوری برو بسه کابل
با مقدار کافی از پول
اول کس که‌بینی‌چراغ علی کشتمنداست
گلاب‌زوی‌دبنگت‌خون‌خوار ارجمنداست
باشد مشاورینم در مجلس که داری
وطن فروش وطن‌جار درحال بیقراری
لو یه جرگه باطل کن
یک چال نو حاصل‌کن
مصرف نما میلون میلون
تا نشـود زازو ذقوم
مقدار ده با منشیـان
در هر ولایت تا توان
گویند منشـیان تـان
محفوظ نبوده جان تان
باز چور چپاول میکنند
ذخیره در کابل میکنند
تبدیلی به دالر می کنند
به روز دیگـر میکنند

لو یه جرگه باطل کن
یک چال نو حاصل کن
منشی حـز بی قند هار
خرده به مثل اژدهـار
اسمش چوگاوکیوان‌شده
مغرور جسم و جان‌شده
خورده زبس خون شهید
نامش‌داکتر حیوان شده
لویه جرگه با طل کـن
یک چال لو حاصل کن

قانون اساسیت نیرنگ وفریب وچال است
خود ساخته وخود بافته فردا به زوال است
ببین چه شد خرس ببرک
چه شد امین لا درک
ببرک اسیر روس گشت
هم غلام گردید و هم محبوس گشت

باز (که جه ب) نجیب اورده است
نطفه ازخویش عجیب اورده است
باکمونستان بگو در عین حال
مسلک تان است درخط زوال
مردم افغان زبونش میکنند
از وطن اخر بیرو نش میکنند

ریګن اوګورباچوف د افغانستان په مسئله
کې نتیجې ته و نه رسیدل

د واشنګتن له په یوه مهور شوی راپور کې ویل شوی چې روسي مشر ګور باچوف د دوارو د هیوادونو د مشرانو د خبرو اترو له وروسته د پنځ شنبې په ورځ په یوه مطبوعاتی کنفرانس کې وویل چې مونږ دمنطقوی شخړو په مسله کې د متحده ایالاتو سره کومې موافقې ته و نه رسیدو .

ګورباچوف په خاصه توګه د افغا - نستان د مسئلې په برخه کې وویل چې روسې د افغانستان څخه د خپلو قواؤو د وتلو د پاره (۱۲) میاشتې تاکلې وی او ما دغه خبره بناغلي ریګن ته وکړه .

ده زیاته کړه چې شوروی اتحاد د یو آزاد بیطرفه افغانستان غوښتونکی دی مونږ نه غوارو چې په افغانستان کې خپل طرفدار رژیم منځته راولو بلکې د یوی ملي روغې جوړې په چوکاټ کې د ټولو سیاسی دلو او د افغانستان د ټولو خلکو په ګډون باید داسې یو نظام مینځته راشي چې د افغانستان د خلکو د آرزو مطابق وي .

ګورباچوف په خپله دغه مطبوعاتی مرکی کې وویل چې مونږ به دخپلو قواؤو د وتلو اعلان هغه وخت وکړو چې متحده ایالات او نورو ملکونه خپلې مرستې افغان مجاهدینو ته بندی کړی او په هماغه ورځ به شوروی قوځونه د جنګی عملیاتو څخه لاس واخلي خو ده وویل چې د موضوع حل دافغانستان په مختلفو دلو پورې اړه لري .

ده زیاته کړه : چې دافغانستان د مسئلې او نورو منطقوی مسایلو د حل د پاره د کار یو هئیت تاکل شوی چې د ژینو د شا په خبرو به راتلونکی دور کې چې د نوی کال په سر کې د ملګرو ملتـــو نو د سرمنشی مرستیال بناغلی کوردوبزلخوا پیل کیږی د افغانستان د مسئلې په باب مشخص پیشنهاد ونه وړاندې شي .

همدغه راز ریګن د ګورباچوف سره د خدای په امانۍ په وخت کې وویل : چې مذاکرات ګټور وو خو هغه څه چې تر سره شول زمونږ د پاره د رضائیت وړ نه دي .

زه‌داسی الفاظ او کلمات نشم پیداکولی

چی د کابل پوهنتون اوسنی وضع پری توضیح کړی شم

دا هغه خبره وه چی ډاکتر حسن ـ کاکړ د ۱۳۶۶ کال دجدی په ۲۲ نیته په یو مطبوعاتی کنفرانس کی څرګنده کړه . کنفرانس د ماسپښین په دوو پیل شو او د خبریالانو له پوښتنوڅخه دمخه ډاکتر حسن کاکړ ژورنالستانو اونورو راغلو کسانو ته دهرکلی په ترڅ کی وویل .

ښاغلو او میرمنو ؛ تالار ته ښه راغلاست . هغه چاچی بلنه ترلاسه کړې ده پو هیږي چی زه څوک یم . زه دنورو میلیو نونو افغانانو په شان د یوه تحمیل شوی جنګ قرباني یم چی په موږ باندې دورځی د یو لوی پوځی ځواک روسیی له خوا تحمیل شوی دی . له ډ یرې مودی راپدې خوا جنګ دوام لري اودا جنګ ډیر کړاوجن ثابت شوی دی . دا جنګ په یوه ډیره لویه پیمانه ورانوونکی ومخرب جنګ دی ، داځکه چی دغه ابرقدرت خپلو تیري کوونکو قواوته له اتومی وسلی څخه پر ته نور د هر ډول تخریبي وسلو داستعمالولواجازه ورکړې ده داوسلی دهغه چاپه‌خلاف استعمالوی چی له خپل وطن سره‌مینه لري ، هغه وطن چی له نیکونو په میراث ورته پاتی‌دی . زموږزړورو مجاهدینو هم په مقاومت لاس پوری کړ ، خو په ډیرو عادي وسلو سره . دایوداسی نابرابر جنګ دی‌چی‌روسیه دنړۍ‌دیو نظامي امپراطور په توګه مختلفي اونا محدو دې منابع په واک کی لري او په داسی حا ل کی چی مجاهدین دخپلوملګرو په وسلواتکا لري اوبس .

موږ دمجاهدینو ددی سترتصمیم او جرأت‌مننه‌کوو چی دغه تیري کوو ـ نکي یی له ماتی سره مخامخ کړل‌لکه څنګه چی پلر و نو یی دنړۍ لو یو فاتحینو ته ماتی ورکړې وه .

او دغه اغیز ناک مقاومت کیدای شي چی ددی پیړۍ معجزه وي ښایی روسیه دنړۍ د نیولو په مقصد خپلی بریالۍ پرمختیا غوښتنی‌ته وروسته‌له څو پیړیو توقف ورکړي . داهم په ثبوت و ر سید ه‌چی‌د تیر ي کوونکو قواو په وړا ندې زموږ په بر یا لی مقاومت کی زمونږ د ینی ارزښتو له پلر ني هیواد سره د مینې او دآزادۍ غوښتنی ژورو او عنعنوي ارزښتونو ډیره غښتلی برخه درلودلی د ه . په مقابل کی د پر دیو افکار او مقا صد قرارلري هغه څه‌چی‌یوابرقدرت‌خوشی زیارویوست چی دخپل ګوډاګی‌رژیم پوا سطه یی پر موږ افغانانو تحمیل کړي . اودا دحیرانتیا ځای نه دی‌چې ددې چور او لو ټمار سره سره اوس دوی په دفاعی حالت کی قرار لري اوهمدا علت دی چی روسانو له‌پخوا څخه زیات او په ډیر لوړ اواز سره له افغا نستان څخه د و تلو ا ما دګی ښودلی ده .

خو ترڅوپوری چی دوتلو پیشنهاد دشرایطو درلودونکی وی ، داد دوی دصداقت په برخه‌کی شک پیداکوي اودغه پیشنهاد چی اعلان شوی دی د قبول وړ نه د ی . داسی ښکاریږی چی دوی د نور تخریب او ړنګولو

قصد هم لري . لکه چې داټول‌ورانول اوړنګونې چې دزیار ایستونکو دتش په‌نامه‌حامیانو پواسطه سرته ورسیدې پس نه دي .

ښایی ددې غارت او لو ټمار اود مجاهدینو دقهرمانانه شهادتونوکیسی به‌تر ډیره وخته دراتلونکو نسلونو په خولو یوبل ته ولیږدول شي .

اوس زه دلته حاضر یم چې ددی عظیمی تراژیدی اوپه زندان کی د خپل ژوندانه دتجربو په هکله‌ستاسی پوښتنو ته ځواب ووایم .

بیا وروسته ژور نا لستا لو خپلی پوښتنی پیل کړی :

پوښتنه : تاسي‌چې‌د۱۹۸۷ په مارچ کی‌له‌بنده خوشی‌شوی بیاچیری وی؟

ځواب : له خوشی کیدو روسته ماته اجازه راکړل شوه چې دکابل په پوهنتون کی بیا خپل تدریس ته دوام ورکړم .

پوښتنه : تاسی څه وخت پاکستان ته راغلی ؟

ځواب : زه‌دوه هفتی دمخه یعنی‌د کرسمس په شپه پاکستان ته را غلم

پوښتنه : ستا په نظر په پوهنتون کی د درس فضا څه ډول وه ؟

ځواب : د درس فضا زماله زندانی کیدو څخه پخوا بدله شوې وه په هغه وخت کی دپروګرامونو دروسي کولو په مقصد له فرو فیسرانو او په تیره‌بیا له‌هغو کسانو څخه‌چې دتاریخ درس‌یی‌ور کاوه،داډول‌تقاضاوی‌غوښتنه کیده چې خپل درس له مار کسیستی او لینینستی اصولو سره عیار کړي . که چابه داغو ښتنه وله منله خطر ورته‌پیښیده . مګرپه‌اوسنی بدله‌شوې وضع کی ما کو لی شول چې خپل مضمون په خپله لاره تدریس کړم .

پوښتنه : محترم کاکړ صاحب ! تا سی ډیر وخت په زلدان کی وی ویلای شی چې هلته ښځی هم بندیانی وی ؟

ځواب هو ! هلته ښځی هم بندیانی وې ؟

آیا هغوی سیاسی بند یا نی وې ؟

ځواب : هو هغه ټولی دکابل له رژیم سره مخالفی وې . که څه هم دکابل حکومت هغوی سیاسي‌بندیانی نه ګڼلي بلکی هغه یی د انقلاب ضد بللي خوهغوی ټولی سیا سی بندیانی وی .

پوښتنه :ترکومه‌حده‌دا خبره حقیقت لري چې روسانو سیا سی بندیا نو ته ازیت ورکا وه .

ځواب : دایولوی اوپراخ مضمون دی چې په یوه اویا دوو کلمو کی‌نه شی ویل کیدای . هغوی هرډول سزا چې تصور یی کیدای شي بندیانو ته ورکوله . له دماغی سزا څخه نیولی ترفزیکی سزا پوری هر ډول‌سزا ګانی بندیانو ته ورکول کیدې .

پوښتنه : که چیرې ظا هر شا ه افغانستان ته راشي ، تاسی د یو پوه شخصیت به حیث څه فکر کوی چې دهغه‌په موجودیت‌سره‌به وضع‌بهه شي؟

ځواب : زه فکرکوم چې‌دافغانستان دمشکلاتو اساسی علت دروسي قواو مو جو د یت دی د روسي قواو په موجودیت‌کی‌به‌دسولی،سلی‌پخلاتوب او نور هر ډول پیشنهادونه کو می نتیجی‌ته ونه رسیږي . زه فکر کوم‌چې یوازینی څیزچې د افغانستان دمسئلی دحل‌سره مرسته کو لی شي هغه‌دادی چې په افغانستان بهرنی مداخله بنده شي . کله چې داکاروشي‌نو بیاافغانان بی تجربی نه‌دي چې څه ډول‌دخپل هیوادنظام‌پرمخ بوزي .څرنګه‌چې‌زموږ ټول خلک مسلمان دي اوله‌اسلامي قوانینو څخه پیروی کوي او اسلامی قوانین‌د یوحکمفرما تقاضا کوي‌اوموږ مخکی هم حکمفرمایان لرل . مګرد ورنو تو یو لو څخه د جلو ګیری په مقصد باید یو سلسله امنیتی اقدامات سرته ورسیږي چې دا کار د ملګرو ملتونو دسولی دساتنی قواو په‌واسطه سرته رسیدای شي .

پوښتنه : داسی ویل‌کیږي چې یو زیات شمیر افغانی ماشومان روسي‌ته وړل‌شوي دي . ویلی‌شی چې‌دهغوی شمیر به‌څومره وي .

ځواب : دقیقه احصایه ډیرمشکله ده خو شمیر یی ډیر زیات دی هغه ما شو ما ن چې خپل سر پرستان یی له لاسه ورکړي دی اوهغه ماشومان

چې سرپرستان ئې دګوند غړي دي
شمیر ئې ډیرزیات دی داټول روسیې
ته وړل کیږي اوزیاته توجه ورته کیږي
اوهمدغه دروسانودراتلونکوامیدونو
منبع د ه . دغه راز دروسانو دامید
یوه منبع دځوانانو سازمان هم د ی

پوښتنه : داسې ویل کیږي چې دوه
سوه زره ما شوما ن روسیې ته وړل
شوي دي تاسې په دې باره کې څه
فکر کوئ ؟

ځواب : ز ه په دې باره کې څه
نه شم ویلای اودهغوی دقیق شمیر
نه شم ښو دلای ، خودومره پوهیږم
چې تعداد یې ډ یر زیات دی .

پو ښتنه : ورو سته له دې چې له
زندان څخه خلاص شوئ ، ستاسې په
نظر دپوهنتون وضع څه ډول وه ؟

ځواب دکابل پوهنتون په یوډیر
خراب حا لت کې قرار لر ي.زه داسې
الفاظ او کلمات نه لرم چې په د ې
برخه کې دهغوی پواسطه خپل نظر
څرګند کړم . اوس نوبیا هغه پخوانی
پوهنتون نه و چې موږ لیدلی و .پخوا
په پوهنتون کې ډیر محصلان ، پرو-
فیسران او استادان لیدل کیدل . خو
زمانه زنداني کیدو ورو سته ډیرکم
شمیر استادان اوشاګردان په پوهنتون
کې پاتې و . زماپه نظر یو پو هنتون
باید زیات شمیر استادان او شاګردان
ولري . د پو هنتون په محیط کې باید
بشپړ آزادي وي اوکه نه بیا پوهنتون
ورته نه شوویلی .

پوښتنه : لکه څنګه چې تاسې وویل
د پو هنتون د محصلا نو زیاته بر خه
له نجو نو څخه متشکله د ه ، د د ی
علت څه دی ؟

ځواب : علت یې دا د ی چې د
نا رینه محصلینو زیاته برخه زنداني
شوي دی اویوزیات شمیر یې عسکرۍ
ته لیږل شو ي د ی .

پوښتنه : په افغانستان کې قضایي
سیستم څه ډول دی اوخپلې چارې څه
ډول پرمخ بیایی ؟

ځواب : زه په خپله دقضایي سیستم
په باره کې زیات نه پوهیږم خو دقضا
دانقلابي سیستم په بر خه کې یو څه
معلو مات لرم چې هلته ټول روسي
مشاورین د ي چې تصمیم نیسي اود
بند یا نو په باره کې فیصله کوي او
مخکې له دې چې دو سیه فیصله شي
د غه مشاورین دنوموړي دو سیې په
هکله فیصله کوي او یوازې دنمایش
له پاره انقلابي محکمې ته لیږل کیدي
روسان امر کوي اودنوموړې محکمې
قاضیان د روسي مشاورینو له امر او
هدایت سره سم اجرات اوفیصلې کوي

پوښتنه : دملګرو ملتونو دبشر د
حقوقو نماینده په اوسنيسفرسربیره څو
میاشتې پخوا هم کابل ته سفرکړی و
هغه یوراپور خپور کړ چې په هغه کې
یې لیکلي وو چې ماد ډاکټرحسن کاکړ
سره چې نوي له بند څخه خلاص شوی و
وکتل ؛ ده وویل چې د ملي روغې
جوړې دپروګرام له مخې اوس شرایط
ښه شوي دي . تاسې اوسنۍ وضع او
دده وینا څنګه ارزیابي کوئ ؟

ځواب : په دې بر خه کې غلط
فهمي شوې ده . څه چې ماویلی دي
اوهغه څه چې د باندې راوتلي دې
یوله بله سره توپیرلري . مادملي روغې
جوړې صفت هغه ته نه دی کړی . هغه
له ماسره دوه ځلې ملا قات وکړ ، یو
ځل دانترکانټي نینټل په هوټل کې
اوبل ځل زما کورته راغی . اوهلته
موږ دسیا سي مسایلو په باره کې خبرې
وکړې . ماپه څرګند ډول ورته وویل
چې اصلي مسئله زموږ په سیا سي او
اوټولنیز نظام کې دروسي قواوموجو-
دیت وی . همدارنګه ما وویل چې د
ملي روغې جوړې پروګرام ناکام دی
زماخوښې کیدل د ملي روغې جوړې
پواسطه نه بلکې د بیلو بیلو ملي او
بین المللي فشارونو پواسطه شوی دی.

نوشته محمد صمیم « عزیزی »

مرغ سحر

و چشمان « پریشان حال » او شبانگاه با پروین های آسمان میهنش می بود .

تا مگر از لابلای خوشه ها یشان چهرهٔ پر تبسمی را یابد-که شب ها با او می بود و قصه های از انسان دوستی می گفت :

ستارگان بار ، بار بسو یش چشمک میزدند تا خیالاتش را که پر الدوه بود در پنجه های فراموشی پاره ، پاره کرده‌دردامن‌سیاه رنگ خواب ریزند..

اما چشمان اوهمچنان «کرانه سای» آسمان بود و عروسکهایش . . .

گاهی از دامن مهتاب می گرفت و بااو دانه ، دانه ، قصه ها یش را می گفت و زمانی هم قطره های اشک اش را مهره ، مهره در تار های قیر گون شب جیل می‌کرد و در دستانش که به خاطر خدا بالا کرده بود می آویخت .

او درانتظارترانهٔ شیرین پدر نشسته بود که از لا بلا ی تار های تفنگ اش برمی خو است و در دل ز ما ن پرده ، پرده می نشست تاگوشهای را که عجوزهٔ « بیداری» درآغوش‌داشت در بستر گرم رویاها بلغزاند . . ! !

اما . . . آنشب دلش شور می‌زد و وحشت اش ازروز های جدائی بود .

با اند یشهٔ هم مجلس بود ، سیاه و ما تم زده . . . .

ناگهان آواز ترانهٔ پدر در دل زمان دو ید . . .

اما ! . . اینبار ترانه اش شوردیگر داشت و فر یاد اش سوز دیگر . . .

تگرگ مرمی هایش چون برق‌بهاری روی حریر سیاه رنگ آ سمان لا اله نو شت . . .

ولی دیگر ترانه اش نا تمام ماند تفنگ اش بی صدا . . . ستارگان دانه دا نه خود را از این بزم خون کناز می کشیدند . مهتاب از فرط غم زانو زد و آ سمان سیاه پوشید . . .

اما ! مرغ سحر ! . . .

آری ! مرغ سحر زبان کشود و در محفل شها دت پدر فرا خوا ندش و او با « قا فله دار صبح » ، بسو ی کالبد بخون خفته پدر دوید وباخا مهٔ انگشتان کودکانه اش با خون پدر کنار لااله الاالله نوشت .

و السلام

الحاج غلام صدیق مهمند

د افغانی میندو او ماشومانو ستونځی

په افغانستان کی د کمو نستی حکومت له تحمیلیدو څخه را پد یخوا چی دروسانو په مرسته منځ ته راغی او بیا خصو صاً د روسانو د مستقیمی ورځی مدا خلی را هیسی دمصیبت، تکلیف ، غمو نو ، دردونو ، و رانیو خرا بیو،ظلم اوتشدد وحشت اوبربریت داسی یوه مرحله راغلی چی په تاریخ کی ئی ساری نه لیدل کیږی . فصلونه و سوزول، شول کلی او ښارونه وران کړی شول داوبولګولو ذرایع له منځه یو ړل شوی دیو میلیون څخه زیات افغا نان په دی گناه چی د خا رجی یرغل په مقا بل کی د دین او وطن د فاع کوی شهیدان کړای شول او په زرگونو لور ئي تورو بندیخانو ته ولیږل شول . څه دپاسه پنځه میلیونه افغانان وطن پریښودو ته مجبور شول او په زر گو نو نورو یی خپل کلی او کورونه پر یښودل یائی غرولو ته پناه یووړه اویا خویي د سره استعمار خو لی ته ځان ورو اچاوه او لو یو ښارونو ته لاړل .

روسی استعمار اود هغوی گوډاگی کمو نستانو (خلقیانو او پرچمیانو) څه ظلم او ناروانه و چی په افغانانو ئی ونکړه افغانستان د روسی وسلی یوه تجربگاه وگرځیده . دوی خپله هرراز وسله چی تر او سه ئی تری په کوم جنګ کی استفا ده نه وه کړی په افغا نستان کی و از ما یله . حتی چه دوی په کاریزونو کی داسی کیمیاوی مکروب وا چول چی خلک یی په کولرا (وبا) اونورو مرضونو اخته کړل چی ژوندی مثال یي د غزنی ولایت دمقر ولسوالی ده .

خو د افغانانو ارادی کلکی دی هغوی په خپل خدای(ج) پوره باور لری او په همغه ذات ئی تو کل دی اوددوی هیڅ راز وسله به پری انشاالله کار گره واقع نشی اودوی به ترهغه وخته خپل مقدس جهاد ته ادا مه ور کوی تر څو چی کمو نیزم د افغانستان څخه کډه نه وی کړی .

افغانان نن د دنیا له یو لوی مادی طاقت سره په جنگ بوخت دی اود ا یو ه طبعي خبر ه ده چی د ی جنگ مو نږ ته رنگا رنگ بشری مشکلات او ستو نځی پیدا کړ ید ی چی باید اول هغه وپیژندلی شی او بیا دهغو درفع کولو دپاره هڅه او کوشش وشی . په عمومی توگه زمونږ مشکلات په دوه برخو ویشل کیږی چی ځانگړی عوامل لری .

اول :- دافغانستان دننه .

دوهم :- دافغانستان څخه بهر .

هسی خو که مونږ دامشکلات وڅیړو نو سا حی ئی مختلفی او فهرست ئی ډیر لوی دی خو په عمومی صورت بیا هم دا ستونځی مونږ په دوه برخو جدا کولی شو .

اول :هغه ستونځی چی مونږ یی د جهادپه سا حه کی لر و لکه دجنگی تجهیزاتو کمبود د ځینو قوماندانانو په منځ کی کله ناکله عدم همکاری وغیره وغیره .

۲ - هغه ستو نځی چی د بشری حقوقو او ضرورتونو څخه عبارت د ی ، د دوی فهر ست هم اوږد دی اود بشری اړتیا ووتولی سا حی لکه تعلیم ، غذا ، صحی کو مکو نه او نورپکی شامل دی .

په دی ټولو ساحو څه نوشته کول ځانگړی ریسرچ اوډیر وخت غواړی

چې کله چېرته د افغانانو یوه دله پوهان او لیکوالان دا دنده په ذمه واخلی افغانانو او د افغانستان جهاد ته به یې زښت ډیر خدمت کړی وی .

زه پدی مقاله کی فقط غواړم چې سر سری نظر د ماشومانو او میندو په تیره بیا د هغو میندو چه څښتنان یې د شهادت لوړ مقام ته رسید لی رڼا واچوم :

د شورویانو او د هغوی دغلامانو د وحشیانه بربریت په نتیجه کی د افغانستان په لکونو ماشومانو خپل پلرونه او نور هغه نږدی خپل خپلوان د لاسه ورکړی کوم چې د دوی د تعلیم او تربیې او روزنی مسئولیت ئی په غاړه دراود . په دی اساس دوی د تعلیم او تربیې د پاره هیڅ وسیله او ذریعه نلری او تقریباً اکثر ی د تعلیم له نعمت څخه محروم پاتی دی .

هر نګه چې اکثر شفا خانی یا د روسانو د بمباریو په اثر ورانی شوی او یا خوئی داکترانو هجرت کړی دی په کوم ځای کی چې د مجاهدینو له خوا صحی کلینیکونه جوړ شوی د پوره فنی پرسونل د نه درلودلو او د دوا د قلت له کبله یو ځی په ډیر مشکل کولای شی چې د زخمی مجاهدینو سره اولیه کومک وکړی او د ماشومانو د تداوی امکانات ورسره موجود نه دی .

فلهذا یاخو ماشومان اکثر د خپل ژوند په اولو ورځو کی د منځه ځی او یا په ډیر ضعیف او علیل ډول خپل ژوند ته ادامه ورکوی . هغه ماشومان چې د شورویانو تر تسلط لاندی سا حو کی ژوند کوی د هغوی مشکلات لا ډیر عمیق او د اندیښنې وړدی . سر بیره پردې چه هغوی ته په هیڅ صورت اسلامی او ملی روزنه د ګوډاګی حکومت په مکتبو نو کی نه ورکول کیږی په زرګونو ئې په زور د بندیانو په شکل شوروی ته لیږل

کیږی ، ترڅو د دوی مغزونه پریمینځل شی او دوی د خپل دین او وطن په مقابل کی تربیه کړی چه بیا د خپلو ورونو په مقابل کی د کمونستی نظر لاندی وجنګیږی .

۲- دماشومانو حالت دافغانستان څخه بهر :

د ماشومانو حالت د افغانستان څخه بهر نسبت هغو ماشومانو ته چه په افغانستان کی دننه ژوند کوی ...

څه بهتر وی . د جهادی تنظیمونو لخوا دوی ته څه ناڅه ددینی او دنیوی تعلیم اسانتیا وې برابری شوی او د صحت په هکله هم د ډاکتر او دارو درملو غم خوړل شوی دی خو دا په هیڅ صورت دا معنی نلری چه ګوندی دوی سل په سلو کی ددی تسهیلاتو څخه بهره مند دی که ښوونځی جوړ شوی دی هم په ښارونو کی جوړ شوی او که شفا خانی دی هم په ښارونو کی دی . که ډاکتران دی هم خپل کلینیکونه او معاینه خانی یې د پیښور په ښار کی دننه جوړی کړی دی او یوازې هغه مهاجر تری استفاده کولی شی چه هغوي په ښا یا ښار ته نژدی کمپونو کی ژوند کوی او د ماشومانو د پاره خو لا تر اوسه هیڅ یوه شفاخانه وجود نلری

چه په هغې کې یواځې د ماشومانو تداوي وشي .

د بېړونو څخه لرې علاقو کې د ماشومانو دصحت او تعلیم اوتربیې شرایط ډیر ښه ندي .

دصحي نقط نظرڅخه په‌دې کمپونو کې قطعاً متخصص ډاکتروجودنلري اونه کوم داسې شفاخانه شته چه‌په هغې کې د ماشومانو تداوي اوعلاج وشي د تعلیم اوتربیې په ساحه کې هم ډیر کمې د احساسیږي اکثراً په کمپونو کې د ښوونځیو د و دا نیو نه در لو دل او دتکړه‌استاذانونشتوالي لو یه ستونځه ده .

په‌تیره بیاد نجونود پار خونه‌ددیني علم اوتعلیم څه بندوبست شته اونه د دنیائي مکتبونو نخښه نښانه .

د مهاجرینو خوېندو او میندو مشکلا ت غواړم په دووبرخو کې‌په گوته کړم .اول‌په عمومي صورت د ښځو تکالیف بیان کړم . دویم په خصوصي ډول گه دهغو کونډو په‌باره کې و کړم یعنې چا چه خپل ورو نه ، پلر و نه او خا وندا ن د افغانستا ن په مقدس جهاد کې‌دلاسه ور کړي او اوس بې سر پر سته د خپلو وړو ماشومانو سره په پاکستان کې د هجرت ورځې شپې تیروي .

اول عمومي مشکلات : -

د ښځو عمده مشکل، دهغوی صحي ډیرا بلم دی دښځو د پاره په‌دې ساحه کې په هیڅ یو کمپ کې د دوی د نا روغیو له پاره نه کوم متخصص ډا کتر و جود لري او نه کو مه شفا خا نه .

په کومپونو کې په کوم ځای کې چه طبي ټیمونه و جود لري هغوی هر راز مریضان گوري یعني دداخلي ډاکتر د مجبوریت له مخې دجراحي مریض گوري او د جرا حي ډا کتر کله ناکله نسائي او ولادي ناروغ‌ته رسیدگي کوي . اکثر شفاخانې په هفته کې دوه ورځې د ښځو تدا وي کوي او نورې ورځې که هر څنگه وي باید صبر وکړي .

دلته زما مطلب په ډاکترانوباندې تنقید کول ندي بلکي ددوی داعمل زه هم ضروري گڼم ځکه کوم ځای کې که متخصص ډا کتر نه وي نو بیا خو ډا کتر که څه هم هغه مریض دده د تخصص د سا حې څخه بیرون وي هغه مر یض و گوري او دا یو نیک کار دی ځکه تر یوې اندازې دا ډاکتر دمریض سره کو مک کولی شي او د بلې خوا مر یض ته پو ره روحي تسکین رسولی شي .

د ښځو د ناروغیو یعنې ولادي او نسائي تسهیلات خو بلکل نشته فقط یوه نسائي ولادي شفا خا نه هغه هم په پېښور کې وجود لري چه کا في نده .

زموږ اکثر کمپونه په ډاگونو کې جوړشوي‌چه له او بو څخه‌لرې دي . اکثراً خو افغان کمشنري دا پرابلم حل کړي دی او په ټا نکو نو کې اوبه زخیرو ته وړي چې د هغه ځای څخه بیا هر څوک خپلو کورونو ته او به وړي خو بیا هم ځینې وخت ښځې مجبوري دي چې د ډیرو لرې ځا یو څخه اوبه په سر او غیږ کې د منگو په واسطه راوړي چه دا هم د ښځوله عمده مشکلاتو څخه گڼل کیږي .

دویم دکونډو مشکلات :

بر سیره پر پور ته ذکر شویو مشکلاتو کونډې او یا هغه ښځې چه خپل نارینه ئې د لاسه ور کړي دي ځینې ځانگړي مشکلات هم لري چه باید غور پرې وشي .

مثلاً آسیائي ښځې عموماً او خصوصاً افغاني میرمنې هیڅ کله خپل تکالیف او مشکلات په حکومت کې نشي حل و فصل کولی نه دوی دا جرأت لري اونه هغوی څوک پرېږدي چه هغوی پخپل یو کار پسې د حکومت په دوایرو کې وگرځي په‌دې اساس هغه ښځې چه نارینه نلري نشي کولی چه ځانته راشن‌پاس جوړ کړي او که راشن پاس ولري نو د هغه

دراشن اخیستل ورته ډیر مشکل دی .

نو دا ښځی دیو طرفه دناریننه نه لرلو دپلوه په اقتصادی مشکلاتو اخته دی یعنی دکتبی وتبی څوک نه لری اود بلی خوائی د راشن اخیستو او یا د راشن پاس د جوړولو کار هم نا ممکن دی .

پوهیږو اوباید په صراحت سره دا اقرار وکړو چه دپاکستان حکومت با وجود د خپلو محدودو وسایلو په پاکستان کی میشته مهاجرینو سره د هیڅ نوع مالی امداد څخه دریغ ندی کړی . او څومره چه دپاکستان د حکومت په وس کی ده له هغه څخه زیات یی د مهاجرو مشکلات او پرابلمونه حل کړی او کوی ئی .

خو کوم مشکل چه څوک ئی وینی باید هغه متعلقه خلکوته ښکاره کړی . زمونږ ماشومان او میندی د صبا ورځی د افغانستان سره ډیر نږدی ارتباط لری همدادنن ورځي ماشومان دی چی راتلونکی افغانستان به پالی او همدا د ان ورځي میندې دي چه دافغانستان دصبا ورځي پلرونه روزی که د دوی صحت تعلیم او تربیه تهدنن که شرایط هر څومره سخت هم دی پاملرنه ونشی نو دا د انصاف نه لری دی . نو باید په دی برخه کی ټول دوست هیوادونه ، مؤسسات او تنظیمونه غورو کړی اوددی پرابلمونو دحل په برخه کی مثبت قدمونه اوچت کړی خصوصاً اسلامی هیوادونه او نور سوله خوښوونکی او بشردوست هیوادونه او مؤسسی را مخکی شی اوزمونږ د ورور اسلامی هیواد پا - کستان سره په دی برخه کی په پراخه پیمانه کومک وکړی .

البته دا په هیڅ صورت سره د ښځواو ماشومانو دقیقه او پوره مطالعه نده چه تاسوته وړاندی شوه . دافقط یوه هڅه ده چه د پوهانو او لیکوالانو او نورو ذیعلاقه خلکو توجه ودی خواته راجلب کړو .

وسلام

نوی عیسوی کال به د افغانستان د آزادی کال وی

افغان مهاجرین به انشاالله په پوره عزت او درناوی سره خپل هیوادته ستانه شی

دا خبری د پاکستان جمهور رئیس جنرال محمد ضیاوالحق د جدي په پنځمهٔ نیټه دشنبی په ورځ د پیښور په چارسده کی د بزگرانو یوې د رنی غونډې ته وکړې نوموړي وویل چی ترڅو پورې افغان مهاجرین دموجوده ستونځو او مشکلاتو سره مخامخ وی ، د پاکستان د مسلمان ولس او حکومت دغه مرسته به جاري وي .

جمهور رئیس جنرال محمدضیاوالحق زیاته کړه چې د پاکستان ولس خصوصاً دصوبهٔ سرحد خلکو دپاکستان د دښمنانو هغه ټولی دسیسی شنډې او ناکامه کړې ، چی د افغان مهاجرینو او انصارو ترمنځ دکرکی او نفرت د رامنځ ته کولو په مقصدیی جوړ کړې وې او اوس یی هم جوړوي . د صوبهٔ سرحد خلکو دومره ویشت لکو افغانانو ته په ورین تندي پناه ورکړې ده او په دې توگه یې د انصارو ستر کردار سر ته رسولی دی .

دپاکستان جمهور رئیس دا هم وویل ؛ کوم مقصد چی دښمن دپوځي او عسکري قوت په واسطه حاصل نه کړای شو ، اوس غواړي چې هغه ددسیسو په جوړولو او د افغان مجاهدینو په خلاف د درواغجنو پروپاگندو په کولو سره حاصل کړي .

جنرال ضیاوالحق له خپلی وینا وروسته دافغانستان دلرغوني سپورت وزلوبی ننداره وکړه . هغه په خوشحالی سره او دخندا په څپوکی دا هم وویل چی انشاالله موږ به د راتلونکي کال د وزلوبی ننداره په افغانستان کی کوو .

نحروال

د ډيرې سودې خپگان يې په خوښۍ بدل شو

ښا رو ابۍ به چې کله خپل ناتوان بدن ته و کتل ، نو ډيره به خپه شوه ، هغې د ځو انۍ په وخت کې دا فکر هيڅکله نه شو کو لای چې دومره به کمزورې کيږي او بيا به نو دتيرې ځوانۍ او د ځوا نۍ د فوت ارمان کوي په تيره بيا کله به چې ددوی کډې باريدی اواوښانو به غرغرې کولې ، نو هغې به يوځل بيا د خپلې ځوانۍ هغه وخت راياد کړ چې په ايکې يو ځان به يې د خپلې کيږدۍ ټول سامان په اوښانو بار او د ايلبندونو په لور به له نورو کوچيانو سره يوځای په کاروال کې هسکه غړۍ روانه وه .

اوس به نو چې کډې باريدې ښارو ابۍ به خپلو نږيندو ته کتل او له هغوی سره به يې د او ښا نو په بارولو کې د خولې په خبر و او د لاسونو په اشارو مرسته کوله ، هغې په خپل ژوند کې ډيرې لوړې ژورې وهلې او ډيرې سړې تو دې يې تيرې کړې وې ، خو يو وخت هم له خپل ژوند څخه مايوسه شوې نه وه . خالو اکا هم دخپلې ميرمنې ښارو ابۍ څکه ډيرقدر کا وه چې د ژوند ديېل له لومړيو شيبو څخه يې د هغه د ژوند ډيو ډير ښه مکري په توگه دکور ډيرو درندو بارو نو ته اوږه ورکړې وه او د کور ني ژوند زيات بارې په غاړه اخستی و ، دواړو خاوند او مير منې د يو بل د ډيرو ښو مرستيالانو په تو گه د ژوند په کږو وږو پيچومو کې لاره و هله ، هغوی به چې کله له ايلبندونو څخه را ستنيدل نو ضرور به يې يو او يا دوه اوښان په زيړو غوړيو اوکورتو بار وو او تودو سيمو ته په رارسيدو سره به يې څه د ځان توښه کول او څه نا څه به يې پلورل تر څو دخپل ژوند احتيا جات پرې پوره کړي .

له څه مودې څخه را پديخوا به چې چا د ښارو ابۍ مخ ته وکتل نو دخپگان او تأثر نښې لښا نې به يې پکې و ليدې ، خو هيڅوک نه پو هيدل چې د خپگا ن علت به يې څه وي او نه هغې چا ته د خپل ، نتلی زړه دپټ خپگان رازښکاره کاوه کله نا کله به چې خالو اکا د هغې دتندي گونځو ته وکتل او د خپگان ديو ژور احساس څرک به يې پکې و لگا وه ، نو له ځا ن سره به يې وويل : خد ايه ! نه پو هيږم چې د شيرگل پر مور څه بلا رانازله شوې ده چې له څهمودې څخه را پد يخوا يې د تندي گونځې نه خلاصيږي او له کور څخه يې دو زخ را ته جوړ کړی دی ، لکه چې دا ټوله ملامتيا مې په نږيندو کې ده ، هو ! دننی زمانې ښځې دې ، د خواښې قدر نه کوي ، او کيدای شي د شير گل د مور په زړه کارونه به نه کيږي . د خا لو اکا زړه چې ډير را تنگ شو نو يوه ورځ يې دوا ړه نږ ندې را وغوښتې او د شيرگل د مور دپټ خپگان په باب يې ترې وپو ښتل ، هغوی دوا ړو يوې او بلې ته سره وکتل بيايې په ډير ادب خپل خسر ته ځواب ورکړ : خدای (ج) شاهد دی ، په دې موږ هم نه پو هيږ و چې دابۍ د خپگان علت به څه وي . موږ خو د هغې بې احترا مي نه ده کړې او نه مو د هغې د رضا خلاف

کار کړی دی ، په هر کار کی ترې
پوښته کوو او ابی هم په ډېره مېنه
په ټولو کارونو کی مشوره راکوي
خو چی تندي ته یی ګورو د خوښی
څرک پکی نه لیدل کېږي ، او موږ
هم ور سره خپه یو له ویرې پوښته
هم ترې نه شو کولای .

خالو اکا سوړ اسو یلی وکیښ ،
خپل ګرېوان ته یی سر ښکته کړ
له یو څه شیبی وروسته یی چی سر
راپور ته کړ نږیندو ته یی وویل :
بچیانو ! خدای (ج) مو حیا و ساته
زه باور لرم چی تاسو به لکه دلونوپه
شان د خپلی خوا ښی احترام کوی
زه ډیر در نه خوښ یم ، خدای (ج)
دې رانه رضاشي ، خو دومره خبره ده
چی د ښارو د خپګان سبب هم باید
و مومندل شي ، تا سو دواړه په هغی
پسی شی او په څه چل د هغی د
خپګان راز ځان ته معلوم کړی .

وخت تېرېدو او کوچیانو هماغه
شان خپل کوچ ته دوام ورکا وه
کله به په ایلبندونو کی اوکله به په
د ښتو او بیدیا ووکی تورو کېږدیو د
سیمی ښکلاته نوی رنګ ورکړی و
اود اوښانو غرغړو به په فضا کی
انګازې کولی ، ماښام به چی رمی
له څرځایونو را ستنی شوې ، نود
ورغومو او وریو آوازونو به ټوپهان
جوړ کړی و او هریو وري اوورغومي
به لوښی ګاه ه چه خپلی مورته ځان
ورسوی او په تي پورې یی و نښلي
خو د غو نندارو او منظرو هم لکه
د پخوا په شان خوند او کیف نه
درلود او غوټه شوي زړونه ورسره
نه غوړیدل ، په تیره بیا ښارو ابی
خو داسی په زړه داغلی وه چی تا به
ویل په زړه کی یی سیخو نه پیبلي
دي دهغی به چی ډیر زړه تنګ شو
نو دتورګل ماشوم زوی سپین ګل به
یی غېږې ته نږدې کړ اود خپل
ورک زوی مینه به یی پرې ماته کړه
تورګل پنځه میا شتی کورته نه ؤ
راغلی او دوی داسی انګیرلی وه
چی دروسانو اود هغوی د غلامانو
په کوم چپاو کی به په شها دت
رسیدلی وي . خو د هغه د مړي او
ژوندې د پتی لګو لو په ارمان یی
شپی تیرولی ، د دوی کډه لا په
ایلبندونو کی وه چی تور ګل ترې
تم شوی و ، او اوس چی دسړې هوا
په رارسیدو سره تودو سیمو ته بارېدل
نو زړه نا زړه وو چی له دوی و
لوچیدې او تورګل کورته راستون
شي په هسی خوشی میره به و وړي
او دا پته به و ر ته نه وي چی
موږ په کومه لار تللي یو او چیرې
مو اړولي دي ، خو بیاهم مجبوررو
چی تودو سیمو ته ځانونه ورسوی .

له ایلبندونونه دکوچیانو کډې بار
شوې ، داو ښا نو کتارونه ووچی
وړاندې ورو سته روان ووا وتوله لاره
سرواوښانو نیولی وه . کوم ورو کی
ماشوم ، کومه بوډۍ ښځه او کوم
بوډا به چی دکمزورۍ له امله پلی
نه شو تللی ، نو په اوښانو سپاره ؤ
خو د خالو اکا کورنۍ لا هماغه
شان په خپله میره کی پاتی وه اوچی
په ایلبندونو کی هیڅوک هم پا تی
نه شول اوتوله ورشو خوشی پاتی
شوه : نو خا لو اکا هم شیر ګل را
وغوښت دکډې دبارولواونه بارولو
په باب یی مشوره ورسره وکړه ، شیر

کل هم چې د کشرې ورور تور گل
په باب اندیښمن و په دې برخه کې
یې په ځانگړې توگه کومه فیصله
نه شوه کولی ، نو یې مور هم د
مشورې له پاره او غوښته تیرماسختن
و ، چوپه چوپتیا وه د شپې تیارې
خپل پیخول په غرونو او رغونو
غوړولی و ، په ټوله سیمه کې هیڅوک
نه وو پاتې ، خو یوازې د خالواکا
کورنۍ وه چې کله په یې د
وزو او میږو بغارو او د سپي غپا
د سیمې چوپتیا ماته کړه ، د کیږدۍ
تر مخ د سپوږمۍ رڼا ته پلار ، مور
او زوی سره ناست وو ، تر څو د
کډې د بارولو په برخه کې تصمیم
ونیسي ، خو ناڅاپه ئې د کیږدۍ له
هغه بل اړخ څخه سپي مخ په ښکته
منډه کړه او داسې سخت سخت ئې
وغپل چې تا به ویل له کوم ستر
دښمن سره مخامخ شوی دی ، د
خالو اکا د کورنۍ د ټولو فکرونه
هغې خواته متوجه شول ، شیر گل
ټوپک را واخیست گردنۍ ئې غاړې
ته واچوله او په سپي پسې مخ په
ښکته روان شو سپي له کیږدۍ څخه
ښه پوره لیرې په یو خوړ کې ورو
ورو غپل او شیر گل ځان ورنږدې
کړ ، چې ښه ورنږدې شو ، نو خبرې
ئې تر غوږ شوې او داسې ئې
واوریدې چې کوم غله راغلي دي
او ... د دوی کورنۍ ولوټي

نو د یوې تږې ترشا ئې سنگر ونیو
او خبرو ته غوږ غوږ شو ، خبرې
ورو ورو را نږدې کیدې او سپي هم
سم ور سره را روان و ، څو قدمه
ورته پاتې وو چې شیر گل ته را
ورسیدې ، نو شیر گل خپل ټوپک
ته کارتوس ورتیر کړ او پر راتلونکو
کسانو ئې غږ وکړ چې ودریږی .
څوک یې چې په سره سینه دې خواته
را روان یې ؟! تاسو لکه چې د شیرگل
د ټوپک دزونه دی اوریدلی اوس به
مو په خوړونو کې وینې وبهیږي .
تور گل چې د خپل ورور
خبرې وپیژندې او د ده له خولې
ئې د شیر گل نوم واورید ، سره
وغوړید او په ډیره بې صبرۍ ئې
ځواب ورکړ : لالا موږ یو گوره
چې دزونه کړې ، رښتیا پلار او مورسې
څنگه دي ناروغ خو به نه وي او
سپین گل زوی مې .. ؟؟؟ شیر گل
چې د ورور له دیدن څخه ناامیده
شوی و ، نو له خولې ئې ووتل :
تور گل ! ها زما ورک ورور تور گل !
دا څه اورم ، خوب وینم که رښتیا
هم به دې توره تیاره کې زما د
امیدونو ډیوه بله شوه ، دواړه وروڼه
سره غاړه غړۍ شول او یوه ښه
شیبه ئې یو او بل په غیږ کې نیولي
و ، دوی چې د ورورگنۍ مینه سره
ماته کړه ، نو تور گل خپل مجاهد
ملگري یو په بل پسې ور وپیژندل :

لالا دا زما د جهاد سنگر ورونه
دي ، دغه یو چې گل احمد نومیږي
زموږ د گروپ قوماندان دی او دا
نور دوه هر یو گل ضمیر او ظریف خان
تکړه مجاهدین دي چې د دوی د
سربندنو له برکته تر اوسه پورې
روسانو او د دوی غلامانو ته ښه
د خوند تلفات رسیدلي دي .

دواړه وروڼه لا په خبرو خبرو
کې وو چې پلار یې پرې را غږ کړ :
شیر گله زویه دا څوک دي او څه
غواړي ؟؟ دلته کیږدۍ ته ئې در
سره راوله څه چې غواړي دلته به
په خبره سره پوه شو هلته بې ځایه
له خلکو سره مه ایساریږه ، د دې
پر ځای چې شیر گل د پلار د خبرې
ځواب ورکړي تور گل یې واره په
ځواب کې ورته وویل : پلاره دا
دی در روان یو ته مه وارخطا کیږه
هسې زه او لالا مې په خبرو خبرو
کې سره وښندیدو .

خالو اکا خو لومړی شکمن
غوندې شو ، خو چې ښه ورله متوجه
شو د تور گل خبرې ئې وپیژندې
ښارو ابی ته ئې مخ راواړاوه غوښتل
ئې چې څه ورته ووایی ، خو هغې
دواړه لاسونه د خدای (ج) دربار ته
په دوعا نیولي وو او د ورک زوی
د پیدا کیدو شکرانې ئې پر ځای
کاوه .

تورګل له خپلو ملګرو څخه را
دمخه شو او چې مورلې ځان سره
سماوه نو ده يې غيږېته ځان رسولی
و ، د مور لاسونه يې ښکل کړل او
بيا يې د پلار لاسونه په سترګو پسې
و مښل ، يوه ښه شيبه يې د مور او
پلار په منځ کې تيره کړه او بيا کيږدۍ
ته ننوت چې خپل ماشوم زوی
سپين ګل او د کور نور لوی واړه
وګوري چې په دې کې شيرګل هم له
ميلمنو سره را ورسيد خالو اکا درې
واړه مجاهدين بيل بيل په غيږ کې
ونيول او د ميني روغبړ يې ورسره
وکړ ښا رو ابې هم درې واړو
مجاهدينوته هرکلي ووايه او د خپلو
زامنو په شان يې ونازول ، د کيږدۍ
په ښکته اړخ کې يې په يو اوار
ځای باندې کالي ورته واچول او د
دوډۍ بندو بست يې ورته وکړ .

د مجاهدينو دګروپ قوماندان ګل -
احمد خالو اکاته مخ راواړاوه او د
هغه د خوشحالۍ په غرض يې ورته
وويل : اکا شکر دی چې خدای(ج)
داسې مجاهد زوی درکړی دی ، نن
چې د وطن په هر نراو ښځه باندې
جهاد فرض عين ګرځيدلی دی ، نن
چې زموږ مقدس دين دکفر تر خطر
لاندې راغلی دی او نن چې زموږ
د وطن آزادي په خطر کې لويدلې
ده ، نو د وطن د ځوانانو وظيفه ده
چې په دې مقدسه لارکې خپلې ټولې
هلې ځلې پکار واچوي ، هغه پلار
به بختوروي چې په دې حساسو
شيبو کې دتورګل غوندې مجاهد زامن
د جهاد سنګر ته وړاندې کړي ، زه
تاسوته ډاډ درکوم چې تورګل د
جهاد په دې څو مياشتنۍ موده کې
په روسانو باندې خپله خواښه سره
کړې ده که څه هم موږ او پخپله
تورګل کوښښ کاوه چې په دې موده
کې تاسوته ليک او يا کوم ځواب
را وليږو ، خو باور وکړی چه يوه
ورځ هم له عملياتو څخه نه يو
وزګار شوي هله دا چې داسې باوري

څوک نه پيدا کيدل چې ستاسو د ډاډ
له پاره دهغه پدلاس کوم خبر راو ليږو
موږ يقين لرو چې تاسو باندې به
له دې پلوه ډير خپګان تير شوی وي
دغه ستاسو خپګان هم د خدای(ج)
په دربارکې لوی اجر لري .

د قوماندان صاحب خبرې لا نه
وې خلاص شوي چې د لاسولو د
مينځلو له پاره اوبه راوړل شوې
په کور تو کې يې ډوډۍ ورته
کړې وه او زيړ غوړي يې پرې
اچولي وو ، خالو اکا ميلمنو ته مخ
را وګرځاوه ، غاړه يې تازه کړه او ورته
وې ويل : کومندان صيب ! ستاسو
له پاره خو ډير څه کول پکار وو
مګر متل يې کړی دی چې « څه تيار
هغه ديار » نو هر څه چې دي سره
خوړو به يې ، قوماندان صاحب ورته
وخندل او په خنداخندا کې يې ځواب
ورکړ : اکا د زيړو غوړ يو مقابله يو
نعمت هم نشي کولای ، په تيره بيا
دجهاد په سنګرو کې ، خو کله کله
مجاهدين وچه ډوډۍ هم په تکليف پيدا
کوي ، نو نن چې کورت او زيړ غوړي
مخکې را ته ايښې دي باور وکړی
که دغه خوند او مزه مو په تيرو څو
کلو نو کې هم څکلي وي ، خدای
(ج) دې تاسو ته برکت درکړي ،
موږ ستړي هم يو دغه زيړ غوړي
به مو څه نا څه تکور کړي . رښتيا

د تور گل خبره مې کوله، دی چې پخپله بیا شي مخکې زموږ له گروپ سره ملگری شو، که څه هم په لوړ ووږي سر کې مې سره نه پیژندل، خو چې ده خپله شجره راته تیره کړه او په جهاد کې د برخې اخیستو په باب یې خپله مینه وښود له نو موږ دا ده شوو او دی مو پخپل گروپ کې د مجاهد په حیث وما نه بیا ده غو ښتل چې تاسو هم پخپله دغه پاکه اراده خبر کړي، خو سمدلاسه مو مهم عملیات په مخکې وو او دی په هغو عملیا تو کې را سره بوخت شو او چې له هغو عملیا تو څخه خلاصیدو بیا زموږ گروپ ته وظیفه راکړل شوه چې میمنې ته لاړ شواو هلته په مهموعملیاتو کې برخه واخلو چې د تولو مجاهدینو دگډ پلان له مخې د روسانو په یوه مهمه قرارگاه باندې په نظر کې نیول شوي وو. نو څکه مو ددې وخت پیدا نه کړ چې تور گل کور ته را شي او له تاسو څخه رخصت واخلي.

خالو اکا په سړه سینه د قوماندان گل احمد خبرې واوریدې او ددې له پاره چې د دوی جهادي هلې ځلې یې ستایلې وي. هغه‌ته یې په ځواب کې وویل: خدای (ج) دې ستاسو دغه هلې ځلې او منډې ترړې پخپل دربار کې قبولې کړي او په ځوانو مټو کې دې خدای (ج) برکت دروا چوي چې شپه اوورځ موپرځانونو یوه کړې‌ده او له روسانو مو لاره ورکه کړې‌ده، زه په‌دې ډیر خوښ شوم چې زوی مې تورگل په دغه پاک نیت خپل ټول کارونه پرایښي او د جهاد سنگر ته یې دانگلی دي، خو موږ نه پوهیدو چې رښتیا به هم ده د جهاد لاره نیولې وي، موږ انگیرلې وه چې په کومه بمبارۍ او یا د روسالو په کوم بل چپاو کې به شهید شوی‌وي نو له دې امله لږ څه اند یښنه را باندې تیره شوه، په تیره بیامور خو یې دومره غمجنه وه چې په دې‌پنځو میاشتو کې یې په تندي کې د خوښۍ څرک نه دی لیدل شوی، نو اوس چې تاسو په خیر را غلئ، موږ هم داده شوو او د تورگل مور به هم لږ څه د آرام ساه واخلي، تاسو گورۍ چې په ایلبندونو کې هیڅوک هم نه دي پاتې یوازې زما کورنۍ ده چې په دې خوږشي میره کې پا تې ده دا څکه موږ فکر کاوه چې که تورگل را شي. نو بیا به سرگردان کیږي نه، همدا اوس څو شیبې مخکې چې تاسو لا نه وی رارسیدلي موږ په دې باب مشوره کوله چې څه وکړو ایا کډه بار کړو که پاتې شو، خو موږ لا فیصلې ته نه وو رسیدلي چې تاسو را ورسیدئ.

ښارو ابی خو د زوی په لیدلو خوشحاله شوه او د ډیرې مودې د بیلتانه په اور یې سړې او په تویې شوی خو په تندي کې یې د خپگان نښې نښانې لا هماغه شان له ورایه ښکاریدې او په ژوندانه کې‌یې چندان بدلون رانغی دوی یوه هفته نوره هم په ایلبندونو کې تیره کړه ترڅو تور گل او نور مجاهد ملگري یې دمه شي بیا یې نو د کډې د بارولو تصمیم ونیو، د سهار له چای خوړلو وروسته خالو اکا قوماندان گل احمد ته مخ ورواړاوه ورته ویې ویل: کوماندان صیبه! موږ نن د کډې د بارولو فیصله کړې د ه، دا څو ورځې مو ستاسو د ستړ یا د رفع کولو لپاره د لته تیرې کړې او س چې تاسو دمه شوی، نو که خو ښه مو وي موږ به خپل کا رو نه سره برابر کړو، قو ما ندا ن گل ا حمد خبروته ځان جوړاوه چې تورگل‌ترې دمخه‌شوپه ډیر ادب یې‌پلارته وویل: موږ هم اراده لرو چې همدانن‌له‌خپلو مجاهد ینو ورونو سره د کړې وعدې له مخې ستاسو له حضور نه رخصت شو هغوی به موږ ته انتظار لري، شکردی چې‌تاسوټول مې روغ او جوړ ولیدی انشاءالله که ژوندون وي زه به بیا کوم وخت هغې زړې میرې نه‌ځان ور ورسوم، خو که شهید‌شم

سو بمی وبخښی اوس په دیره مینه
اجازه راکړی ، تاسو به هم په لوی
خدای (ج) وسپارم ماته هم دو عا
کوی او په خدای (ج)می وسپاری .

مجاهدین په دیره مینه د خالوا کا
د کورنی د دوعاووپه څپو کی رخصت
شول ، تور گل دمور او پلار لاسو نه
ښکل کړل خپل ماشوم زوی سوزگل
یی په غیږ کی ونیو او یوه ښه شیبه
یی دهغه سترگوته کتل بیایی شیرگل
ته غیږ ورکړه او چی ددوی خدای
پامانی خلاصه شوه ، نویو ځل بیائی
کیږدی ته سر د ننه کړاو دوروستی
ځل له پاره یی په ستر گو سترگوکی
لهخپلی ورېند اری او میرمنی څخه
خدای پاما مانی واخسته او لهمجا-
هدو ملگرو سره مخ په ښکته روان
شو .

پلار ، مور او د کورنی تولوغړیو
په دو عا لاسونه نیولی وو او تر
هغه پوری یی لاسونه ښکته تکړل
چی تور گل او مجاهد ملگری یی
له سترگو پناه شول ،له دی وروسته
خالو آ کا په شیر گل غږ وکړ
چی زو یه اوس نو وخت له لاسه مه
ورکوی دکړی په بارولو لاس پوری
کړی لاري هم چندان داعتبار وړنه
دي ، که په نوروکدو پسی ونه
رسیږو ، کیدای شی په ځانگړی توگه
د روسانو له کوم تارا کسره مخامخ
شو او بیا به مو دلاسه هیڅ نه کیږی
د تور گل دي خدای (ج) مل شی
دیره ښه لاریی موند لی ده زماهم
دا آرزو وه چی که توله کور نی په
جهاد کی برخه لهشو اخستلای ، نو
یوزوی خو می باید د جهاد په
سنگر کی ولاړ وی .

اوښان بار شول دوزو او میږو
رمه شیرگل د مخه کړه او خالو آکا
لهاوښانو سره وروورو مخ په ښکته
روان و ، ښارو ابی دبار کړی اوښی
د پاسه ناسته او سورگل یی په غیږ
کی نیولی و ، دواړه نږیندی یی
تر شا روانی وی ، تنکی غرمهوه
چه دغه کوچنی کاروان لهیوه تنگی
دری څخه راووت او چه لوړ ماز -
دیگر راتلو ، نو دوی بیا دیخ کاریز
شاو خواته رسیدلی وو ، هلته یی
او ښان واړول اوکیږدی یی ودروله
د شپی له لپاره یی د ډوډۍ پخولو
بندو بست وکړ ، خالو ا کا ډیره
وهلی وه او د ښارو ابی مخ ته یی
کتل چی لاهما غه شان د یو ژور
خفگان نښی نښانی پکی لیدل کیږی
له ځانه سره یی وویل : اوس خوبی
ورک زوی هم پیداشو نو دا دتندی
گونځی یی ولی نه خلا صیږي، دا خو
لاپریږده چی زوی یی بیا جهاد ته
ولاړ او را څخه بیل شو ، هغه چی
په کور کی وهم ددی همد غه حال
و ، او یوه ورځ موهم ددي لهلاسه
په ارام زړه ډوډۍ ونه خوړه .

دوی چه دڅو ورځو مزله څخه
وروسته شاه جوی ته ورسیدل ، نو د
کابل کندهار عمومی سړک ته نږدی
یی په یو کاریز کیږدۍ و درو له ،
شیرگل لارمه نه وه رارسولی اوخالو
آکا هم اوښان د څر له پاره هغی نږدی
دښتی ته بوتلل ، ښاروابی لهسورگل
سره دزړه خواله کوله اونږیندی یی
دکور په کار بوختی وې چی دکابل
له لوري یو روسی کاروان راورسید
د روسا نو د کاروان د سر په ټانک
کی تخنیکی عوارض پیدا شول او ټول
کاروان ورسره ودرید ، په ټانکو نو
او لاریو کی سپاره روسان راښکته شول
او د سړک په دواړو غاړو کی
خواره شول ، یو روسي مشاور چی
کـــلاکوف ، توپانچه او یـــوه پایه
مخابره هم ورسره وه دکیږدۍ پهلور
مخه وکړه او ورو ورو کیږدۍ ته
ورنږدي شو ، ښاروابی چی په روسي
سترگی ولگیدې ، نو سپی یی راتوکړ
خو سپی له شیر گل سره په رمه کی
پاتی و ا و ددوی په ښه رانغی ، نو
نږیندو لـه یـــی وویل : لونو تا سو
گوری چی هغه دی مخامخ یو روسی
راروان دی ، خو پام کړی چی همت
له لاسه ورنه کړی ، ماچی څه کول

تاسو بەهم هما غه کار کوی ، هله ژر شی تبرونه راواخلی اود کیږدی نر پټونو لاندې یی څرګند کیږدی دښارو ابی خبرې لا نه وې خلاصی چی روسی مشاور کیږدی تەراورسید او پرته لەدې چی کومه ویره یی په زړه کی پیدا شي په روسي ژبه یی څه ورته وویل ، ښارو ابی یوه خوا او بله خوا وکتل او د الله اکبر له نارې سره سم یی پەتبر باندېووامه چی نیم سر یی مات شو روسي مشاور کلاکوف ته لاس کړ ، خودښارو ابی نوړیندو بیا له یوې خوا او بلی خوا دتبرونو تر ګوزارونو لاندې ونیواو په ځمکه یی راوپرزاوه ، چی په دې توګه یی لـه یـوې خـوا یو میل کلاکوف تو پک ، یو میل د تمی تي توپانچه اویو سیټ مخابره ولجه کړه او لەبلی خوا یی پەمقدس جهاد کی برخه واخیستلی شوه ،دوی چی روسی مشاور وواژه ، نو سمدلاسه یی پەتویو شو یو وینو خاورې وپاشلی او د روسي مړی یی تر برستنو او څلو نو لاندې پټ کړ .

د روسانو کاروان چی تګ ته تیار شو ، نو وبی لیدل چی یو مشاور نشته ، یو خوا او بل خوا یی پسی وڅغاستل ، خو څه پته یی و نه لګیده یی څو تنه کیږدی تـه ولیږل

خـو ښارو ابی پـه اشارو اشارو کـی پەدې وپوهول چی موږ په څه باندې نه یو خبر ، دروسانو دکاروان مشر له ډیرو پلټنو وروسته په دې باوري شو چی کیدای شـي چـی مشاور مجاهدینو ته دځان سپارلو پـه غرض هغـو ی تـه پنا ه وړي وي ، نو یـی کاروان تـــه د روانیدو قوماندە ورکړه .

خالو اکا چی لږ شیبه وروسته د کور حالات څه بل شانی ولید ل اوچی کورته راغی دښارو ابی تندی ته یی وکتل نو هغه یخوانی خنګان او تاثر بی پکی ونه لید ، یـوه شو چی څه داسی نوې پیښه شوې دمچی دښارو په حالت کی یی بدلون راوسنی دی ، نوبی اردی یی ترې وپوښتل: د شیرګل مورې ! ن خو دی په تندي کی ګو نځی نه ښکاري ، که څه هم زه ډیر ستړی یم ، خو چی ستا مخ ته ګورم او دپخواني خپګان نښی نښانی پکی نەوینم نوټوله ستوماني می له منځه ولاړه ا و خدای (ج) شته چی اوس بالکل د ستړیا احساس نه کوم ښارو ابی پەسترګو سترګوکی نوړیندې په دې وپوهولی چی روسی مشاور لەبرستنو اوڅلونو څخه راوباسي اوهم کلاکوف توپک ، دتمي تي توپانچه او مخابره راواخلي ترڅو دخوښی سبب په خپلو سترګو وګوري ، خا لو ا کا

چی روسی مشاور پەوینو کی لت پت مړ ولید نود خدای (ج) شکر یی ادا کړ او بی ارادې یی له خولی ووتل خدایه ! شکر ، دغه میړانه زما بوډۍ میرمنی کړې ده ، دا څه وایم جنت می کیږ دې ته راغلی د ی او زه دې لـــه د غه ستر نعمت څخه محروم کړم .

لەخالو اکا سره دا ویره وه چی که روسان په د ې و پو هیږ ي چی مشاور یی موږ وژلی د ی ، زموږ کورنۍ به ټو له وسوځوي ، نو ښه داده چی لەدې ځایه بار شو او شپه په شپه کو م بـل ځا ی تـه ځانونه ورسوو ، له خپلی میرمنی او نوړیندو سره یی هم سلا وکړه او د اوښانو پـه بارولو یی لا س پورې کړ دوی چی اوښان بارول نو شیر ګل هم له خپلی ز می سر ه راورسید او چی په جریان خبر شونو هغەهم د خدای (ج) شکر ادا کړ ا و شپه په شپه له دې ځا یه وکوچیدل ، او له د ې ورځی وروسته بیا دښارو ابی په تندي کی چا د خپګان نښـی او نښانی و نـه لیدې .

سرکه کوونکی: غروال

له مجاهد قوماندان قاري عبدالله سره مرکه

موږ له خپلو قهرمانو مجاهدینو سره د مرکو او مصاحبو په لړ کې داځل دمحاذ دمجلې محترم لووستونکی له یوه ځوان ، د پخې ارادې خاوند او مجاهد شخصیت سره آشنا کوو او غواړو چې دده په خوله د ده له نامه او پیژندنې سره بلد شئ . نو له د غه پیاوړي قوماندان څخه زما لومړۍ پوښتنه داوه چې خپل ځان د محاذ د مجلې محترمو لوستونکو ته وروپیژنئ :

ده په داسې حال کې چې په‌شونډو یې مسکا خوره شوه او پخپله گڼه گونه ږیره کې یې گوتې وهلې داسې وویل : نوم مې قاري عبدالله کریمي دی ، دمولوی عبدالقدیر زوی یم چې په (۱۳۳۶) کال د غزنی ولایت د «ده یک» دولسوالۍ د جان آباد د کلي په یوه عالمه ، دینداره او وطندوسته کورنۍ کې زیږیدلی یم دیني تعلیمات مې د غزني ولایت په نورالمدارس فاروقي (رض) کې د هیواد دجیدو علماو تر نظارت لاندې سر ته رسولي اود قرآن عظیم الشان حافظ یم په داسې حال کې چې قاري صاحب خپلې خبرې لا نه وې خلاصې کړې مایې خبرې ورغوځې کړې او د ده دجهاد دپیل دعلتونو اود جهاد دپیل دوخت په باب‌مې ترې وپوښتل ده بیا هم اوږده ساه وکښله او په شمیرلو کلماتو یې زما دپوښتنې ځواب داسې پیل کړ :

مخکې له دې چې په گران هیواد افغانستان کې خلقیان اوپرچمیان د روسانو په مستقیم ملاتړ کمونستي کودتا وکړي ، موږ د نور المدارس طالب العلمانو دهیواد دنوروعلماؤ له حلقو سره په ارتباط د خدام الفرقان په نامه یو تحریک او منظم تشکیل درلود اوکوښښ مودا و چې په‌هیواد کې دخپلو دیني او اسلامي هلوځلو په برکت دکفر او الحاد د خپریدو مخه ونیسو ، خوله بده مرغه خلقیان او پرچمیان دروسانو په مرسته له‌موږ څخه مخکې شول او په هیواد کې ئې کمونستي کودتا وکړه ، ددې له پاره چې وخت موله لاسه نه وي ورکړی نو له کودتا سره جوخت موږ خپلې

جهادي هلې ځلې پیل کړې اود دې له پاره چې سمدلاسه زموږ د جهادي هلو ځلو په مخکې خنډونه نه وي پیداشوي نو دکودتا په پنځمه ورځ له خپلو ځلوبښتو تنو طالبانو ورونو سره دوطن پریښودلو ته مجبور شوو تر څو د یو منظم پلان له مخې پر دښمن باندې د عملیاتو پروگرامونه عیار کړو ، موږ د (۱۳۵۷) کال د روژې په مبارکه میاشت کې‌وکړای شول چې دگیرو په علاقداری‌ه بریالی عملیات تر سره کړو چې په دې عملیاتو کې د دښمن لږ تر لږه مشین ته کمونستان ووژل شول او دوه میله

وسله زموږ لاس ته را غله ، اوهمدا-
رنګه زموږ د مجاهدینو د یوګروپ
قوماندان دلوګر دولایت اوسیدونکی
مجاهد ملا عبدالصمد دشهادت دجام
په پورته کولو سره په سیمه کی د
شهداؤ د کاروان د سالار افتخار تر
لاسه کړ .

(انا لله وانا الیه راجعون)

ماتری یا پوښتنه وکړه :

په دې توګه چی اوس روسانو او
دهغوی غلامانو دجګړی تاکتیک
بدل کړی دی یعنی داچی پخوا به
یوه مجهزه او ستره قوه یوې سیمی
ته لاړه اوهغه سیمه به یې تر عمومی
چپاو لاندې ونیوه ، خو په مقابل کی
به د مجاهدینو د پولادي ګوزارونو
په نتیجه کی دزیاتو تلفاتو په زغملو
سره له ماتی سره مخامخ شوه ، خو
اوس یې دجګړي ترتیب ځه بدل ډول دی
نو تاسو د دوی د دغه جنګی تاکتیک
په باب څه نظر لری اوآیا مجاهدین
هم د دوی د غه نوي تاکتیک ته
متوجه دي اوکه څنګه ؟

قهرمان قوماندان په داسی حال
کی چی د مجاهدینو په تدبر اوزړ-
ورتیا داډ من او باوري ښکاره کیدو
خپلی خبري داسی پیل کړې :

رښتیاهم چی دښمن د جنګ تاکتیک
بدل کړی دی او هغه په دې توګه
چی زیاتره وخت د کمین نیو لو په
توګه خپل عملیات اجرا کوي ، خو
الحمد لله مجاهدین د دوی د غه
انسانی ضد تاکتیک ته ډیر ژرمتوجه
شول اوپه هرځای کی یې د دښمن
له خوا نیول شوی کمینونه ترخپلو
کمینونو لاندې راوستل او د دې پر
ځای چی مجاهدینو ته تلفات ورسیږی
پخپله روسانو اود هغوی غلامانو ته
ډیر تلفات و رسیدل او لا به ورته
رسیږی ، خو سره له دې هم دښمن
د غه تاکتیک ته دوام ورکوي ، اما
موږ باوري یو چی دلوی خدای(ج)
په مرسته به دوی په دی تاکتیکونو
ماتی وخوري ، بله داچی اوس روسان
اود هغوی ګوډاګیان د مجاهدینو پر
مرکزونو ، قرار ګاوو او سنګرونو
باندې چریکی عملیات اجرا کوی ،
خو په دې کار کی یې هم چندان
ګټه نه ده کړې اوهرځل د مجاهدینو
د پولادی ګوزارونو په نتیجه کی
د زیاتو مالي او ځاني تاوانونو په
زغملو سره په ماتی مجبور شوي دي
سر بیره پر دې دښمن اوس د لیري
ویشتونکو درندو وسلو پهاستعمال سره
د مجاهدینو مرکزونه اوکلیوالی سیمی
تر اور لاندې نیسی ، خو داچی
مجاهدینو د خپل حفاظت لهپاره لازم
تدابیر نیولي دي نوځکه له دې امله
چندان تلفات نه شي ور ته رسولی ،
خو د کلیوالوخلکو تلفات ځکه ورسره
زیات شوي دي چی هغوی دځانونو
دخوندي کولو له پاره مؤثراقدامات
نه شي کولای ځکه چی دماشومانو
سپین ږیرو او ښځو سنبا لول دومره
آسان کار نه دی .

له ا تل قوماندان قاري عبدالله
کریمی صاحب څخه زما بله پوښتنه
دا وه چی په دې ورو ستیو وختونو
کی روسانو د خپلو غلامانو په خوله
دملي روغی جوړي اوائتلافی حکومت
دډنډوري پیل کړي دي ، تاسو دجهاد
دسنګر دیو وتلي قوماندان په توګه
د دوی د غه نوې د سیسه څر نګه
څیری :

قوماندان صا حب په داسی حال
کی چی دژور فکر په څپو کی تللی
ؤ سر را پو ر ته کړ اوخپلو خبروته
یې داسی دوام ورکړ .

داخو هرچاته معلومه ده چی دثور
له کمو نستي کودتا څخه راپدیخوا
روسانو اود هغوی غلا ما نو ډیر و
داسی د سیسو او نیرنګونو ته لاس
واچاوه چی که وکړای شي د هغو په
واسطه د افغانستان مجاهد اومسلمان
ملت ایل کړي خو الحمد لله د دوی هره
د سیسه په خپل وخت دایمان اوپخی
عقیدې په قوت ور شنده کړای شوه
اوس چی دښمن د ملي روغی جوړې
او ائتلافی حکومـت دنوې د سیسی
کومی ډنډوري پیل کړي دي ، نو
زه د جهاد د سنګردیو کوچنی مجاهد
په توګه داډه یم چی انشاءالله دغه
د سیسه هم ناکامه ده لکه چی موږ ی

په سترګو وينواوډيرې نورې دسيسې به يې هم دلوی خدای (ج په مرسته له ناکامۍ سره مخامخ کيږي داځکه په پښتو کې متل دی وايي چې : «يو سړی چاپه کلی کې نه پرېښوده ده ويل چې وسله مې د ملک کره کيږدی » . مجاهد ملت دخلقيانو او پرچميانو واکمني اوسياسی موجوديت نه مني ، نوله هغوی سره روغه جوړه او يا له هغوی سره ائتلافی حکومت جوړول له عقل او فکر نه ډيره ليرې خبره ده ، موږ وينو چې د دښمن د دغی ناکامی دسيسی د ندورو له پيل څخه را په ديخوا د افغانستان په ټولو سنګرونو کې نه يوازې د مجاهدينوپولادی ګوزارونه زيات شوي‌دي بلکی ددښمن په‌وحشت او بربريت کې هم‌څو ځايه زياتوالی راغلی دی په تيره بيا د ولسي او کليوالو خلکو تلفات په‌دې موده کې په سلو کې له سلو څخه هم اوښتي دي ، همدارنګه زماپه نظر روغه جوړه خو له هغه چا سره کيدای شي چې سياسي مستقل تشخص اوملي اسلامی حيثيت ولري ، زموږ په خاوره روسانو تيری کړی دی . خلقيان او پرچميان خود روسانو بې واکه غلامان دي چې زموږ په سلګونو زره خلک يې قتل عام کړي دي موږ څه ډول کولی شو چې د يو متجاوز ځواک د بې واکه غلامانو او د خپل مجاهد ولس له قاتلينو سره روغه جوړه وکړو ؟ دا هيڅ کله امکان نه لري .

ما تر يې بيا وپوښتل چې د جهادي‌تنظيمونو ترمنځ ددی‌ورروستني اتحاد په باره کې څه نظر لرې ؟ ده په ځواب کې وويل :

دا خو جوته خبره ده چې د افغانستان قهرمان او مسلمان ملت آن د جهاد له پيل څخه د اتحاد او يووالی غوښتونکی دی اود وسله‌وال سنګر د مجاهدينو او در ديدلو مهاجرينو يوازينی آرزو د مجاهدينو د مشرانو ترمنځ واقعي يووالی او اتحاد دی ، نن چې زموږ مشران د مجاهد ملت له غوښتنی سره سم ديو واقعي اتحاد په کولو بريالي شول نه يوازې زموږ دزياتی خوښۍ سبب دی بلکی د مجاهدينو حوصلی هم ورسره زياتی شوې ، خو له محترمو مشرانو څخه زموږ هيله داده چې دغه اتحاد بايد وروستی او هميشنی اتحاد وي اودغه اتحاد بايد يوازې په دفترونو او جلسو کې منحصر پاتی نه شي بلکی جبهاتو اوسنګرونو ته هم غزونی وکړي ، که څه هم په ټولو سنګرونو کې د حق د لارې مجاهدين سره متحد دي ، خو که د جنګ قومانده يوه شي دا به د مجاهدينو او د مقدس جهاد د پړه لابرياليتوب تمامه شي .

له محترم قاري عبدالله څخه

زما بله پوښتنه دا وه چې که چيرې ستاسو له‌وينا سره سم دجهاد په‌مقدسو سنګرونو کې دجنګ قومانده يوه شي آيا دغه کار به د مجاهدينو له پاره برياليتوبونه له ځان سره ولري ؟

قوماندان صاحب وخندل او د خندا په‌څپو کې يې‌خپلی خبرې‌داسی پيل کړې : موږ ټول مجاهدين په دې باور لرو چې که دجنګ‌قومانده يوه شي ، لو روسان او د هغوی غلامان خلقيان او پرچميان به انشاءالله ډير ژر له حتمي ماتی سره مخامخ شي ځکه چې خدای‌تعالی(ج) پخپله فرمايلی دی چې « وعتصموا بحبل‌الله جميعاً ولا تفرقو» نودخدای تعالی (ج) په دغه مبارک کلام‌باندې په ايمان لرلو سره موږ ډاډه يو چې که رښتيا هم زموږ ترمنځ واقعي يووالی موجود وي نو موږ بريالي يو ، ځکه موږ د جهاد په دې اوږده موده کې په تجربه ثابته کړې ده کله چې موږ د ټولو جبهاتو او يا لږ تر لږه دڅو جبهاتو مجاهدينو د عملياتو له پاره ګډ پلان طرح کړی دی ، نود خدای (ج) په مرسته په‌هغو عملياتو کې زموږ بشپړ بری په‌نصيب شوی او دښمن ته مو ماتی ورکړې ده ، د مثال په توګه په ۱۳۶۳ کال

کی کله چې په «رامک» کې دد ښمن پر
پوسته باندې دمجاهدینو دیو ځانگړي
گروپ عملیا ت روان وو ، نو د ښمن
ته چندان تلفا ت نه رسیدل ، خو په
کومه ورځ چې مونږدحزب اسلامي
دمجاهدینو لهیو گروپ سره د اتحاد
لاس و.ک. ا و یو گروپ .مجا هدین
مو په یوه قومانده پر پو سته باندې
دعملیاتو له پاره وکمارل نو پههماغه
ورځ مو پوسته لهمنځه یووړه او برې

دغه غو ښتنه په پام کې ونیسي او
دجنگ قوماندانه یوه کړي .

له قاری عبداله څخه مې بیا هوښتنه
وکړهچې تاسې خپلې جها دې چارې
څنگه پر مخ بیائی ؟ په ځواب کې
یې راته وویل :

ما دجهاد لهپیل څخه کوښښ کړی
دی چې ځای تول جهادی فعالیتونه
د مجاهدینو او سیمې خلکو په سلاح
او مشوره پر مخ بوځمچې همدااوس

چې دمجاهدینود گروپونودقوماندانانو
او دهغوی د معاونینو څخه متشکله
ده ، دوی دجهاد ورځنی فعالیتونه
څیړي او د جهاد پلانو نه تر تیبوی
همدارنگه موږ یوه نظا مي شورالرو
چې دغه شورا په سنگرونو کې د
مجاهدینو عملیات عیار وي او پرمخ
یې بیایي ، سربیره پردې زه کوښښ
کوم له خپل هر مجاهد څخه د مخه
ځان د خطر ځای ته ور سوم او زما

دا هم په افغانستان کې د روسانو د ماتې او رسوائی یوه نمونه

د مجاهدینو په نصیب شو ، نو زه د
جهاد دسنگر د یو سپا هي په تو گه
له خپلو قدرمنو مشرا نو څخه د ا
هیله لرم چې له هر څه نه د مخه
د جهاد د سنگر و نو د سربښندونکو

هم موږ پخپله جها دې سیمه کې د
علمائی کرامو یوه شورالرو چې د جهاد
تول مسائل ددوی د فیصلو په رڼا
کې حل او فصل کیږی ، د دې په
څنگ کې موږ یوه اجرائیه شورا لرو

هیله داده چې که زما مجا هدین له
خطر څخه بچ وی .

ما بیا هم خپلو پوښتنو ته دوام
ور کړپه داسې حال کې چې قوماندان
صاحب په خپل تیز نظر زما د کاغذ

پاتو ته کتل ماترې وپوښتل :داسې
معلومېږي چې ستا سو له جهادي
سيمې څخه چا هجرت نه دی کړی
او ټول کليوال خلک په خپلو کليو
او بانډو کې او سيږی او د يوې
آزادي سيمې په‌توګه د کفر اوالحاد
له وا کمنی څخه پرته خپل آزا د
ژوند ته دوام ور کوي ، آيا تاسو
د سيمې د عمومي قوماندان په توګه
د هغوی دورځنې ژوند د اړ تياو د
پوره کولو او د هغوی د ما شومانو
د تعليم او تربيې په برخه کې څه
تجويز نيولی دی .

ده بيا هم د خدای (ج) په لوی
در بار کې بې پايانه شکرونه‌ادا کړل
او خپلې خبرې يې داسې پيل کړې
رښتيا هم چې زموږ د جهادی سيمې
او سيدونکو هجرت ندی کړی اوټول
پخپله سيمې کې آزاد ژو ند کو ي
نو ددې له پاره چې دوی د ورځنيو
اړ تياو د پوره کولوله‌پاره له‌ستونزو
سره مخامخ نه‌شي ، موږ کړښښن وکړ
چې له‌ځينو نړيوالو خيريه موسسو
سره تماس ونيسو او له هغوی څخه
مرسته وغواړو او په دې توګه‌موږ
وکړای شول چې ځينې خيريه‌موسسې
قانع کړو بالاخره موږ په دې برياليو
شوو چې د خپلو خلکو له پاره «۳۶»
پايې واټر پمپونه، يوه عراده تراکتور
کيمياوي سره او د تخم غنم تر لاسه
کړو ، چې همدا اوس موږ د کرنې
د څانګې په نامه په خپله سيمه کې
منظم تشکيل او فني کسان د کرهنې
د چارو په فعاليت بوخت دي ، سر-
بيره پردې کله نا کله‌ځينې نورضروري
مواد هم د مرستې په توګه ياله خپل
تنظيم او يا له خيريه مو سسو څخه
تر لاسه کوو او خپلو خلکو ته يې
رسوو ، نو له دې پلوه الحمدالله
زموږ خلک چندان له ستونزو سره
له‌دې مخامخ . ستاسو د پوښتنې د
دوهم جز په ځواب کې بايد وويل
شي چې موږ آن‌دجهاد له پيل څخه
د خپلو ماشومانو ښوونې او روزنې ته
متوجه وو ، خو شرايط لامناسب
شوي نه وو ترڅو د(۱۳۶۱) کال په
پيل کې موږ وکړ ای شول د خپلې
سيمې د علماو ، مشرانو اوتعليم يافته
کسانو په مرسته‌دري مدرسې او«۱۲»
ښوونځي فعال کړو چې همدا اوس
«۱۲۰» تنه طالب‌العلمان په عالي
زده کړه او «۹۵۰» تنه هلکان په
ښوونځيو کې په لوست بوخت دی چې
د علماو او ښوو نکو شمېر يې
«۴۱» تنو ته رسيږي ، د دوی
د رسي مواد څه نا څه زموږ
د تنظيم د افغانستان د ملی اسلامي -
محاذ د تعليم او تر بيې د ر يا ست
له خوا او څه نا څه ئې د سيمې د
علمائې کرامو او تعليم يا فته خلکو
له خوا تهيه کيږي . نو زه په د اد
سره ويلای شم چې ا لحمد لله زموږ
د خلکو ستونزې د ګران هيوا د د
نورو جهادي سيمو په اندول څه ناڅه
کمې دي .

ذ دې له پاره چې زموږ مجاهد
هيواد وا ل د خپل يو تن قهر ما ن
قوماندان له جها د ي هلو ځلو سر ه
آشنا شي نو مې د محترم قاري صاحب
د جهادي فعاليتونو او په وسله وال
سنګر کې له د ښمن سره د مخا مخ
جګړو په باب ترې وپوښتل ؛ ده په
ځواب کې وويل :

تر اوسه پورې زموږ د مجاهدينو
او د د ښمن د قواو تر منځ په تيت
او پر کو جګړ و سر بېر ه څه نا څه
يوديرش عمده عمليات ا جرا شو ي
دي چې په دغو ټولو عملياتو کې ما
او زما مجاهدينو برخه درلوده .

د دې له پا ر ه چې د ټو لـو
عملياتو په با ب معلو ما ت بيا نو ل
موضوع ا و ږ د و ي نو د دې ټولو
عملياتو له جملې څخه زموږ وروستي
عمليات د مثال په ډول په دې توګه
بيانولای شم :

د ۱۳۶۶ کـا ل د عقرب په
۱۴ نيټه د روسا نو يو زيات شمير
عسکر له ږ..نټ څخه د يا ر ک کلای
ته راغلل ، غو ښتل ئې د مجاهدينو
د هغه کر و پ پـه مسير کـې کمين
و نيسي چې په علي خيلو کې د ير ه
وو ، د سهار د لمانځه په وخت چې

يو تن نيازي کوچي د لمانځه په نيت له خپلي کيږدۍ څخه را ووت په روسانو ئې سترگي ولگيدې (کوچيانو پروني په دې سيمه کې کيږدۍ درولي وې) دغه مسلمان کوچي په پړه پړه لمونځ اداکړ او بيا ئې مجاهدين د روسانو له راتگ څخه خبر کړل، مجاهدينو سمدلاسه يو نټ ته د روسانو د تگ په لار کې کمين ونيو، موږ له خپلو نورو مجاهدينو سره مشوره پيل کړه په نتيجه کې مو يو گروپ مجاهدين د پارک کلي ته وليږل او هغوی په ډير مهارت ځانونه کلي ته ورسول روسان چې د مجاهدينو له حرکت څخه خبر شول نو د عقب نشيني په لټه کې شول، نو د پارک د کلي په شمالي اړخ کې ټول روسي عسکر سره را غونډ شول، خو مجاهدينو له دريو خواو څخه تر اور لاندې ونيول، د روسانو له يونټ څخه هم په سيمه باندې د درندو وسلو ډزې پيل شوې، د جگړې له پيل سره د تولۍ سيمې څه ناڅه (١٤٠) تنه مجاهدين د پيښې ځای ته را ورسيدل او وريې جوخت ئې د علي خيلو کلي، شيرا کلي، نجي او علي کلا پخپل تصرف کې راوستل او له دې سره سم يو گروپ مجاهدينو د ميران کلي چې مشري ئې پخپله ما (قاري-عبداله) په غاړه درلوده او د ملا-پاينده خان په مشرۍ بل گروپ مجاهدينو ځانونه د نظر خان کلي ته ورسول، د دواړو خواو تر منځ سخته جگړه پيل شوه روسانو د خپلو محاصره شويو عسکرو د خلاصون له پاره له يونټ څخه ديرش عرادې ټانکونه د جگړې ډگر ته راوليږل د دوی کوښښ دا و چې له يوې خوا خپل محاصره شوي عسکر خلاص او له بلې خوا مړه شوي او ژوبل شوي عسکر وليږدوي، دوی د مجاهدينو سنگرونه او د سيمې کلي د درندو وسلو تر اور لاندې ونيول خو مجاهدينو وخت له لاسه ورنه کړ، د روسانو ټانکونه او پلي عسکر ئې تر خپلو دوامدارو ډزو لاندې وساتل تر څو د دښمن د عسکرو په ماتې سرشو او د تاسنگ په لار ئې مخه وکړه، مجاهدين چې د روسانو له تيښتې وروسته د دوی د قرارگاه ساحې ته ورغلل نو ټوله ساحه ئې په وينو لړلې وليده او داسې معلوميده چې زښت ډير روسان پکې مړه شوي او ژوبل شوي وي سربيره پر دې د جنگ په ميدان کې له روسانو څخه يوه پايه د مخابرې ډيره ماډرنه دستگاه، دري ميله-توغندي ويشتونکي راکټونه، يوه زياته اندازه دارو درمل، يوه زياته اندازه کارتوس چې نارنجک ډوله گوليو ته ورته دي پاتې وې چې مجاهدينو ته په لاس ورغلل، په دې عمليا تو کې مجاهدينو ته د سر او مال تاوان ونه رسيد، خو يو تن اتيا کلن سپين ږيري سلطان محمد چې غوښتل ئې مجاهدينو ته د ټوپکونو تيل ورسوي د دښمن په گولۍ وليگد او شهيد شو.

(انا لله و انا اليه راجعون)

قاري عبداله چې په ډير وياړ ئې خپلو خبرو ته دوام ورکاوه د خپلو فعاليتونو د بيانولو په اړه ئې خپله يوه وروستۍ جگړه داسې تشريح کړه:

زموږ د سيمې مجاهدينو د چارديوال او غزني ترمنځ لار د ترافيکو پر مخ لږ تر لږه درې مياشتې وتړله تر څو په دې توگه په بند سر دې او چارديوال کې ميشته روسان او د دوی مزدوران له اقتصادي محاصرې سره مخامخ کړي، په پای کې روسان مجبور شول د لارې د امنيت په خاطر په نظر خان کلا کې يوه پوسته جوړه کړي تر څو په دې توگه وکړای شي خپلو محاصره شويو لښکرو ته خوراکي مواد او مهمات ورسوي.

د عقرب په يو لسمه نيټه د سهار په شپږو بجو له غزني او د روسانو د يو نټ څخه لږ تره سل عرادې ټانکونه او نقليه وسايط راورسيدل، په لومړي قدم کې يې د ورزو کلي

او شاګل خيل دامنيت له پاره ونيول
له هغه ځای نه نظر خان کلا ته را
تير شول . د نجب‌الدين په مينه‌کی
يی يو اوبوس توپ ځای په ځای کړ
ټانکونه او پياده عسکريی دنظرخان
کلا ته ننوتل ، له هغه ځايه دسيني
دليلي او نو رو سيمو د کنترول په
غرض‌مخ په وړاندې تير شول ، خو
زموږ مجاهدينو دوه منظم ګروپو له
د هغوی د مقابلې له پاره وګمارل ،
دحق او باطل د قوتو لو تر منځ
سخته جګړه پيل شوه چی په لومړي
قدم کی ددښمن يو ټانک تخريب
او قرارګاه يی تر درندو ډزو لاندې
ونيول شوه ، مجاهدينو دنظر خان د
کلا زياته برخه ونيوه اودنجب‌الدين
د کلا په لور مخ په وړاندې ولاړل
همدا رنګه د سيني په کلی کی هم
روسان د مجاهدينو تر پولادي‌ګوزا-
رونو لاندې راغلل ، په شاګل خيلو
کی هم د مجا هدينو ګوزارونه پيل
شول او په دې توګه دروسانو قوت
په دريو برخو وويشل شو چی په هره
برخه کی دمجاهدينو ميړنی مقاومت
او پولادی ګوزارو نه روان وو ، په
داسی حال کی چی دحق او باطل د
قوتونو تر منځ په خورا شد ت سره
جګړ ه روا نه وه زه له خپل يو تن
مجاهد صاحب جان سره پخپل موټر
سايکل د پيښې ځای ته ور سيدم د
مجاهدينو په عملياتي ساحو وګرزيدم
او سيمه مې ترخپلې څار لی لاندې
ونيوه ، خو د هليکوپټرود راکټ په
توغوندي زما د سپرلۍ موټرسايکل
ولګيد ، موټر سايکل اور وا خيست
له ما سره سپور مجاهد صا حب جان
سخت زخمی شو او زما د ښي لاس
ګوتي و سوزيدې ، په دی جګړه کی
ددښمن څلور عرادې ټانکونه اودرې
عرادې د مهما تو او عملی مو تر
تخر يت او يو ز يات شمېر عسکر
ووژل شول په مقا بل کی زموږ د
جبهی منشی د غزني د ولايت دپو-
هني ، پښوالي لوی مدير محمد غنی
خير زاده په شهادت ورسيد او د يو
تن اووه کلن ماشوم په ګډون دری
تنه مجاهدين زخميان شول ، په پای
کی د ښمن ماتې و خوړه او برې د
حق د لا رې د سر ښند و نکو په
برخه شو .

له محترم قوماندان صاحب نه زما
وروستۍ پوښتنه د جهاد دسنګر د يو
وتلی قوماندان په توګه داوه چی‌که
مجا هد ملت ته کوم پيغام لري نو
کولای شي د مجاذ د درندې مجلي
له لارې يی ورته ورسوي :

ده دشکر يی د اداکولو و روسته
وويل : دافغانستان مسلمان ، مجاهد
او اتل ملت ته د يو خد متګار په
توګه زما پيغام دادی چی پخپل ټول
قوت خپل ا سلا می جهاد ته دوام
ورکړي ، دمقدس جهاد مقدس سنګر-
ورنه لاټينګ او پياوړي کړی، پخپل
منځ کی نظم اودسپلين مراعات کړي ،
پخپلو کی خپل منځي ا ختلا فا ت
هيرېدي او خپل ټول قوت د دښمن
د سيسو ، شيطا نيو او نير لګو نوته
متوجه کړي ، پخپلو ليکو کی دخاد
ايجنټانو ته درخنی دپيدا کولوموقع
ورنه کړي او د جهاد سنګرونه لکه
څنګه چی ا سلام او وطن غو ښتنه
کوي ګرم او تاوده وساتي ، زه باور
لرم چی دښمن د تيښتې په حال کی
دی انشاء الله‌بری د مجاهد ملت په
برخه دي ، نو موږ ته لاز مه ده‌چی
خپلی تګلاحپلی پراخی کړو او دبري
تر پراوه پورې خپلی هلی ځلی جاري
وساتو .

زخمي زخمي يم پروت په بستر يم
ټوټې ټوټې يم په هر پرهر يم
ددين له غمه دقـام په ويـر کې
سوري دوستانو دزړه په سر يم
غزوال

ليکونکی : نويم

د جدی شپږمه او د روسانو رسوائی

کله چې په افغانستان کې روسي مزدورانو يعنې خلقيانو او پرچميانو د قدرت واگې تر لاسه کړې د هغه وخت نه را پدې خوا ددې اسلامي ملک دتباهۍ او بربادۍ شپې ورځې پيل شوې هغه دا چې د ۱۳۵۷ کال د ثور د اوومې نيټې د کودتاپه ترڅ کې چې کله روسي غلامان رامينځ ته شول په ابتداء کې خو يې پداسې تبليغاتو پيل وکړ چې گواکې واقعاً دافغانستان د خلکو دارمانونو دپوره کولو لپاره هلې ځلې کوي . دوی دبزگرانو او کارگرانو دنومونو په اوچتولو سره ځانونه ددې طبقو ملاتړ ښودل او تل ئې غريبو خلکو ته دکور ، کاليو او ډوډۍ دبرابرولو وعدې ورکولې دارنگه او ددې په شان په سل گونو نورې ويناوې چه وکولای شي زموږ مسلمان ولس پرې و غولوي د دوی ور ځنې ډنډورې وې خو د دوی اصلي څيره زموږ د مسلمانو او متدينو خلکو نه پټه نه وه زموږ خلکو دوی له پخوانه پيژندل او ځرنگه چې وو هماغسې په خپل اصلي رنگ دعمل ميدان ته راووتل ځوی د خپل ناولي کمونستي دريځ په وجه مجبور وو چې داسلام دپاک او سپيڅلي دين په تخريب لاس پورې کړي ځکه ددوی مشرانو ډير پخوا دين ته دتږ لنې دافيونو خطاب کاوه د دغې ناولي فلسفي په بنا ئی په يو ډول او بل ډول د خپل قدرت په لومړيو شپو ورځو کې خپل اسلامي ضد اعمال پيل کړل دټولو نه مخکې ئې د ديني علماؤ په توهينولو ، نيولو بنديانولو او بالاخره وژلو لاس پورې کړزيات شمير ديني علما او نور هغه کسان چې ددوی داسلامي ضد حرکتونو مخالف وويا په جيلونو کې واچول او يا ئې په ډيره بې رحمۍ سره په شهادت ورسول خو ورو ورو زموږ د مجاهد ولس هلې ځلې گړندی شوی او په هر ځای کې يې د دوی پرضد مسلحانه عمليات تر سره کړل تر څو بالاخره داسې مرحلې ته ورسيدل چه نژدې و دغه اسلامي حرکت د روسي مزدورانو په پيغې له منځه تللو سره برې ته ورسيږي روسانو يا دهغوی بادارانو چې کله موضوع درک کړه په ډيره بې شرمۍ سره ئې دافغانستان په پاکه خاوره د ۱۳۵۸ کال دجدی په شپږمه نيټه بريد تيری وکړاو خپل يو مشهور غلام يعنی ببرک ئی په اصطلاح دقدرت په کرسي کيناوه او پدې ډول ئی خپل گوډاگيان دنابودۍ څخه بچ کړل دوی داهم انگيرلی وه چې ډير ژر به دخپلو څه د پاسه (۱۲۰.) زرو عسکرو په مرسته زموږ دمسلمان ولس اسلامي پاڅون ته چې دپاکې او اسلامي عقيدې په روحيه پيل شوی دی خاتمه ورکړي په دی اساس ئی په ملک کې دهيڅ راز وحشي گريو نه ډډه ونه کړه د خلکو د ډله يزې وژنې نه واخله د کورونو تر ورانولو ، د ماشومانو تر وژلو او حتی دنباتاتو په تخريبولو ئی هم صرفه ونه کړه دکور ، کاليو اوډوډۍ شعار ئی دکورونو په ورانولو لوټولو او حاصلاتو په سوزولو بدل شو . دبين المللي موازينو پرخلاف ئی دزهرجنو وسلواو دلوبو دآلوپه شکل د ماينونوپه استعمال سره په زرگونو ماشومال او يې د فاع خلک شهيدان اويا معيوب کړل .

خوددی ټولو غير انساني اعمالو سربيره ئی نه يوازې زموږ جهاد ته صدمه ونه رسوله بلکې جهاد نورهم منظم او پياوړی شو او په هرځای کې

روسی تیری کونکی لښکرې له ماتی سره مامخ شوي په زرګونو عسکرئی دتباهی کندی ته وسپارل شول او په زرګونو لورئی دمجاهدینو دبریا ـ لیو بریدونو په سبب د مرګ انتظار باسی . په بین‌المللی سطحه کی ئي هم خپل پخوانی سیاسی او پوځی پرستیژ له‌لاسه ورکړ او د دوی نه ماتیدونکی قوت په افغانستان کې‌له پوره ما تی او شکست سره مخا مخ شو او دنړیوالو هغه فکر چه روسان ئی دمحکومو ولسونو خوا خوږی او ملاتړ بلل هم نن ړ دوی په مقابل کی برعکس دی .

خوروسانوچه په داخلی اوبین‌المللی سطحه ځان له ما تی سره مخا مخ ولید نو ئی په رنګارنګ نیرنګونو لاس پوری کړ کله ئی دپلاروطنی جبهی نوم اخیست او کله یا دادی د تش په نامه ملی روغی جوړی او ائتلافی حکومت ډنډوری غږوی او غواړی خپل هغه هدف ته چه د زور اوتشددله لاری‌ئی ځان ونشورسولای پدی ډول ورته ځان ورسوی اوزموږ خلک اغفال کړی خولکه څرنګه‌چه دجدی دشپږمی نیتی دپی شر مانه مداخلی ئی درمته محاسبه نه وه‌کړې او پدی حرکت ئی دخپلی کامیابی اوخوشحالی پرځای دخپلی‌ناکامی ، رسوائی او تباهی نیته وټاکله او د هغې نیتی راهیسی ئی دخپل جهاني

وقار په بایللو سره د خپل زوال لاره برابره کړه دارنګه به ددوی دهغه‌نوی دسیسی او طوطئی هم زموږ دمجاهد ملت لخوا رسوا او شنډ ی شی او زموږمسلمان ولس به دبری ترورروستي سرحده پوری خپلو جهادی هلو ځلو ته ادا مه ورکړی . انشاالله

په پاکستان کی د روسانو په لمسون د بمونو په انفجاراتو سخت احتجاج وشو

دپاکستا له ۲۰۰۰ تنو څخه زیاتو پوهانو ، ادیبانو او لیکوالانو دروس سفارتخانی ته‌یو احتجاج لیک وړاندی کړ

دروان کال دجدی په ۱۲ نیته د پاکستان له دوو زرو څخه زیا تو پو ها نو ، اد یبانو ، لیکوالانو ، او نورو بار سوخه خلکو په اسلام آباد کی دروس سفارت ته یو احتجاج‌لیک وړاندې کړ ؛ چی په هغه کی لیکل شوی وو چی دروس حکومت دې‌نور دپاکستان بیګناه عوام دهغو چاودنو په وا سطه چی د خپلو ا یجنټا نو په واسطه یې تر سره کوي له وژلې .

په اول کی د د هه احتجاج لیک دلاخستلو څخه دروس سفارت مؤظفینو انکار وکړ خو وروسته له لسو دقیقو څخه یی و ا خیست . د غه لیک د «میډیا فورم» لخوا سفارت ته‌وړاندې شو چی مشري یی دنسیم حجازی په غاړه ده .

کومو کسالو چی په د غه پر یکړه باندې لاس لیک کړی وو نو‌مو نه یی په دې ډول دي :

نا متو لیکوا ل او ژور نا لیست بشیر قر یشی ، پروفیسر محمد سلیم د نوائی و قت له و رځپا نی څخه محمد عیسی خان دلاهور د « مشرق» له ورځپانی څخه ، عبدالکریم عابدد جسارت له ورځپانی څخه ،عطاالرحمن د «فری‌لانسر» څخه ، صدر رؤف طاهر د لاهور د « میډ یا فورم» څخه ضمیر- جعفری ، سمندر خان ، قلند ر مو مند اجمل نیازی ، سلطان صا بر . ملک محمد رمضان ، شاعره بسمل صا بری شمع خالد ، سیده حنا،ثریا سوز،ډاکتر جمیل جالبی ، ډاکتر شا عر اود سند دعبرت دورځپانی مد یر ، کی ، ایم کهو کر په احتجا ج لیک کی په وفاتی صدر اود ملک په نورو‌ښارونو کی دبمونو د چاودنو اوپه هغه کی ددیر ځانی اومالی تاوان درسیدو په هکله خفګان ښکاره شوی و .

داهم و یل شوی وو چی د یو ابر قدرت پداسی فجیع کار کی ککړیدل بده خبره ده او ژر تر ژر دې روسی حا کمانو له دغه‌کار څخه لاس‌واخلی .

عملیات برق‌آسای مجاهدین بالای قلب شهر کابل و نقاط
عمدهٔ تاسیسات نظامی دشمن

مجاهدین دلیر و سربکف محاذملی اسلامی افغانستان تحت قوماندهٔ تورن جنرال عبدالرحیم وردگ به تاریخ ۱۶ دسمبر ۱۹۸۷ بالای به اصطلاح قصر ریاست جمهوری تأسیسات حکومتی ، بالاحصار ، خورد کابل ،برق حرارتی ، خاک جبار و سروبی عملیات وسیع و برق آسا انجام دادند که به اثر آن قوای متجاوز روسی و تأسیسات حکومت دست نشاندهٔ آن خسارات زیاد مالی وجانی را متحمل گردید.

هدف ازین عملیات این بود که مجاهدین میخواستند که دشمن را در قلب شهر کابل بکوبد و تاسیسات برق آبی و حرارتی وپایه های انتقال انرژی برق را د ر منطقه سروبی خاک‌جبار ، وشهر کابل تخریب‌نماید.

این عملیات وقتی صورت گرفت که مجاهدین شهر خوست را در محاصرهٔ شدید خود قرار داده بود و قوای بزرگ زمینی و هوائی دشمن که با سلاح های مخرب و تباه کننده مجهز بوده فشار خود را درکوتل ستوکندو و منطقه جدران بالای مجاهدین زیاد میساختند .

هدف دیگر عملیات متذکره این بوده که مجاهدین خواستند خود را در شرایط دشوار زمستانی و دریک جبههٔ وسیع که دارای حملات چندجانبه باشد ، مورد آزمایش قرار دهند تا قابلیت محاربوی شان بلند ترگردد .

این عملیات در سه مرحله صورت گرفت که راپور مفصل آن جهت مطالعه خوانندگان محترم تقدیم میگردد :

مرحله اول عملیات :

به‌روزچهارشنبه ۱۶ دسمبر ۱۹۸۷ ساعت ۵و بعد ازظهر مجاهدین محاذ ملی اسلامی افغانستان بر پوسته ها و مراکزامنیتی پایه ها ی برق که در بین سروبی و گزک که به فاصله ۲۵ کیلو متر در شرق کابل قرار دارندو به طول ٤ کیلومتر تمدید شده‌اند حمله‌نمودند .

مرا کز و پو سته ها ی آتی‌دشمن که یا شدید خساره مند و یا بکلی تخریب شده اند و یا توسط مجاهدین اشغال شده اند قرار ذیل است .

از شرق به غرب :

۱ مرکز روسها در زیگی

۲ : - پوسته گنده خساری

۳ : - پوسته پاریک آب

٤ : - پوسته اوش لاره

٥ : مرکز مورچل

٦ : - مرکز دانگی

٧ : - پوسته ولی

٨ : - مرکز سپینه تانه

٩ : - پوسته کانتینر

۱۰ : -پوسته امنیتی بندوبرق‌ماهیپر

۱۱ : - پوسته حوض (روسها)

۱۲ پو سته نعیا نک

۱۳ : پوسته ملا عمر

۱٤ : - قرار گاه چوکی

۱۵ : - پوسته پسونگی

۱٦ :-پوسته کمرچین(پوسته ۱، ۲، ۳.

۱۷ مرکز سرخ کوتل .

۱۸ : - پوسته چناری .

درجریان‌عملیات یک‌توپ(76 م م) یک دستگاه (BM 21) و درحدود 23 عراده تانگ و دیگر وسایط محاربوی دشمن تخریب گردیده اند .

تأسیسات نظامی دشمن در مراکز سروبی نیز تحت اصابت مرمی های مجاهدین قرار گرفت .نظر به‌حجم‌زیاد ماین های فرش شده . مجاهدین قادر شدند تا صرف یازده پایه برق را تخریب و نه پایه دیگر را خساره‌مند سازند .

به اثر این عملیات برق شهر کابل از طریق نغلو و سروبی قطع گردید.

در اثنای جنگ مجاهدین تحت قوماندہ محمد علم و ظاهر خان موفق شدند تا خطوط دفاعی دشمن را در حصه سپینه تانه بشکنانند و بعد از اشغال پوسته امنیتی در بالای کوه ماهیپر بطرف ستیشن برق ماهیپر پیشر- وی نمایند و ستیشن مذکور را توسط راکتهای (R p G 7) و (R R 82) از فاصلهٔ نزدیک تحت حمله بگیرند و نتیجتاً ستیشن برق ماهیپر آتش گرفت عملیات الی ساعت ۱۱ شب تاریخ 16 دسمبر دوام نمود.

به تاریخ ۱۶ و ۱۷ دسمبر مجاهدین محاذ ملی اسلامی افغانستان تحت قوماندانی جگرن خان محمد بالای بند برق نغلو لوای ۱۵ زرهدار روسها در پلچرخی و تعمیر پخش امواج متوسط رادیو را مورد حمله قرار دادند که اندازهٔ تلفات آنها تاکنون نرسیده است.

مرحله دوم عملیات.

در شام شب ۱۷ دسمبر ۱۹۸۷ پنجصد نفر مجا هد ین محا ذ ملی اسلا می افغا نستا ن تحت قوما نده شخص داکتر شارخ بعد از اشغال پوسته های دشمن در خاک جبار و خورد کابل حلقه های امنیتی نمبر ۱ و ۲ کابل را شکستانده و به کوه اتل غر پیشروی نمودند.

به ساعت دو ۱۸ د سمبر بعد از تقرب به فاصله که مرکز شهر تحت تأثیر قوای توپچی قرار گرفته مجاهدین صد فیر راکت (۱۲۲ م م) رابالای قصر ریاست جمهوری تعمیرات حکومتی چهار اطراف آن بالاحصار و استیشن برق حرارتی در هودخیل فیر نمودند. البته راهور تلفات تاکنون مواصلت نورزیده.

قابل یاد آوری است که مرکز شهر کابل هیچگاه تحت همچو حمله راکت های (۱۲۲ م م) نیامده بود

مرحله سوم عملیات:

ساعت دو بعد از ظهر تاریخ ۱۹۸۷ مجاهدین محاذ ملی اسلامی افغانستان تحت قوماندہ داکتر شارخ گران یک عملیات شدیدی را بالای پوسته های خاک جبار و خورد کابل بعمل آورد و عملیات الی ساعت هفت شام همان روز ادامه نمود.

به اثر این عملیات پوسته های آتی دشمن شدیداً خساره مند، تخریب اشغال و یامتروک شده اند.

۱: - مرکز خروتی

۲: - پوسته شومانزی

۳: - پوسته های نمبر ۱، ۲، ۳ و ۴ سری دری.

۴: - پوسته کافر قلعه.

۵: - پوسته دوران خیل

۶: - پوسته بند غازی.

۷: - پوسته عینک.

مجاهدین به‌ترهغی خپل سنگرونه پرینږدی څو روسان بی قید اوشرطه و نه وزي.

وَاعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ...

بیاموزید واستعمال کنید

تهیه : تورن قسمتبان شاه

برادران گرامی ومجاهدین راه اسلام ازینکه دربرابر وسایط هوائي دشمن هوشیار وبرحزا باشید اینک جهت معلومات بیشتر تان میپردازیم به وسایط هوائی دشمن :

وسایط هوائي طرف استعمال دشمن در افغانستان

وسایط هوائی که ازطرف دشمن وروسهای حیوان‌صفت در افغانستان مورد استعمال قرار دارد عبارت است از :

- طیارات
- هلیکوپترها
- راکت ها
- اقمار مصنوعی
- بالونها

درین شماره‌صرف در قسمت‌طیارات برای خواننده گان گرامی معلومات داده میشود .

طیارات دشمن و وظایف شان :

طیارات دشمن بصورت عموم به‌دو گروپ جدا میگردد:

(١) طیارات محاربوی .

(٢) طیارات ترانسپورتی

طیارات محاربوی

طیارات محاربوی قرار ذیل تصنیف میشود :

(الف) طیارات شکاری.

(ب) طیارات شکاری بمبارد .

(ج) طیارت بمبارد .

(د) طیارات کشف

طیارات شکاری

طیارات شکاری ازنگاه، خواص واوصاف بدونوع‌میباشد

(١) طیارات شکاری میگ (٢١) ومیگ (٢٥)

(٢)طیارات شکاری میگ ١٧)

طیارات شکاری میگ(٢١)ومیگ(٢٥).

این‌نوع عبارت از طیارات جت است که دارای‌یکنفر عملهٔ پرواز (پیلوت طیاره) میباشد ، مدت پروازآن به یک پر کاری مو اد سوخت (٣٠ / ١)ساعت میباشد . اما نظر به ضرورت میتواند الی مدت (٥٠/١)ساعت پرواز نما ید . این طیارات دارای دو انجمن میباشد .

نوع سلاح آن عبارت از :

(٢) میل ماشیندار

(٢) عدد بم (٥٠٠)کیلو گرام

(٤) عدد را کت رهبری شده

(٦٤) عدد راکت غیر رهبری شده

سرعت این طیاره از (٦٠٠ الی ٩٠٠کیلو متر) فی ساعت میباشد .

(به اشکال ذیل توجه کنید)



طیارات شکاری میگ (۱۷).

عبارت از طیارهٔ جت است که دارای یکنفر عملهٔ پر واز (پیلوت) بوده ومدت پروازان بایک پر کاری مواد سوخت‌ان(۱/۳۰)ساعت میبا شد ولی نظر به ایجابات وظایف‌میتواند تا مدت (۱/۵۰) ساعت پرواز نماید .

دارای دو انجمن میباشد ، سلاح آن عبارت از :

(۲) میل ماشیندار .

(۶۴) عدد راکت های غیر رهبری شده .

سرعت این طیاره الی (۶۰۰) کیلومتر فی‌ساعت میبا شد .

به شکل ذیل توجه نمائید



وظایف طیارات شکاری

(الف) روسها طیارات شکاری رابه مقصد دفع وطرد در برادر طیارات بمبارد طرف مقابل استعمال می نمایند.

وظیفهٔ آن عبارت از : مدافعهٔ خطوط مواصلاتی مرا کز سیاسی ، بند ها ، مراکز برق ، تأ سیسات نظامی ، شهرها وغیره میباشد .

در مقابل بمبارد طیارات. دشمن میباشد یعنی وظایف اساسی طیارات مذ کور دفع وطرد ا هداف هوائی‌میباشد

(ب) نظر به‌لزوم دید طیارات شکاری میتوانداهداف وتاسیسات طرف مقابل رادر عمق مملکت بمباری‌نماید

طیارات شکاری بمبارد

طیارات شکاری بمبارد دارای اقسام مختلف بوده اما در حال حاضر در افغا نستان روسها از دو نوع آن استفاده مینمایند .

(۱) طیا رات شکاری بمبارد نوع سو (SU-7) .

(۲) طیارات شکاری بمباردنوع سو ۲۲ (SU -22)

این نوع طیارات عبارت از طیارات جت است که دارای یکنفر عملهٔ پر واز (پیلوت) میباشد .

مدت پرواز آن بایک پر کاری مواد سوخت(۱/۳۰)

ساعت بوده ولی نظر به ضرورت الی مدت (۱/۵۰) ساعت پرواز مینماید ، دارای دو انجن میباشد، نوع سلاح آن عبارت است از :

(۲) عدد توپ (۲۰) ملی متری

(۴) عدد بم (۱۵۰۰) کیلو گرام

(۴) عدد راکت رهبری شده

(۶۴) عدد راکت غیررهبری شده

کیفیت و کمیت سلاح طیارات شکاری بمبارد (SU-7) و (SU - 22) یکسان بوده، تنها طیارات (SU - 22) نظر به طیارات (SU-7) مودرن تر بوده یعنی دارای سرعت بیشتر وشعاع مانور (شعاع گردش) بهتر میباشند .

وظایف طیارات مذکور •

شکار نمودن طیارات و راکت های دشمن درانثنای تعرض سرحدی وهم ازبین بردن اهداف زمینی میباشد یعنی این طیارات قابلیت دفع وطرد حملات هوائی رادارابوده و قابلیت بمبارد راهم دارامیباشد یعنی هردو وظایف فوق الذکر عبارت از وظایف اساسی آن میباشد سرعت طیارات (SU- 7) تا ۹۰۰ کیلو متر فی ساعت و سرعت طیارات (SU-22) از ۹۰۰ الی ۱۲۰۰ کیلومتر فی ساعت میباشد

(به اشکال ذیل توجه نماید)





طیارات بمبارد •

نوع طیارات بمبارد که روسهاازآن دربرابر مجاهدین استفاده میکنند عبارت انداز نوع طیارات متوسط (ال-۲۸) که دارای سه نفر عملهٔ پرواز (یکنفر پیلوت ، یکنفر رادست و یکنفر کشاف) میباشد .

پیلوت طیاره راسوق واداره مینماید .

کشاف استقامت پرواز را برای پیلوت نشان میدهد یعنی نقشه های مقیاس مختلف نزد کشاف موجود میباشد ، استقامت پرواز(کورس پرواز) رابه پیلوت نشان میدهد یعنی انواع ابر ها، ارتفاع ابر ها و امکانات با رنده گی را به پیلوت تعین و تثبیت مینماید و همچنان زاویهٔ انداخت بمباری رابه پیلوت نشان داده و بمباری از طرف کشاف صورت میگیرد .

وظیفهٔ رادست تأمین نمودن ارتباط مخابره به میدان های هوائی میباشد ، یعنی ارتباط را بین طیاره وقوما-ندانیکه هدایت لازمه رااز زمین میدهد تأمین مینماید .

طیارات بمبارد دارای سلاح ذیل میباشد :

(۸) عدد بم (۱۵۰۰) کیلوگرامه ویا معادل وزن آن بم های ۵۰۰ کیلو گرامه

(۲) میل توپ ۲۰ ملی متری

مدت پرواز آن (۱/۳۰ ساعت امانظر به ضرورت

میتواند تامدت (۱/۵۰) ساعت در هوا باشد

(به شکل ذیل توجه فرمائید)



طیارات کشف :

طیارات کشف عبارت اند از :

(۱) ـ طیارت شکاری میگ (21) که از (10000) مترالی (25000) متر ارتفاع گرفته میتواند .

(۲) ـ طیارات شکاری میگ (17) که از (10000) مترالی (18000) متر ارتفاع گرفته میتواند ..

(۳) ـ طیارات شکاری بمبارد (سو 7) وسو (22) که آنها نیز از (10000) متر الی (25000) متر ارتفاع گرفته میتواند .

هوا سطهٔ آلات مخصوص الکتر و نیکی مجهز میباشند ، وظایف این طیارات عبارت از کشف نمودن وضع جوی (سمت باد ، درجهٔ حرارت ، ضخا مت طبقهٔ ابر) و کشف نمودن اهداف هوا ئی و ز مینی دشمن میباشد .

به پیلوت های این طیارات درافغانسیان هدایت داده اند که در آثنای پروازهای محاربوی به ارتفاعات بلند پرواز نمایند تا از تا ثیرات وسایط ضد هوا ئی مجاهدین در امان باشند .

طیارات محاربوی بصورت عموم ازطرف کشاف زمینی سوق واداره میشوند ، کشاف زمینی در محل قومانده در میدان هوا ئی قرار دا شته ، طیارات خود وطیارات دشمن را در پردهٔ اندیکاتور (رادار) ملاحظه مینماید وتوسط د ستگاه مخابره نصب در طیاره هدایات لازمه رابه پیلوت میدهد .

اهداف زمینی را در روی نقشه تثبیت نموده در وقت وزمانش هدایات لازمه را در حصهٔ اهداف زمینی به پیلوت ها وکشا فان داده میشوند .

در طیارات بمبارد آلات بمبارد مانند : دور بین و آلات مخصوصه الکترونیکی موجود میبا شد . ولی در طیارات شکاری چنین آلات وجود ندارد . تنها اهداف را کشاف زمینی در روی نقشه تثبیب نمو ده واز زمین به پیلوت قوماندهٔ انداخت داده میشود .

شهداء الحق

چې دموږ دنره په تېوته خاوروته دروسي
دا په دين او په وطن مين د چا دي

شهيد ورور حضرت عمر دنظيرخان
زوی د پکتيکا ولايت د خير کوټ د
ولسوالۍ اوسيدونکی ؤ.
نو موړی يو تکړه مجاهد او په
زياتو برياليو عملياتو کې يې ګډون
کړی ؤ تر څو چې هغه يې ځان په لار کې.

د ۱۳۲۶ کال دقوس په (۱۸) نيټه
د روسي غلا ما نو سره د جګړی په
وخت کې په شهادت ورسيد.
انالله و انا اليه راجعون

شهيد ورور محمد داؤد د حاجی
محمد حکيم خان زوی په قوم منګل
دپکتيا ولايت دسيد کرم دولسوالۍ
او سيدونکی ؤ. دغه پياوړی مجاهد
تر ډيرو بريا ليو عملياتو وروسته

په داسې حال کې چې د دښمن ته يې
ځانی او مالي تاوانونه ور واړول
په ۱۴/۷/۶۶ نيټه د ميرزکی په
سيمه کې دملحدينو سره د يوې جګړې
په ترڅ کې په شهادت ورسيد.
انا لله وانا اليه راجعون

شهيد ورو کتل خان د رحم خان
زوی په قوم منګل د پکتيا ولايت د

سيد کرم دولسوالۍ اوسيدونکی يو
د هغو تکړه مجاهدينو څخه ؤ چې
چې دحق او باطل تر منځ په جګړه
کې په دښمن باندې خپله خواسره کړه
او پدې حق لار کې دميرزکی په سيمه کې
پر د ښمن باندې د عملياتو په ترڅ
کې په ۱۴/۷/۶۶ نيټه خپل ځان
قربان او د شهادت جام يې نوش کړ.
انا لله وانا اليه راجعون

برادر شهيد اختر محمد فرزند
عبدالرحمن با شنده ای قريهٔ د هنو
لشکر خيل مربوط ولسوالی محمدآغه
ولايت لوګر بود. نامبرده يک تن از
قهرمانان راه حق بوده وهميشه با
اساس مفکوره اسلامی خويش در راه



نبرد حق علیه باطل مردانه واررزمید
ودرین راه مقدس بعد ازکسب پیروزی
های زیاد طی یک عملیاتی بالای دشمن
بهاثر انفلاق ماین بتاریخ ۶۶/۷/۱۳
به درجه رفیع شهادت نائل گردید .
اناالله وانا الیه راجعون

برادر شهید عبدالملک فرزند محمدعمر
باشندهٔ قریه د هنو مربوط ولسوالی
محمد آغه ولایت لوگر ازجملهٔ آنعده
مبارزین راه حق بوده که بانیروی ایمان

وعقیده خویش همیشه فاتح سنگر بوده
ودر راه اعلای کلمة الله از هر گونه
سعی وتلاش دریغ نه ورزید تا آنکه
دریکی ازنبرد های رویاروی بادشمن
به اثر انفلاق ماین بتاریخ ۶۶/۷/۱۳ .
به مقام والای شهادت نائل گردید .
اناالله وانا الیه راجعون

شهید وروړ آدم خان د موسی گل
زوی دپکتیاولایت دگردیزاوسیدونکی
و . نوموړی په دین او وطن مین
داسی تکړه مجاهد و چا چه دروسی
مزدورانو سره په ډیرو بریالیو بریدونو
کی برخه درلوده دغه قهرمان مجاهد

په ۶۶/۹/۱۳ نیټه دځدرانو په سیمه
کی ددښمن سره په یوه مخامخ جگړه
دشهادت خوږ جام نوش کړ .
اناالله وانا الیه را جعون

شهیدوروړ زاگل د اسحق خان زوی د
پکتیا ولایت د آرگون د ولسوالی
اوسیدونکی و. نوموړی یو تکړه مسلمان
اودښی عقیدی څښتن مجاهد و دغه
قهرمان د ماجدینو لخوا په ۶۶/۷/۱
نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .
اناالله وانا الیه راجعون

شهید وروړ خان د اکرم خان
زوی د پکتیا ولایت د خاځیو د
ولسوالی اوسیدونکی د حق د سنگر
یو تکړه مجاهد و او پدی لار کی ئی



نه ستړی کیدونکی هلی ځلی وکړی
څو چه په ۶۶/۶/۲۲ نیټه دملحدینو
د وحشیانه بمبارۍ په اثر په شهادت
ورسید .
(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید وروړ حبیب الله داعظم -
خان زوی په قوم نیازی د میدان
ولایت اوسیدونکی یو تکړه مجاهد
و په جهاد کی ئی په ډیره سپړانه
برخه درلوده او خپل ځان ئی د حق
په لاره کی قربان او د ۱۳۶۶ کال



د میزان په میاشت کی ئی د شهادت
جام نوش کړ .
(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید وروړ خان وزیر د وزیر
زوی په قوم نیازی د میدان ولایت

اوسیدونکی ؤ دغه قهرمان د جهاد
سره په مینه لرلو خپل ځان د خپلی پاکی
عقیدی او وطن په لاره کی د ۱۳۶۶
کال د میزان په میاشت کی قربان
او د شهادت جام ئی پورته کړ .
انا لله و انا الیه راجعون)

شهید وروړ ملک دین د نظام ـ
الدین زوی په قوم نیازی د میدان
ولایت اوسیدونکی ؤ. دغه قهرمان
په جهاد کی زیاتی هلی ځلی وکړی

او تل د خپلی میرانی په ښودلو سره
د سنگر یو فاتح مجاهد ؤ. نوموړی
۱۳۶۶ کال د میزان په میاشت

کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .
(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید وروړ قوماندان بهار شاه
د حاجی پیر محمد خان زوی په قوم
وتوخیل د پکتیکا ولایت د خیر کوټ
د ولسوالی اوسیدونکی یو تکړه او
قهرمان مجاهد ؤ. نوموړی د جهاد
له پیل څخه په نه ستړی کیدونکو
هلو ځلو سره د دښمن په مقابل کی
بریالی عملیات تر سره کړل. قوماندان
بهار شاه د ټینگ عزم خاوند هغسی



چا کی چه د کلمة الله د اچتولو او
د وطن د آزادی په خاطر په نه
ستړی کیدونکی ډول په جهاد بوخت
ؤ په ۱/۱۰/۶۶ نیټه د روسانو د
وحشیانه بمبارئ په نتیجه کی د
شهادت لوړ مقام ته ورسید.
(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید وروړ عبدالعزیز د شالوخان
زوی په قوم خاځی دپکتیا ولایت د
علی خیلو دولسوالی اوسیدونکی یو
تکړه مجاهد ؤ. دجهاد په لارکی یی
په پوره صداقت او ایمانداری خپله

دنده تر سره کوله نوموړی بالاخره
د روسی مزدورانو سره په یوه نښته
کی په ۱۱/۴/۶۶ نیټه د شهادت
لوړ مقام ته ورسید .
اناالله واناالیه راجعون

شهید وروړ عبدالخالق د محمد ـ
عثمان زوی د پکتیا ولایت د گردیز
اوسیدونکی ؤ. دغه قهرمان مجاهد د
زیاتو جهادی هلو ځلو نه وروسته په

۱۹/۷/۶۶ نیټه دملحدینو پر پوستو
باندی دعملیاتو په ترڅ کی دشهادت
لوړ مقام ته ورسید .
اناللهوانا الیه راجعون



شهید وروړ باغ د پیر حسن زوی د
پکتیا ولایت اوسیدونکی یو پیاوړی
مجاهد و . نوموړی دروسی مزدورانو
په مقابل ډیر بریالی عملیات ترسره
کړل څو چه بالاخره د ملحد ینو د
ګورګری په قرارګاه باندی د عملیاتو
په ترځ کی په ۲۸/۷/۶۶ نیټه د
شهادت لوړمقام ته ورسید .

اناالله وانا الیه راجعون

شهید وروړ میر احمدشاه د سید -
شاه زوی دپکتیا ولایت اوسیدونکی و .
نوموړي په پوره صداقت سره جهادی
هلی ځلی ترسره کړی او په ۲۶/۷/۶۶
نیټه باندی د باک په علاقه دا ری



باندی د عملیاتو په ترځ کی د
شهادت لوړ مقام ته ورسید .

اناالله وانااليه راجعون

شهید وروړ سهیل دحاجی وری خان
زوی د پکتیا ولایت اوسیدونکی و .
نوموړی یوتکړه مجاهداو دپخی ارادی
څښتن مسلمان و . په جهادکی یی ډیری

هلی ځلی وکړی څو چه ۱۹/۷/۶۶
نیټه د ملحد ینو لخوا د سردی په
سیمه کی د سختی بمبارۍ په ترځ
کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

اناالله وانااليه را جعون



شهید وروړ قیمت خان دمیرشاه خان
زوی دپکتیا ولایت دڅاځیودولسوالی
اوسیدونکی هغه پیاوړی مجاهد و .
چاچه خپل ځان دخپل دین او وطن
په لاره کی قربان او په ۲۵/۶/۶۶
نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

اناالله وانااليه را جعون

شهید وروړ عبدالکریم د
صوفی عبداله ظهوری زوی د فاریات
ولایت د قیصار د ولسوالی د فرپری
د کلی اوسیدونکی یو تکړه او
جنګیالی مجاهد و . نوموړی د دښمن
پر ضد په زیاتو عملیاتو کی برخه
درلوده او د جهاد د سنګر دیو پیاوړی
سپاهی په توګه ئی خپله دنده په
پوره میړانه ترسره کړه څو چه د



روسی اشغالګرو سره د یوې جګړې
په ترځ کی په ۴/۶/۶۶ نیټه د
دښمن لخوا د اینبودل شویو ماینو
په ذریعهٔ د شهادت عالی مقام ته په
رسیدو ئی د دې فانی نړۍ نه سترګی
پټی کړی روح ئی دې ښاد او نوم
ئی دې یاد وي .

شهید وروړ محاذاله د حاجی -
عبداله بای زوی د فاریاب ولایت
د قیصار ولسوالی د دوآبه د کلی

اوسیدونکی ؤ .

نوموړی تر وروستی سلګی پوری د جهاد سنګر توده وساته او په زیاتو بریالیو عملیاتو کی ئی ګډون وکړ څو چه په ٦٦/٦/٤ نیټه د یوې جګړې په ترځ کی د دښمن لخوا د ایښودل شوی ماین د چاودنی په اثر د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید ورور وړکی د سلطان زوی د پکتیا ولایت د ګردیز اوسید- ونکی یو زړه‌ور او جنګیالی مجاهد ؤ او په پوره میړانه ئی د خپلی جهادی دندی په ټر سره کولو سره

په ٢٦/٧/١٧ نیټه د دښمن سره د یوې نښتې په ترځ کی د شهادت عالی درجې ته ورسید .

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید ورور سلطان د جنت خان زوی د پکتیا ولایت د څمکنو د ولسوالی اوسیدونکی ؤ

دغه قهرمان د حق او باطل ترمنځ په جګړه کی زیات بریالیتوبونه تر لاسه کړل او خپل ځان ئی په ٦/جوزا/٦٦ نیټه د شهیدانو د کاروان ملګری کړ .

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید ورور ظریف خان د عبداله خان زوی په قوم سالارزی د کنړ ولایت د اسمار د ولسوالی اوسیدونکی ؤ. دغه تکړه مجاهد د سنګر د یو باتور سپاهی په توګه تل د جهاد په سنګر کی په جهادی هلو ځلو بوخت ؤ. نوموړی په ٦٦/١٠/١١ نیټه د روسانو د وحشیانه بمبارۍ له امله د شهادت

لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید ورور محمد دین جان د علیم جان زوی په قوم سالارزی د کنړ ولایت د اسمار د ولسوالی اوسیدونکی یو قهرمان مجاهد ؤ نوموړی په جهاد کی په پوره میړانه او زړه‌ور توب سره خپله دنده تر

سره کړه او په ٦٦/٨/٢٧ نیټه د روسانو د وحشیانه بمبارۍ په اثر په شهادت ورسید .

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید ورور امین جان د عثمان جان زوی د پکتیا ولایت د

موسی خیلو د ولسوالۍ اوسیدونکی ۇ. نوموړی په پوره ایمانداری سره خپله جهادی دنده تر سره کړه او په ۱۱/۱۰/۶۶ نیته د دښمن سره د یو مخامخ جګړې په نتیجه کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید وروړ ګل پراز خان د حبیب خان زوی د پکتیا ولایت د موسی خیلو د ولسوالۍ اوسیدونکی

ۇ نوموړی د جهاد سره په مینه ارلو خپله جهادی دنده په پوره صداقت تر سره کړه او په ۷/۱۰/۶۶ نیته د روسانو د وحشیانه بمبارۍ په اثر د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید وروړ شربت خان د حبیب خان زوی د پکتیا ولایت د موسی خیلو د ولسوالۍ اوسیدونکی د یو متعهد مسلمان په توګه په جهاد کی خپلی هلی ځلی په پوره میړانه تر سره کړی او پدې توګه د روان

کال د جدی په اوومه نیته د روسانو دوحشیانه بمبارۍ په وجه په شهادت ورسید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید وروړ سلطان جان د ظاهر خان زوی د پکتیا ولایت د خاځیو د ولسوالۍ اوسیدونکی ۇ

دغه قهرمان مجاهد د زیاتو جهادی هلو ځلو نه وروسته په ۲۰/۶/۶۶ نیته د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهبد ورور مرام شاه د د رمضان زوی د پکتیا ولایت د ګردیز اوسیدونکی ۇ. نوموړی د ملحدینو د منځ ته راتګ سره سم په جهاد لاس پورې کړ او پدې لار کی ئې زیات بریالیتونه هم لاس ته راوړل خو چه په ۲۲/۷/۶٤ نیته د زرمت په جانک خیلو کی د ملحدینو سره د یوې خونړۍ جګړې په ترځ کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

(انا لله و انا الیه راجعون)

برادر شهید احمد شاه فرزند عبدالشاه باشندهٔ ولسوالی پغمان

ولایت کابل بوده. نامبرده د ر ر اه اعلای کلمة الله و ازادی کشو ر با سعی وتلاش خستگی ناپذیر به جهاد ادامه داده و درین راه مقدس بتاریخ ۶۶/۸/۱۳ جام شهادت نوشید .

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید ورور افسرد حاجی‌دولت زوی د پکتیا و لا یت د خوست د ولسوالی اوسیدونکی ؤ . نوموړی یو کلک مسلمان او د جهاد د سنگر یو تکړه مجاهد ؤ . او خپل ځان ئی د خپلی اسلامی عقیدی لپاره قربانی کړاو په ۶۶/۷/۱۸ نیته ئی د دښمن سره د یو ې سختی جگړې په نتیجه کی د شهادت خوږ جام نوش کړ .

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید و ر و ر سلطا ن د بدان زوی د پکتیا و لا یت د خوست د ولسوالی اوسیدونکی یو قهرما ن مجاهد ؤ چا چه د ر وسی مزدورانو سره د جگړې په هر ډگر کی خپله میرانه ښودلی او ډیر بریالیتونه ئی لاسته ر او ړلی دي نو موړ ی په

۶۶/۷/۱۸ نیته د دښمن سره په یوه سخته نښته کی د شهادت جام نوش کړ .

(انا لله و انا الیه راجعون)

شهید ورور کر یم شاه خان د میرباز خان زوی د پکتیا و لا یت د خوست ولسوالی د یعقوبیو علا قه ـ داری اوسیدونکی ؤ. نو م ړ ی د صبریو د قوم یو تکړه مجا هد ؤ ا و



په ډیرو بریالیو عملیاتو کی ئی برخه درلوده دغه قهرمان پداسی حال کی چه د ملحدینو د گر د ی خوا ن په پو سته ئی عملیا ت تر سره کول د روسی جټ الوتکو د وحشیانه بمبارۍ په اثر په ۶۶/۹/۱۵ نیته د شهادت

لوړ مقام ته ورسید .

(انا لله و انا الیه راجعون)



شهید ورور بت د سایر خان

زوی د پکتیکا ولایت د ا رگون د د ولسوالی اوسیدونکی ؤ. نوموړی د پاکی او اسلامی عقیدی څښتن ؤ او د جهاد په لار کی ئی ډیری هلی ځلی وکړی څوچه په ۶۶/۷/۱ نیته د ملحدینو لخوا په شهادت ورسید .

(انا لله و انا الیه راجعون)

برادر شهید بخت‌الله ولد محمدمراد باشنده علاقه داری حضرت سلطان ـ (رح) ولا یت سمنگان به تاریخ ۲۸ / ۳ / ۶۶ به قوماده ارباب‌بیگ بالای پوسته ملحدین که پوسته‌وکیل نام داشت حمله‌نمودند بعد ازرساندن

تلفات زیاد به دشمن برادر مذکور به درجه رفیع شهادت نایل گردید .

انا لله و اناالیه راجعون

چاپ مطبعه ریاست فرهنگی

مجمر و سپند

دلم صید نگاهی دردمند است
درین مجمر سرا همچون سپند است
تنم سوز دز آهی ناتــوانی
خراب گریهٔ طفل نژند است

ساحل

الا ای ساربان منزل به منزل
عنان نفس خود بربند و محمل
نوای رهسپاران شد بگوشم
که رخت خود میفگن نیست ساحل

(مسافر)